عمومي اګرانوميکي لارې چارې

د ترويج مامورينو لپاره په ساحه کې کاريدونکې لارښود کتاب

Ketabton.com

USAID | AFGHANISTAN
د امریکا دولس لخوا
Alternative Development Program—Eastern Region ADP/E

د کرنې، اوبولګولو
او مالدارۍ وزارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

AGRONOMIC PRACTICES
اګرانوميکي (د نبات او چاپيريال ترمنځ اړيکې) لارې چارې

Prepared by
USAID's Alternative Development Program – Eastern Region
ترتيب او جوړونه: دامريکا د متحده ايالتونو د نړيوالې پرمختيايي ادارې د ختيزې سيمې دمتبادل پرمختګ پروګرام

These training materials have been made possible by the generous support of the American People through the United Sates Agency for International Development (USAID). The contents of this document are the sole responsibility of the authors and do not necessarily reflect the views of USAID, The United States Government or Development Alternatives, Inc.

دا روزنيز مواد د امريکا دمتحده ايالتونو دنړيوالې پرمختيايي ادارې له لارې د امريکا دخلکو د پراخې مرستې په وسيله جوړ شوي دي . ددې کتاب د ټولو محتوياتو مسؤليت يواځې او يواځې د کتاب دليکوالانو پر غاړه دی او په هيڅ ډول د USAID، دامريکا دحکومت او د DAI د کمپنۍ د نظر څرګندوی نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سريزه

د ترويج کارکوونکي په کرنيزې ودې کې، چې په عمومي ډول پر پرمختګ او وده مستقيم اغېز لري، مهم رول لري. د ترويج کارکوونکی د بزګرانو او حکومت تر منځ داړيکو تر ټولو لمړنی پل او همدارنګه په ډېرو حالاتو کې بزګرانو ته دتخنيکي پوهې دورکړې تر ټولو عمده او مهمه مرجع ګڼل کيږي

نن سبا د توليد تکنالوژي په دوامدار ډول دپرمختګ په حال کې ده او همدا تکنالوژي په نورو هېوادونو کې بزګرانو ته دا وړتيا ورکوي چې له کمې ځمکې څخه ډېر او دښه کيفيت لرونکی حاصل ترلاسه کړي او په پای کې خپل توليدات په اغېزمنه توګه په بازار کې په لوړو بيو وپلوري. دهمدې دلايلو پر بنسټ افغان بزګران دې ته اړتيا لري چې نوموړو عصري تکنالوژۍ ته لاس رسی پيدا کړي تر څو وکولی ش ي چې د نورو هېوادونو له توليدوونکو سره سيالي وکړي. ددې لپاره چې دترويج کارکوونکي وکولی شي دغې ننګونې ته ځواب ورکړي نو بايد د تخنيکي ظرفيت او وړتيا او د خلکو سره دښواړيکو ساتلو وړتيا لرونکي اوسي او دافغانستان پرمختګ ته د زړه له تله ژمن وي

د اګرانوميکي ښوو نو او لاروچارو په ساحه کې کاريدونکی دا لارښود کتاب پر ټولو هغهو اړينو مفاهيمو مشتمل دی چې دترويج کارکوونکي ورته اړتيا لري تر څو له بزګرانو سره د حاصلاتو د اندازې او کيفيت په لوړولو او د بازارموندنې داغېزمنو حلقو جوړولو په برخه کې مرستې وکړي . دا لارښود کتاب د توليد له پلان څخه نيولې بيا تر بازارموندنې پورې ټولې موضوع ګانې روښانه کوي. همدارنګه په دې کتاب کې د خاورې د حاصلخيزۍ، اوبه خور او دنباتاتو ساتلو په هکله ارزښتناکه بحثونه موجود دي

مونږ تاسې ته بلنه درکوو چې ديوې داسې تاريخي پروژې يوه برخه شئ چې له مخې يې د افغانستان دوديز کرنيز سيستم د نوو کرنيزو لارو چارو په خپلولو او عملي کولو سره په يو عصري کرنيز سيستم بدل کړو، له بزګرانو سره مرسته وکړو چې پر بازار ولاړ اقتصاد کې برياليتوبونه ترلاسه کړي او ددې ټولو نه مهمه دا چې کرنه د يو کاروبار په ډول خپله کړي. ددې ټولو موخو ترلاسه کولو لپاره د بزګرانو او د ترويج دمامورينو ترمنځ د داسې نږدې اړيکو منځ ته راتلو ته اړتيا ده چې په کې مونږ، دترويج مامورين، د بزګرانو زړونو ته د خبرو له لارې نه، بلکه هغوی ته دعملي لارښوونو او زده کړو له لارې نږدې شو.

دا لارښود کتاب دهغو مرستو او موادو دسلسلې يوه برخه ده چې د ختيزې سيمې دمتبادل پرمختګ پروګرام په ملاتړ او مرسته چمتو شوي دي

محمد حسين صافی، د ننګرهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رېس

محمد اسمعيل دولتزی، د لغمان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ريس

الحاج محمد محصل، د کړ د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ريس

USAID
د امريکا دولس لخوا
ALTERNATIVE DEVELOPMENT PROGRAM—EASTERN REGION ADP/E

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړلیک

1. آبیاری اود فصل د اوبو تنظیم	5
1.1 سـریزه	5
2.1 د فصل د اوبو اړتیا	5
3.1 د خاوری فزیکی خواص	6
4.1 د خاوری اوبه	9
5.1 د اوبو ورکولو مهالویش	10
6.1 د اوبو ورکولو طریقې	14
7.1 د آبیاری تنظیمی اداره	16
2. د بازار لپاره د تولیداتو پلانول	19
1.2 سریزه	19
2.2 منسجمه زمینداری د پلانولو لپاره د یو چوکات به حیث	19
3. د نبات تغذی د سبزیجاتو په تولید کی	28
1.3 سریزه	28
2.3 د نبات اساسی غذایی مواد	28
3.3 د غذایی موادو نقش د نبات په ودی او انکشاف کی	28
4.3 د نبات د غذایی موادو موجودیت او د خاوری pH	30
5.3 د غذایی عناصرو کمښت	32
6.3 د غذایی موادو د کمښت علامی – د رومی بانجانو مثال	32
7.3 د غذایی مواد د کمبود د تشخیص لپاره کلي	35
4. په سرو پوهـیدل	37
1.4 سریزه :	37
2.4 د سرو دغذایی محتویاتو څرګندول	37
3.4 عضوي سـری:	38
4.4 غیر عضوی مصنوعی سری	45
5.4 د سری د تطبیق طریقی او وختونه	49
5. د نباتاتو حفاظت او ساتنه	52
1.5 هرزه بوټي	52
2.5 حشرات	53
3.5 نور ژوندي موجودات	54
4.5 ناروغی او بی نظمی	54
5.5 د مضره ژوندیو موجوداتو د کنترول لپاره کړنلاری ستراتیژی	55
6.5 د مضره موجودات وژونکی (پستیسایډ)	58
7.5 آفا ت کش پستسایډو څخه په خوندی طریقه کار اخیستل	61
6. د حاصلا تو ټولول او د ټولولو څخه وروسته یی اداره کول	62
1.6 د حاصلاتو د ټولولو څخه وروسته ضایعات کمول	62
2.6 د حاصلاتو ټولول	62
4.6 د حاصل د ټولول تخنیکونه	64
5.6 په ځمکه کی پټیو کی د فصل د مدت اصلاح	64
6.6 مینځل	65
7.6 منظمول او درجه بندی	65
8.6 په پاکټونو کی اچول	65
7. د سبزیجاتو لپاره د بزغلیو تولید	69
1.7 سـریزه	69
2.7 د ځای انتخاب	69
3.7 د ساحوی قوری تولیدات	70
4.7 د بزغلیو تولید په ګلخانو کی	72
5.7 د بوزغلیو کښېنوت	74

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. آبیاری اود فصل د اوبونی تنظیم

1.1 ســرېزه

یو سالم نبات ۸۵-۷۵ فیصده پوری د اوبو څخه تشکیل شوي وي، چه د نبات د حیاتی فعالیتونو لپاره پکاريږي لکه فوتوسنتيزيا ضيايي ترکيب ، مقاومت ، سختوالی ، غذايي او قندی موادو انتقال د نبات نورو برخو ته . کله چه بوټی په ابتدا کی په خاوره کی ځای په ځای شوی وی ، نو ډيرو اوبو ته ضرورت لري تر څو د ريشو سيستم يي ژرپه وده پيل وکړي. دا خاصتاً د ځوانو بوزغليو اوبوټو لپاره چه د انتقال وړ وی اهميت لري.

عموماً د ودی د موسم په جريان کی سبزيجات په اونی کی ۲.۵ ته تر ۵ سانتی اوبو ته د باران او يا د آبياری په شکل ضرورت لري چه دا فرق د خاوری د ډول او اقليم پوری اړه لري . په شرقی زون کی د بزگرانو لپاره مشکله ده چه ويوهيږي چه هغوی فصل ته څومره اوبه ورعلاوه کړی کله چه د چرو له لاری او يای يی د سيل يا سيلاب په شکل اوبه ورکوي . د اوبو ورکولو د تقسيم اوقات او سيستم او طريقو په باره کی ډير لږ معلومات شته. بزگران د خپلی تجربی څخه کار اخلي . يوه عمومی قاعده داده چه په يخ موسم کی ۷ - ۱۰ ورځو وروسته اوبه ورکړل شي او په گرم موسم کی دا اندازه بيا زياتيږي (هر دوه يا دری ورځی وروسته). ددی بزگرانو پتي اکثراً داسی وي يا ډير زياتی اوبه لری او يا ډير کمي چه نشی کولای د ښه کيفيت تجارتی سبزيجات توليد کړي.

ددی لپاره چه بزگرانو ته د اوبو ورکولو د موثره طريقو په هکله مشوری ورکړ ئ، پراختيايي کارکوونکی بايد د خاوری يا ځمکی – اوبو – او نبات ترمنځ په اړيکو باندی ويوهيږي. پدی فصل کی پراختيايي کارکوونکی د فصل د اوبو اړتياوو به هکله معلومات حاصلوي . د نبات د ودی د مهمو مرحلو په هکله هم معلومات حاصلوي. داچه ځنگه د ځمکی او خاوری فزيکی خواص په خاوره کی د اوبو په جريان او موجوديت باندی تاثير کوي او بالاخره وبه پوهيږي چه ځنگه د معلوماتو به رڼار کی د اوبو ورکولو په هکله تصميمونه ونيسی . هغوی به د اوبو ورکولو تخنيکونو او اداري په هکله يو څه اساسی معلومات تر لاسه کړي.



1.1 شکل: د عامو سبزيجاتو لپاره د اوبو نسبتی اړتياوی

Source: Adapted from various sources

2.1 د فصل د اوبو اړتيا

هر نبات د اعظمی ودی لپاره يو ټاکلی اندازی اوبو ته ضرورت لري . ډيری زياتی او يا هم ډير کمی اوبه د نباتاتو حاصلات او کيفيت ښکته کوي. اساسی فکتورونه چه د فصل د اوبو اړتيا وی متاثره کوي په لاندی ډول دي:

- اقليم: حرارت، باران، نسبی رطوبت او باد
- د فصل ډول: د وريجو او گنيو په شان فصلونه نظر لوبيا او غنمو ته ډيرو اوبو ته ضرورت لري\
- د فصل د ودی مرحله : په عمومی توگه هغه فصلونه چه مکمله وده يی کړی وي ډيرو اوبو ته نظر هغو ته چه يو څه مخکی کرل شوی وي، ضرورت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د اوبو د سطحې ژوروالی : هغه فصلونه چه په هغه ځمکه کی کرل شوی وي چه د ځمکی د اوبو سطحه یی لوړه وي، لږو اوبو ته ضرورت لري، نظر هغی ځمکی ته چه هلته د اوبو س طحه ټیټه وی.
- میلان: هغه فصلونه چه په مایله سطحه کرل شوی وي ډیرو اوبو ته نظرو هغو ته چه په هوار ځمکه کرل شوي وي، ضرورت لري.
- د ځمکی تخلیه: هغه خاوری یا ځمکه چه شه زهکشی لري نسبتاً ډیرو اوبو ته ضرورت لري نظر و هغوته چه کمزوری زهکشی لری
- د حیوانی سری ډول او اندازه: په هره اندازه چه ښه تجزیه شوی سره ځمکی ته علاوه شي په هماغه اندازه کمو اوبو ته ضرورت دي

د فصل د اوبو ضرورت باید په محلی توګه وټاکل شي . ځینی پراختیایی خدماتو یو څه لارښوونی د بزګرانو لپاره ترتیب کړی چه په موثره اوبو ورکولو کی تری کټه واخلی په شرقی زو ن کی داسی معلومات نشته په 6.1 شکل کی د هغو سبزیجاتو د اوبو ضرورتونه په مقایسوی ډول چه په شرقی زون کی کرل کیږي د هغو د اوبو مقدار چه د تخم څخه تر حاصله پوری په کار دی، د شرقی زون د بیلابیلو اقلیمونو لپاره اندازه شوی ندی.

اکثره سبزیجات لنډ عمر لري او په تکراری ډول اوبو ته ضرورت لري چه بشپړه وده وکړي . د لوړ کیفیت لرونکو سبزیجاتو لپاره باید په متوسطه اند ازه هم د اوبو فشار نه وي . د فشار یوه مرحله چه د اوبو ورکولو پواسطه تعقیب شي د مثال په توګه په کرم، هندوانو او ګازرو کی د چاودونو او درزونو سبب ګرځي. ګازری او نور ریشه یی نباتات د ریشو په ساحه کی نظر نورو ته کافی رطوبت ته ضرورت لري. د بزګرانو لپاره دا مهمه ده چه د اوبو ورکولو په اساسی او مهم وختونو باندی وپوهیږي تر څو د اوبو څخه ښه او اغیزمنه استفاده وکړي، خصوصاً په هغو ځایو کی چه اوبه کمی دي . په عمومی توګه اوبو ته په لاندی حالاتو کی ډیر زیات ضرورت وي:

> د انتخاب شوو سبزیجاتو لپاره د اوبو ورکولو اساسی او مهمی مرحلي
>
> - د سریا ګل تشکیل: براکولي، کرم، ګلپی، کاهو
> - د ګل نیول، د میوی تشکیل: تور بانجان، رومیان، بادرنګ، ختکی، هندوانی
> - پلی لرونکی: لوبیا، نخود، لیرو
> - د ریشی جوړیدل: ګازرې
> - د غوټی تشکیلدل: پیاز
> - د غوټی تشکیل او پیل کیدل: کچالو

- د ودی په لمړی څو اونیو کی
- د بزغلیو د کرلو څخه سمدلاسه وروسته
- د ګل او میوی نیولو په وخت کی

په ځینو فصلونو کی چه کله سبزی په پخیدو شي نو اوبه ورکول باید کم شي او یا بند شي . څنګه چه هندوانه پخیدو ته نژدی کیږي، د هندوانی خارجی پوستکی ښوی او هوار شکل نیسي چه ددی ښکارندویه دی چه اوبه ورکول باید کم شی. همدارنګه کله چه پیاز په پخیدوشي نو اوبه ورکول باید کم شي تر هغه چه څوکی یی وچی شي. که اوبو ته دوام ورکړل شي نو کیدای شی چه د ریشو د دوباره شنه کیدو سبب شي او ستونزي ر امنځ ته کړي. د کچالو لپاره د اوبو کافی زیرمه مهمه ده، د هغه وخت څخه چه غوټه یی لانه وی تشکیل شوی تر پخیدلو پوری. د غوټي د تشکیل څخه د مخه اوبه ورکول باعث ددی کیږي چه د نبات په سر د غوټو شمیر زیات شي. حال داچه ددی مرحلی څخه وروسته د کافی اوبو ساتل په پټی کی د غوټو اندازه او جسامت غټوي.

3.1 د خاوری فزیکی خواص

خاوره د منرالونو، هوا، اوبو او عضوی موادو څخه جوړه شوی ده . ددی برخو تناسب د ځمکی په فزیکی خاصیتونو ډیره اغیزه لري لکه د ځمکی جوړښت او ترکیب . دا خصوصیتونه په خپل وار سره د اوبو او هوا په جریان باندی تاثیو کوي او بالاخره د فصل په حاصلاتو باندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خاورې جوړښت او منفذونه

د ځمکې جوړښت په حقیقت کې د خاورو د ذراتو ترتیب او یوځای کیدل دي چه د لویو ګروپو شکل ترې جوړیږي او د peds یا پیډ پنامه یادیږي. د خاورې د ذراتو تراکم لکه ځنګه چه ذکر شو د ځمکې سره مرسته کوي چه د اوبو او باد د تورنې په مقابل کې مقاومت وښيي، او هم په خاورو کې د خالیګاوو د ساتلو لپاره ترڅو اوبه پکې جريان وکړي اهمیت لري او بالاخره د ځمکې د ښیرازۍ او حاصلخیزۍ لپاره مهم دی . دانه دار جوړښت د کروی شکله پیډونو د یوځای کیدو څخه تشکیل شوی چه اکثراً د عضوی موادو پواسطه یو د بل سره نښتې وي. د اکثره ځمکو پورتنی طبقه دانه دار خصوصیت لري خصوصاً هغه چه د عضوی موادو ډیر مقدار او لوړ بیالوژیکی فعالیت لري. غټ پیډونه د بلاکونو یا مخروطونو او یا صفحو به شکل د ځمکې په ښکتنی طبقو کې لیدل کیږي . ځنګه چه ځمکه پړسیږ ي (لمدیږي یا کنګل کیږ ي) او بیا تقبض کوي (وچیږي) نو د خاورو د کتلو شاوخوا درزونه پیدا کیږي چه همدا د پیډونو د تشکیل سبب ګرځي . پیډونه د عضوی موادو، اوسپنی، اکسایدونو، خاورې یا کاربوناتونو د نښلیدو پواسطه سه نیول کیږ ي . د پیډونو تر منځ درزونه او کانالونه د اوبو، هوا او غذایی موادو د انتقال او د اوبو ژورې تخلیې لپاره ضروری وي . هغه خاوره چه میده وي نظر هغې ته چه زیږه او ناهمواره وي، قوي وي.



2.1 شکل: د ځمکې د پیډونو او سوريو شکل

د خاورې په خلاګانو کې ډیرې عملیې صورت نیسي . د خاورې جوړښت او ترکیب د خلاګانو په جسامت، شکل او خپل منځی تماسونو او ارتباطاتو باندی اغیزه لري . هغه ځمکه چه زیږه او ناهواره جوړښت لري د غټو خلاګانو لرونکي وی ځکه چه غټ ذرات په سست شکل سره تنظیم شوی وي . هغه ځمکه چه میده ترکیب ولري هغه په کلک او محکم ډول سره ترتیب شوې وي او ډیرې کوچنې خلاګانې لري (6.2 شکل). لویې خلاګانی پدی ځمکو کې د aggregates تر منځ وي. ځنګه چه د میده او هوار ترکیب خاورې هم کوچنې او غټې خلاګانې لري، نو په عمومي توګه نظر ناهمواره یا زیږو خاورو ته ډیر تخلخل لري . د ځمکې د ترکیب په خلاف، تخلخل او جوړښت ثابت نه وي او کیدی شي چه د بښې اداری، اوبو او کیمیاوی پروسو پواسطه بدلونه ومومي. که د اوږدې مودې لپاره په ځمکه کښت وشي نو مجموعی تخلخل کموي ځکه چه د ځمکې عضوی مواد کمیږي او غټ پیډونه ماتیږی او جلا کیږي . سطحي قشر او تخته کیدل تخلخل کموي او خاورې ته د اوبو د ننوتو څخه ممانعت کوي چه سطحي تورنه او جریان ډیروي. په عمومي توګه د خاورې د عضوی موادو سطحه لوړول، د خاورې سره د لاس وهنې کمول او د تورنې او تخته کیدلو کمول د ځمکې تخلخل والی ډیروي او جوړښت یې اصلاح کوي.

د خاورې ترکیب

په ځمکه کې د شګې ، خړې او مټینې خاورې نسبي مقدار دی چه د خلاګانو په جسامت باندی چه د اوبو د ذخیرې لپاره وي شدید تاثیر کوي. د خاورې ترکیب د تیږو او منرالونو د فزیکې او کیمیاوی تجزیې نتیجه ده . ځنګه چه تیږې او منرالونه مختلف ترکیبونه او جوړښتونه لري، په مختلفو اندازو سره تخریبیږي چه د خاورې په ترکیب کې فرقونه رامنځ ته کوي. د مثال په ډول، shale یا خاورینه تیږه چه په آسانۍ سره د هوا د حالاتو په مقابل کې تخریبیږي باعث ددې ګرځي چه ځمکه دمټینې خاورې څخه غنې شي . حال دا چه ګرانایټ یا سخته تیږه ، چه په ډیر بطې ډول د جوی حالاتو پواسطه تخریبیږي، باعث د شګلنو او ناهواره ځمکو ګرځي. لکه ځنګه چه د هوا اغیزې بطې وي نو له همدې کبله د ځمکې یا خاورې ترکیب نسبتاً ثابت وي او ځمکې د اداره کولو په واسطه نه بدلیږي هغه خاورې چه ډیره شړه ولري غټې خلاګانې لرې چه اوبه ترینه په ډیره چټکۍ تیریږي . د اوبو د ساتلو ظرفیت یې ښکته لیکن تخلیه او تهویه یې ښه وي . هغه ځمکې چه خاوره یا خړه ډیره ولري، ډیرې کوچنې کوچنې خلاګانې پکې وي او کولای شي چه ډیرې اوبه ذخیره کړي خو د ځمکې دننه د اوبو او هوا جریان بطې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بزګران کولای شي چه د خپلې خاورې ترکيب لابراتوار ته د سمپل د لیږلو په واسطه معلوم کړي . خو دا سهولت په خپلو زون کې د ډیرو کرونکو سره موېثر ندی ،په هرحال یو ساده تخنیک وجود لري چه په نورو ملکونو کې یې بزګران او پراختیایي کارکوونکي د ځمکې یا خاورې د ترکيب یا بافت د معلوملو لپاره تر سره کوي دا تخنیک د feel یا احساس د طريقې په نوم یادیږي او زده کول یې آسانه دي . تاسې واځې یو کوچنی مقدار خاورې ته ضرورت لرئ. عملاً نتيجې یې په کافي اندازه دقيق وي او د نباتاتو د اداري په تصمیم کې تری استفاده کیدی شي.

3.1 شکل: د خاورې احساسول

Source: Unknown

مخکې لدينه چه دا طريقه بزګرانو ته وروښايۍ تاسې يې په پيژندل شوو خاورو باندې عملي کړئ تر څو وپوهيږئ چه هره خاوره څنګه احساسيږي (6.3 شکل). بيا کله چه يوه نامعلومه خاوره امتحانوئ نو بيا کولای شې چه په دقيقه توګه یې تست کړئ او ترکيب یا بافت یې معلوم کړئ. عملا ددې طريقې نتيجې د لابراتوار د نتيجو سره يو شان وي . تاسې بیا کولای شې چه دا بزګرانو ته وروښايې تر څو هغوی د خپلو ځمکو ترکيب پرې معلوم کړي.

ددې طريقې جريان په 6.4 شکل کې ښودل شوی دی. فقط مرحلې یې تعقيب کړئ. د خاورې د نمونې لپاره چه تاسې کوم خصوصيات بيانولی شې هغه به لاندې ډول دي:

- د پاشيدو شکل او ثبات
- احساس – زيږوالی ،نرموالی د اوړو په شان او سريښناکه
- د لمدې خاورې څخه د جوړې شوې پټې اوږدوالی

ددې په اساس چه ستاسې ځواب به هو وی او یا نه، تاسې د څو مراحلو څخه په چارت کې تيريږئ تر څو ستاسې د خاورې د نمونې ترکيب یا بافت معلوم شي . دا مهمه ده چه په یاد ولرئ چه د ځمکې بافت یا ترکيب يواځې د خاورې معدنياتو ته راجع کيږي خصوصاً هغه ذرات یې چه د دوه ملی څخه ښکته وي. هغه ريشې او ذرات چه د ٢ ملی څخه غټ وي بايد ددې نمونې څخه وايستل شي.

چارت ځان سره پټيو ته راوړئ او عملي يې کړئ. لږ څه خاوره راواخلئ او لمده يې کړئ او بيايې په لاس کې د توپ شکل ورکړئ. بيايې په کراره سره د خپلې غټې ګوتې او د شهادت ګوتې پواسطه د ختې غونډاری وغزوئ او هڅه وکړئ چه د يوې پټې شکل ونيسي (هر وخت شايد ونشی کولای چه د پټې شکل ورکړئ). څنګه چه کار کوئ تاسې خاوره احساس کړئ. لاندې جدول نه استفاده وکړئ تر څو د خاورې ترکيبی کټګوری معلومه کړئ.

دا طريقه د یو کرونکي په ځمکه عملي کړئ. په مختلف ژوروالی ورسره مرسته وکړئ لکه ١٠-٠سانتی، ٢٠-١٠سانتی، ٣٠-٢٠ سانتی. وګورئ چه د خاورې بافت د ژوروالی سره بدلون مومي او که نه . ددې تاثيرات داسې وی چه معلوم شی چه د اوبو ورکولو څخه وروسته د ريشو به ساحه کې څومره اوبه پاتی کيږي. اوس چه تاسې د خاورې په ډول پوه شوئ، دا مهمه ده چه وپوهيږئ خاوره څومره اوبه د نبات د استفادې لپاره ساتلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4.1 شکل: د احساس د طریقی د جریان چارت، د خاوری د بافت د معلوملو لپاره



بافتی کټګوري: شګه (غوندار ی نه

د بافت کټګوري: Loamy Sand (غونداری جوړیږي، خو

د پټی جوړیدل: اوږدوالی خاوری په محتویاتو او معدنیاتو پوری اړه لری.

4.1 د خاوری اوبه

داسی تصور وکړئ چه خاوره د اسفنج په شان ده او داخلی سوري او خلاګانی یی هوا یا اوبه ساتي . ځنګه چه ځمکی ته ډیری اوبه ورعلاوه کیږي د باران یا د اوبو ورکولو پواسطه، د سوریو ځخه هوا خارج خوا ته ویستل کیږي. کله چه ټول سوری د اوبو پواسطه ډک شول، نو داسی ویل کیږي چه خاوره مشبوع شوی ده. که

(c) ketabton.com: The Digital Library

After the soil is saturated, some of the water will drain from the larger pores and move below the root zone as a result of gravity. The soil is said to be at field capacity when the water stops draining freely. The remaining water is held in the soil by what are called capillary forces, forces of attraction between the water and the soil particles. As the water is



5.1 شکل: د ځمکی د اوبو ښودنه او د اوبو د ساتلو د ظرفیت تعریفونه

Source: McCauley, A. 2005. Soil and Water Management Modules. Module 1: Basic Soil Properties. MSU, Bozeman, MT

ټولی خاوری د اوبو د ساتلو عین وړتیا نه لري ځکه چه حرارت او خلاګانی یی مختلف شکلونه او جسامتونه لري. د خاوری د اوبو ساتلو ظرفیت د هغو د بافت، د عضوی موادو او تیرو اداری عملونو پوری اړه لري. په شړلنو او زیړو خاورو کی خلاګانی غټی وي او اوبه پکی داخل او خارج خواته آزادانه حرکت کوي نو ځکه د اوبو ساتلو ه دا چه اوبه د نبات پذریعه استعمالیږی دلته یوه نقطه چه هغه پاتی اوبه چه د خاوری دزراتو پواسطه مـحکمی نیول کیږی خصوصاً د متینوخاورویا زراتو پذریعه او نبات هغه اوبه نشی راویستلای، چه دی حالت ته د دایمی مړاویدنی نقطه ویل کیږی .که چیږی ابیاری یا د باران اوبه ورته مهیا نشی نو نبات به مړاوی او مری به .

هغه مقدار اوبه چه د خاوری پذریعه د فیلد کپیستی او پرمـننت ویلتنګ پوینت تر منځ ساتل کیږی د نبات د لاس رسی اوبو په نامه یادیږی(۶. ۵شکل) .

ټولی خاوری یو شان د اوبو د نیولو ظرفیت نلری دا ځکه چه خلاوی اوذرات فرق لری د شکل او جسامت له نظره.د اوبو ساتل یا نیول د خاوری د ترکیب ، د عضوی موادو موجودیت او د سا بقه کرهنیزو عملیاتو پوری تړل دی ، د زیړو ترکیب ډوله خاورو کی دا چه لویی خلاوی او ذرات موجود وی نو اوبه ورڅخه په تیزی خارجیږی نو ځکه یی د اوبو د ساتنی ظرفیت ښکته وي . هغه فصلونه چه به دی ډول ځمکو کی کرل کیږي باید به مکرر ډول اوبه ورکړل شي . په درنو یا میده خاورو کی خلاګانی ډیر کوچنۍ وي او اوبه تری ژر نشي تخلیه کیدی نو له همدی کبله د اوبو ساتلو ظرفیت یی لوړ وي. خو د اوبو اکثره برخه دومره کلکه په ذراتو کی نیول شوی وي چه نباتاتو ته نه مهیا کیږي. دا ډول خاوری کمزوری تهویه یا د هوا جریان لري او که تخلیه نه شي نو د نبا ت په وده منفی اغیزه کوي. Loamy خاوره په کافی جسامت سره خلاګانی لري چه د هوا او اوبو جریان ته مساعدی وي او نبات ته کافی اوبه ورکولای شي. د نبات د ودی لپاره دا تر ټولو ښه خاوره ده.

> **د اوبو ورکولو د کمزوری مهالویس نتیجی**
>
> کمی اوبه ورکول د لاندی حالاتو باعث کیدی شي:
>
> - حاصلات کمیږي او په بازار کی یی ارزښت راښکته کیږي
> - جسامت او کیفیت یی راښکته کیږي
>
> ډیری اوبه دلاندی حالاتو باعث ګرځی:
>
> - غیر ضروری تنبتی وده
> - د ضروری اوبو ضایع کیدل او د ځمکی لاندی اوبو سره یو ځای کیدل
> - د غذایی موادو منځل کیدل
> - د تولیداتو خراب کیفیت او ښکته حاصلات
> - نباتی ناروغی لکه د ریشی خوسا کیدل

5.1 د اوبو ورکولو مهالویش

دا هغه پروسه ده د کومی په ترڅ کی چه یو بزګر تصمی م نیسی چه کله او څومره اوبه باید فصل ته ورکړل شي. د اوبو لپاره د فصل د اړتیاوو اندازه کول نظر اقلیم او د فصل مرحلی ته یو څه مشکل کار دی.

په شرقی زون کی بزګران دا کار د خپلی تجربی او عمل په اساس کوي کله چه ځمکه وچه په نظر راشي، که په کانال کی اوبه وي، هغوی اوبه ورکوي. بزګران په خپلو فصلونو کی د فشار علامی ګوري لکه د پاڼی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګ او زاويه کی بدلون راتلل، د پانی تاويدل . ځينی فصلونه لکه پنبه د رطوبت د فشار څرګندی نښی د ځآنه ښيي مګر نور فصلونه داسی نښې نه ښيی تر هغه چه مړاوي شي . سبزيجات په خاصه توګه د رطوبت فشار په مقابل کی ډير حساس وي نو کله چه نښې نښانی موجودې شي، هميشه د حاصلاتو ضايع کيدل رامنځ ته کيږي.

په نورو هيوادونو کی بزګران مختلف تخنيکونه په کار اچوي تر څو د سبزيجاتو د توليد لپاره د اوبو ورکول تقسيم اوقات کړي. لکه د فصل مشاهده کول. ددی تخنيکونو څخه يو ئې ساده دی چه افغانی بزګران يی کولای شي چه زده يی کړي. دا د «احساسولو او ظاهری ښئ» طريقه ده چه د مخکينی «احساس» طريقی سره ورته والی لري. دا تر ټولو عامه طريقه ده چه کرونکی يی استعمالوي تر څو په پټيو کی د رطوبت اندازه وګوري . د خاوری نمونه د رمبی يا داسی کو می بلی آلی پواسطه اخيستل کيدی شي . خاوری يا ختی ته به ورغوي کی فشار ورکوئ او ظاهری شکل يی ګوری او بيا کولی شئ چه د رطوبت په هکله يی اټکل وکړ ئ. 6.1 جدول کی د ختی يا خاوری احساسولو بيان شوی وي او په 6.6 شکل کی يی تاسی ته عکسونه درکړي تر څو تعبير يی تصديق شي.

کله چه فصلونه په او چتو بسترونو وکرل شي، نو نمونه بايد د بستر څخه واخيستل شي او د اوبو د څيری يا چری څخه نمونی بايد په مختلفو ژوروالو سره واخيستل شي . او د ريشو والا د نباتاتو لپاره بايد د ۳۰ سانتی څخه په ډير ژوروالی نمونه واخيستل شي . يوائې د ځمکی د سطحی پـه نمونو باور مه کو ئ. کيدی شی د ځمکی پورتنی څو سانتی متره وچ وی خو ښکته د ريشو په ساحه کی شايد کافی رطوبت وی او که اوبه ورکړئ نو شايد اوبه پری زياتی شي.

ددی لپاره چه د ظاهری ښئ او احساس د طريقی نتيجی تعبير شي، تاسی بايد مخکی تر مخکی د خپلی ځمکی په بافت باندی پوه شی. تاسی د عين نمونی پواسطه دواړه طريقه بايد د نمونی خاوره لمده کړ ئ او د خاوری د رطوبت د معلومولو په طريقه کی تاسی هغی ته اوبه مه علاوه کو ئ. ځکه همدا اوبه يا رطوبت تاسی معلوموئ !!

د اکثره فصلونو لپاره چه کله موجودی اوبه د ٪۶۰-۴۰پوری وی نو بزګر بائد اوبه ورکړي. که د ٪۲۵ څخه ښکته وي نو وده ودريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موجودی اوبه	زیږه (میده شګه یا Loamy)	نرم ډوله زیږه (Sandy Loam, Fine Sandy Loam)	متوسط (Sandy Clay Loam, Silt Loam)	نرم ډوله میده (Clay, Clay Loam and Silty Clay Loam)	عمومی یادونی
د ځمکی د ظرفیت نه زیات	کله چه د خاوری غونډاری په لاس کی وخوځول شي نو اوبه څرګندیږي	کله چه کښیکاږل شي نو آزادی اوبه تری خوشي کیږي	آزادی اوبه په فشار سره تری وځي	د ځمکی په سطحه آزادی اوبه تشکیلوي	په ځمکه کی اوبه ډیری وی او هوا تری نشی تیریدلای.
د ځمکی د ظرفیت سره برابری	که غونډاري ته فشار ورکړل شي نو په ځمکه آزاده اوبه نه څرګندیږي، مګر په لاس باندی لوند چاپ پاتی کیږي.	که غونډاري ته فشار ورکړل شي نو په ځمکه آزاده اوبه نه څرګندیږي، مګر په لاس باندی لوند چاپ پاتی کیږي.	که غونډاري ته فشار ورکړل شي نو په ځمکه آزاده اوبه نه څرګندیږي، مګر په لاس باندی لوند چاپ پاتی کیږي.	که غونډاري ته فشار ورکړل شي نو په ځمکه آزاده اوبه نه څرګندیږي، مګر په لاس باندی لوند چاپ پاتی کیږي. او امکان لري چه د ګوتو تر منځ تسمه شکله جوړښت جوړ شي.	د نبات لپاره ډیری اوبه او په کافی اندازه هوا
75 %	میلان لری چه یو بل سره ونښلی، او د فشار لاندی یو ضعیف مایتدونکی غونډاری جوړ شي	یو کمزوری غونډاری جوړیږي چه په آسانی سره ماتیږي، نښلیږي نه	غونډاری تری جوړیږي او ډیر سریښناکه وی – یعنی په آسانی سره نښلي	خاوره ښویه احساسیږي او په آسانی سره تری پټی جوړیدی شي	په کافی اندازه هوا او اوبه او نبات ښه وده کوي
50 %	شاید د فشار لاندی یو ضعیف مایتدونکی غونډاری جوړ شي	د فشار پواسطه غونډاری جوړیږي لیکن بیا جلا کیږي	غونډاري تری جوړیږي او د فشار لاندې په خفیف ډول سره نښلي	د فشار لاندی غونډاري کیږي، کله چه د ګوتو تر منځ فشار ورکړل شي نو د پټی شکل ته اوړی	د نبات لپاره یواځی په کافی اندازه اوبه
25 %	وچ په نظر راځی او د فشار لاندی تری غونډاری نه جوړیږي	وچ په نظر راځی او د فشار لاندی تری غونډاری نه جوړیږي	یو څه ماتیدونکي وي خو د فشار لاندی سره نښلي	د فشار لاندی غونډاري کیږي، کله چه د ګوتو تر منځ فشار ورکړل شي نو د پټی شکل ته نه اوړی	د نبات وده ودریدلي ده
0-25% د مړاوي کیدو نقطه	وچ، سست او دانه داره په ګوتو احساسیږي	وچ، سست او د ګوتو په منځ کی جریان کوي	د پودر په شکل وچ وي، ځینی وخت قشر پری تشکیل شوی وي خو په آسانی سره په پودر بدلیږي	سخت وی، درزونه پکی وي او کله نا کله په سطحه باندی سستی پارچی وي	په شدید ډول اوبو ته ضرورت لري، نبات ژر له منځه ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

6.1 شکل: د خمکی د اوبو تعینول، د احساس او ظاهری بڼی په طریقه



6.1 شکل: د خاوری د ظاهری بڼی عکسونه په پورته ذکر شوی طریقه کی

(c) ketabton.com: The Digital Library

6.1 د اوبو ورکولو طريقې

اکثره اوبه چه فصلونو ته په شرقي زون کی ورکول کیږی د سطحی اوبونی څخه حسابیږی. دا هغه اوبه دی چه د ځمکی د جاذبی په اساس جریان پیدا کوي. یا داچه ټوله ځمکه اوبه کیږي او یا داچه په ویالو او چړو کی جریان کوي. اوبه د غرونو څخه ځمکو ته د هغو کانالونو او ویالو د شبکی د لاری راوړل کیږی چه د ډیرو نسلونو د دهقانانی په نتیجه کی جوړه شوې. اکثراً بزګران د ځمکی د سطحی څخه لاندی اوبو ته لاس رسي نلری نو ځکه په همدی اوبو باندی تکیه لری. په شرقي زون کی د څاځکو او آب پاشی Sprinkler irrigation, drip irrigation د طریقو څخه کار نه اخیستل کیږي مګر په تجربوی ډول. پراختیایی کارکوونکی باید بزګران د نووا و متبادلو طریقو څخه باخبره وساتی.

6.6.1 د سیل ځبسین اوبونی طریقه

لګن یا بسین د ځمکی هواری برخې دی چه د نریو پولو پواسطه احاطه شوې وي چه د اوبو څخه مخنیوی وکړی چه ورسره نژدی پټیو ته ولاړې نه شي. دا طریقه اکثره د شولو یا وریجو لپاره پکاریږی خو د دانه بابو، ونو او سبزیجاتو لپاره هم پکاریږی، خصوصاً د قوریو لپاره. د ریشو او غوټو لرونکو نباتاتو(ګازری،الوګانو،چغندرو) لپاره مناسبه طریقه نه ده. عموماً دا طریقه د هغو فصلونو لپاره سمه طریقه ده چه په ولاړو اوبو کی د ډیر وخت لپاره پاتې کیدی شي(۱۲- ۲۴) ساعتو پوری.

Figure 7.1: د بسین د اوبو ورکولو طریقه

د بسینو شکل او اندازه د ځمکی د میلان، د خاوری د ډول، د اوبو جریان، د ضرورت وړ ژوروالی یی او کرهنیزه طریقو پواسطه ټاکل کیږي. د پولو لوړوالی ددی پوری اړه لری چه څومره اوبه ورکول کیږی او پراخوالی یی باید څومره وی چه اوبه تری تیرې نه شي.

ددی لپاره چه په مساوی او برابر ډول ریشو ته اوبه ورسیږی، نو د ځمکی سطحه باید هواره او اوبه وکولای شی چه ټولی ساحی ته ورسیږي. داسی اټکل کیږي چه په دی طریقه باندی بزګران د اصل ضرورت په نسبت دوه چنده ډیرې اوبه ورکوي.

پولی د باران، سیل او د خلکو د تیریدو پواسطه توړل کیږي. موږکان د پولو په اړخونو کی سوري وکاړي. نو دا مهمه ده چه به منظمه توګه چیک شي او ترمیم شی. د هر موسم څخه مخکی، باید دا ځمکی وکتل شی چه هواری دی او که نه. لوړی او ژوری یی په دی وخت کی په آسانی سره معلومیږي او باید هواری شي.

د څیرو یا چړو شکله اوبه کول

څیری هغه موازی چینلونه دي چه د فصل د اوبه کولو په خاط ر اوبه انتقالوي. فصل معمولاً د څیرو تر منځ په پولو باندی کرل کیږي. په شرقي زون کی بزګران کله نا کله د څیرو په قاعده کی بزغلی کري کله چه موسم ګرم او وچ وي، خصوصاً کله چه د اوبو کموالی موجود وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Figure 8.1: د ځيرو اوبه کول

د ځيرو د لارى اوبه ورکول د ډيرو فصلونو لپاره مناسب دي، خصوصاً هغه فصلونه چه په قطارونو کى کرل کيږي او يا هغه فصلونه چه کله يى ساقه د اوبو پواسطه وپوښل شي تخريبيږي (روميان، لوبيا، ريشه يى او غوټى لرونکى فصلونه، نور سبزيجات).

د ځمکى په اکثره ډولونو باندى ځيرى جوړيدى شي . د اوبو ورکولو د نورو سطحى طريقو په شان، د ډيرو زيرو او شګلنو خاورو لپاره دا نه توصيه کيږي ځکه چه د اوبو ضايع کيدل پکى ډيريږي . هغه خاورى چه په آسانى سره قشر نيسي د ځيرو لپاره ښې مناسبى وي. ځکه چه اوبه د پولى په سر جريان نه پيدا کوي او پدى ترتيب په هغه خاوره چه نباتات وده کوي، ماتيدونکى پاتى کيږي.

د ځيرو اوږدوالى، شکل او فاصلى يى د طبيعى شرايطو پواسطه ټاکل کيږي لکه ميلان، د خاورى ډول، او د اوبو موجوده اندازه. يو څه نور عوامل هم شايد د ځيرو د سيستم په ديزاين باندى اغيزه وکړي لکه د اوبو ژوروالى، زراعتى عملونه يا عادتونه، او د پټى اوږدوالى.

ځيرى بايد لږ تر لږه ميلان ولري ترڅو اوبه په موثره توګه تخليه او جريان وکړي.

د ځيرى اوږدوالى اکثراً د پټى د اندازى له مخى ټاکل کيږي خو د خاورى ډول هم يو فکتور دې . هغه ځيرى چه په شږلنه خاوره کى جوړيږي بايد لنډې وي تر څو د اوبو د ضايع کيدو څخه مخکى لدينه چه د ځيرى اخر ته ورسيږي، مخه ونيسي.

د ځيرى شکل د خاورى د ډول او د اوبو د اندازى پواسطه ټاکل کيږي . په شګلنو خاورو کى اوبه په عمودى شکل په ډيرى چټکى سره حرکت کوي نظر جانبى شکل ته. نرى، ٧شکله ځيرى د هغه ساحى د کمولو لپاره ښې دى چه اوبه ترى ضايع کيږي . که څه هم شګلنى خاورى لږ ثبات لري او سقوط ته ميلان لري، چه شايد د اوبو ورکولو موثريت کم کړي. په هغه ځمکه چه ميده خاوره وي، د اوبو جانبى جريان ډير وى او د نفوذ چټکوالى نظر شګلنو ځمکو ته ډير کم وي . نو په همدى خاطر پراخه سطحى ځيرى ښې وى تر څو د اوبو نفوذ تحريک کړي . په عمومى توګه ځومره چه د اوبو اندازه ډيره وي په هماغه اندازه غټو ځيرو ته ضرورت وي تر څو جريان يى کنترول کړي.

د ځيرى شکل د خاورى د ډول او هم د رواجى حالاتو پواسطه تر تاثير لاندى راځي . د يو قانون په حيث د شګلنو ځمکو لپاره فاصله بايد د ۶۰-۳۰ سانتى پورى وي، يعنى ۳۰ سانتى دِغټو شګو لرونکو ځمکو لپاره او ۶۰ سانتى د ميده شګو لپاره . په درندو يا مټينوکى فاصلى بايد ۱۵۰-۷۵ سانتى د ځيرو تر منځى وي . اوبه هر ځيرى ته د عمومى ويالى څخه د يوى دخولى دروازى له لارى ورځى . د اوبو د جريان د اندازى په مطابق کيدى شى چه څو چرى په عين وخت کى او به شي. چيرته چه د اوبو کمښت موجود وي، نو امکان لري چه د اوبو مقدار به متبادل ډول د ځيرو د اوبه کولو د لارى محدود کړو چه يوه يوه ځيره ترمنځ پريږدو.

د ځيرو په اخر کى د اوبو جريان يوى غټى تخليه کوونکو ويالى سره يوځاى کيږي او که دا کار په سمه توګه تر سره نه شي نو کيدى شى چه نبات د اوبو د تراکم په دليل تخريب شي . د زهکشى يا تخليى په سيستم کى کوچنيو نباتاتو ته اجازه ورکول کيږي چه وده وکړى تر څو د توږنى د عمل څخه مخه ونيول شي . د اوبو ډير زيات اضافه کيدلو مخه داسى نيول کيدى شى چه کله د ځيرى آخر ته اوبه ورسيږي نو د دخولى اوبو جريان کم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځيرو سيستم بايد په منظمه توګه وساتل شي . د اوبو ورکولو به جريان کی بايد وکتل شي چه اوبه د ځيرو مقابل انجام ته رسيږي. داسی ځايونه بايد ځيره کی نه وي چه اوبه پکی ډنډ پاتي شي . په پولو باندی بايد اوبه راوانوړي. تخليوی ويالی او کانالونه بايد د مضره بوټو څخه پاک وساتل شي.

7.1 د آ بياری تنظيم يا اداره

د اوبوونی اداره بل شی ندی مګر د وده کوونکو فصلونو لپاره يو مناسب چاپيريال برابرول دي . يعنی ځمکه ددی څخه ساتي چه ډيره وچه او يا ډيره لمده شي . کله چه ځمکی ته ډير زياتی اوبه ورکړل شي نو د خ اوری تر منځ خاليګاوی ډکيږي او خاوره مشبوع کيږي . که چيری اوبه د خاوری به خلاګانو کی پاتی شی نو د نباتاتو ريشی د آکسيجن د نشتوالی له امله وژل کيږي چه دا حالت د water logging په نامه ياديږي. اکثره بزګران هغه وخت پوهيږي چه وخت ورڅخه تير وی او دا حالت واقع شوی وی.

6.7.1 د اوبو ورکولو اساسی اصول

بهتره ده چه د سهار له خوا اوبه ورکړل شي تر څو د ورځی په جريان کی لږی اوبه د تبخير د لاری ضايع شي . د اوبو ورکولو په جريان کی په کافی اندازه اوبه بايد ځمکی ته ورکړل شي تر څو د ۲۰-۱۵ سانتتی پوری ځمکه لمده شي او که نباتات ريشوي وي نو ددی څخه هم زيات. د اوبو د ضرورت وړ مقدار د خاوری د طبيعت په اساس تغير کوي. په کمه اندازه او په تکراری ډول په سطحي توګه ريشي تحريکوي چه باعث ددی کيږي چه نباتات د وچکالي په ورځو کی ډيره ضربه وګوري، خصوصاً که د ملچ يا د نباتی پوښونو څخه استفاده نه وي شوی. په هماغه اندازه چه ډيری لږی اوبه نباتاتو ته ضرر رسوي، ډيری زياتی اوبه هم نباتاتو ته ضرر رسوي . د نبات ريشی د اکسيجن څخه محروموي.

> **د تجارتی سبزيجاتو په توليد کی د اوبو لګولو د ښی اداری اهميت:**
>
> - د تيغی وهل او د نبات تثبيت اصلاح کوي
> - د بوزغليو مړاوي کيدل کموي
> - د غذايی موادو جذب اصلاح کوي
> - په پټی کی د نباتاتو وده يو شان ساتي
> - د سبزيجاتو حاصلات ډيروي او کيفيت لوړوی
> - د بزګر منظم مشتريانو ته داډ ورکوي چه هغوی ته به ښه توليدات تهيه کيږي

د اوبو تقاضا کمول

ټولی اوبه چه د سبزيجاتو پټی ته ورکول کيږي شايد نباتاتو ته د استفادی لپاره مهيا نه شي، خصوصاً که ځم که درنه خاوره ولري. د خاوری ذرات رطوبت کلک ساتي. که چيری د خاوری په ۳۰ سانتی کی ۱۲ سانتی اوبه وي نو شايد فصل ته تر ۳ سانتی پوری اوبه مهيا شي . که ځمکی ته ډيره توره خاوره چه عضوی مواد دی، ورعلاوه شي د موجودو اوبو مقدار ډيروالی شي . د توری خاوری نه علاوه په در نو خاورو کی د خاليګاوو د زياتيدو سبب ګرځي، چه رطوبت ته اجازه ورکوي چه لاندی خوا ته تخليه شي، نظر دی ته چه په سطحه پاتي شي او تری وبهيږي.

د شګلنو خاورو د اوبو د ساتلو ظرفيت هم د عضوی مادی په استعمال سره اصلاح کيږي . که څه هم په شګلنه خاوره کی اکثره اوبه نباتاتو ته مهيا کيږي . خو په چټکی سره تخليه کيږي چه ريشي نشي کولای ورته ورسيږي . که توره خاوره يعنی عضوی مواد ځمکی ته علاوه شي نو د اوبو لپاره يو شي پيدا کيږي چه ور پوری ونښلي تر هغه چه نبات ورته ضرورت پيدا کوي.

د ملچ څخه استفاده بله زراعتی طريقه ده چه د اوبو د ضرورت وړ مقدار په کمولو کی مهم رول لري. د ملچ ۱۵-۲۰ سانتي پوښ د اوبو ضرورت نيمايی کولای شي داسې چه هرزه بوټي سوځي او د تبخير عمل کموي . پخپله دا عضوی نباتات اوبه ساتی او د نبات شاوخوا رطوبت ډيروي . د تور پلاستيک ملچ اوبه ساتي او د نبات شاوخوا رطوبت ډيروي. د تور پلاستيک ملچ هم رطوبت ساتي، خو کيدی شي چه په ناګهانی تو ګه د ځمکی تودوخه لوړه بوځي خصوصاً په اوړي کی که د نورو پاڼو يا عضوی موادو پواسطه نه وی پوښل شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغو ساحو کی چه ډیر لمر لري، سبزیجات مړاوی کیږي او د قسمی سیوری څخه ګټه اخیستلای شي . د سبزیجاتو په پټی کی میوه داری ونی په ۵ متره فاصلو باندی کرل کیږي . د یوی خوا نه سبزیجاتو لپاره سیوری برابروي اوله بلی خوانه د دریو نه تر ۵ کالو وروسته میوه ورکوي.

ځوان نباتات په خاص ډول د هوا او باد په مقابل کی حفاظت ته ضرورت لري. هغه هوا چه په نبات لګیږي، د پاڼو د سطحو څخه رطوبت وړي او باعث ددی کیږي چه نبات ډیرو اوبو ته ضرورت پیدا کړي . په هغو ساحو کی چه ډیر بادونه لګی د ریشو پواسطه د اوبو جذب نشي کولای چه د پاڼو غوښتل ته رسیدګی وکړي او نبات مړاوی کیږي. د باد په مقابل کی موقتی او یا دایمی خندونه ایجادول دا فشار کمولی شي.

له اندازی ډیر اوبه ورکول

له حده زیاتی اوبه ورکول د ډیرو ستونزو باعث ګرزي چه اکثره یی هغه وخت لیدل کیږي چه ډیر ناوخته وي. کله چه د نبات ریشي د خاوری څخه ټولی اوبه جذبی نکړي شي او ډیری اوبه پاتی شي نو باعث ددی کیږي چه نبات ته آکسیجن قطع شي . دا حالت د water logging پنامه یادیږي چه شدت یی د ځمکی لاندی اوبو د سطحی، د خاوری بافت او جوړښت پوری اړه لري.

هغه اوبه چه پټی ته ورکول کیږي په خاوره کی نفوذ کوي چه ددی نفوذ چټکوالی د خاوری د بافت او جوړښت پوری اړه لري. د خاوری کمزوی جوړښت اکثره د اوبو د تراکم باعث کیږي. د خاوری جوړښت د ځمکی د تخته کیدو پواسطه لا خرابیږي . کله چه درانه ماشینونه په ځمکه استعمالیږي او یا کله چه په لمده ځمکه باندی قلبه تر سره کیږي نو د ځمکی په سر یوه کلکه طبقه چه plow pan پنامه یادیږي تشکیلیږي. اوبه او نباتي ریشی ددی کلکی طبقي څخه په ډیره مشکله تیریږي چه اوبه او ټینګښت د خاوری باعث د توقف د رشد کیږي.

د اوچتو بسترونو اوبه کول

بزګران عادت لري چه خپلی ځمکی د سیل یا سیلاب په شکل اوبه کړي . هغوی ډاریږي چه که چیری اوبه ځمکه په مکمل ډول پوښ نکړي، نو کیدی شي چه د فصل د ودی لپاره ناکافي وي . دا باعث ددی کیږي چه د اندازې نه ډیری اوبه ورکول کیږي. کله چه په اوچتو بسترونو باندی سبزیجات کرو، نو ضرور نه دی چه اوبه بستر پوښ کړي. اوبه د څیری څخه د بستر اړخ ته به جانبي ډول حرکت کوي . تر هغه پوری چه اوبه په کافی اندازه ژوری وی او په هماغه ژوروالی کی د کلفی وخت لپاره پاتی شي، نو د ټول بستر د نباتی ریشو لپاره به کافی اوبه وي . د بستر پراخوالی او لوړوالی د فصل، موسم او د اوبو د موجودیت په اساس عیاریدلای شي. د مثال په توګه د منی او ژمی په موسم کی چه فصلونه په بارانی موسمونو کی وده کوي، نو بسترونه باید لږ تر لږ ۲۵ سانتی متره لوړ وي تر څو دا یقین حاصل شي چه د درنو بارانونو څخه وروسته په کافی اندازه تخلیه وجود لري . د پسرلي او اوړي د موسم لپاره، ټیټ بستر توصیه کیږي (۲۰-۱۵ سانتی).

د اوبو اداره یا تنظیم د لوړو بسترو په تولید کی مهمه ده . کله چه هوا ډیره ګرمه وي نو د تبخیر په ذریعه د اوبو ضایعات هم ډیروي. که څه هم د خاوری د رطوبت اندازه په ځمکه کی کافي وي، د ځمکی د سطحی او ښکتنیو طبقو تر منځ میلان شاید وجود ولري چه په باعث ددی کیږي چه منحلی مالګی په خاوره کی پورته راشي او په سطحه باندی ذخیره شي. د بستر د سطحی پوښل په نبلتی بقایاوو خصوصاً په ګرم موسم کی د تبخیر د کمیدلو سبب ګرزي. او د ځمکی په پورتنیو طبقو کی د رطوبت د ساتلو سبب کیږی.

د ځمکی تخته کیدل

ځمکه په نمونوي ډول ۵۰ فیصده خلاګانی لري چه اوبه او هوا پکی په مختلفو تناسبونو او د تغیر په حالت کی وي. شګلنی خاوری غټ سو ري لري نظر متینی خاوری ته خو د متینی خاوری مجموعی خالیګاوی نظر شګلنو خاورو ته ډیری وی او اوبه ساتلی شي.

کله چه ځمکه د درنو ماشینونو پواسطه تخته شي، د خاوری ذرات یو د بل سره نژدی کیږي او هوایی خالیګاوی کمیږي او پدی ترتیب د هوا او اوبو مقدار چه باید هلته و ساتل شي هم کمیږي او جریان یی بطي کیږي . د ځمکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر تخته کيدل د کمزورۍ تخليې او د ريشې د کمې ودې سبب ګرځي. د اړولو لپاره ډېره انرژۍ پکار ده. هغه اوبه چه د ځمکې په سطحه باندې د موټر د ټيرونو په اساس ډنډ شوې وي او د ځيرو په آخر کې چيرته چه تراکتورونه تاوېږي. د اوبو جمع کيدل همدا حالت په بشپړه توګه ښيي.

د قلبې کولو په پذريعه کيداى شي سخت يا تخته شوى ځايونه نرم او مات کړي . ددې لپاره چه زراعتي عمليات موثروى نو ځمکه بايد وچه اوسي . مصرف يې زيات دى او تاثيرات يې لنډ مهاله خود کرهنيز عملياتود بدلون په اساس کيداى شي دا مشکل حل کړاى شي.

زهکشي

د ځمکې يا پټې خرابه نقشه او ناهموارى د سطحه په زهکشي باندې منفي اغيزه کوي . په هغو ځمکو کې چه ضعيغه تخليه ولري، کيدى شي چه اوبه په ځمکې کې د ډېرې مودې لپاره پاتې شي چه د نبات وده او د غذايي موادو جذب کموي . د اوچتو شوو بسترونو څخه د سبزيجاتو د توليد په منظور استفاده کول د پټې ښه تخليه او نباتات نه پرېږدي چه د اوبو سره په مستقيم ډول په تماس شي (6.9 شکل).

9.1 شکل: د شديد باران څخه وروسته، سبزيجات په اوچتو بسترونو باندې

په وچو منطقو کې، چيرته چه د خاورې په محلول کې د سوديم د ايونونو لوړه فيصدي وي. ضعيفه تخليه د خاورې د جوړښت د خرابيدو سره مرسته کوي. څنګه چه د سوديم او د خاورې تر منځ د کشش قوه موجوده ده، نو د سوديم ډېر مقدار باعث ددې کيږي چه د خاورې ذرات بو بل سره ونښلي . هوايي خلاګانې کميږي، خاوره کلکيږي او د نفوذ قابل نه وي او د نبات وده نشي تامينولاى. د خاورې ښه تخليه دا يقيني کوي چه د سوديم آيونونه په خاوره کې ژور ځي او د فصل وده نه متاثره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. د بازار لپاره د تولیداتو پلانول

1.2 سریزه

د هر موسم د فصل د پیل څخه د مخه یو کروندګر باید پلان کړ ئ چه څنګه د خپلی ځمکی، کار او وسایلو څخه په ببلابیلو کاروباری برخو کی (فصلونه، مالداری، ونی او داسی نورو کی) ګټه واخلی تر څو خپل هدفو ته ورسیږي. کیدای شي چه هدف داوي چه په فارم کی تولید زیات شي او یا داچه د کورنی لپاره په کافی اندازه خواړه برابر شي او یا هم داچه د فصل او مالدار ی څخه ډیر تر ډیره ګټه تر لاسه شي . په شرقی برخه کی د سبزیجاتو تولید کورنیو ته د عاید یوه مهمه برخه تشکیلوي . له همدی کبله بزګران باید یوه شي چه څنګه داسی فصلونه تولید کړي چه په بازار کی ورته غوښتنه په لوړه کچه وي تر څو خپله ګټه ډیره کړي.

دا باب د هغو توسعه کارانو سره مرسته کوي چه د بازار لپاره د تولیداتو د عرضه کولو په پلانولو باندی پوه شی او وکولائ شي چه څنګه د بازار سره اړیکی او رابطی ټینګی کړي.

2.2 منسجمه زمینداری د پلانولو لپاره د یو چوکات په حیث

د بزګرانو سره د پلانولو لپاره یوه منظمه او سیستماتیکه طریقه د منسجمی زمیندای چوکات دی (2.1 شکل) چه د ځمکی د اصلاح او د حاصلاتو د تولید د زیاتوالی لپاره د اوبونی د اداره کولو او دوام په منظور استعمالیږي . دا مفکوره اوس پراخه شوی او د تولیدي کاروبارونو فصلونو او مالداری او همدارنګه د ځمکی او اوبو اداره کول هم پکی شامیلیږي تر څو ډاډ تر لاسه شي چه تولیدات ګټور او همدارنګه بادوامه دي.

1.2 د تولید لپاره د ځمکی د استعمال او پلان چوکات



(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چوکات د بزګرانو سره مرسته کوي چه د پلانول پروسه پرمخ بوځي تر څو د تولیداتو ټول اړخونه هم د فزیکی چاپیریال او هم د ټولنیز چاپیریال د نظره په راتلونکو ستراتیژیو کی عا مل شی .

د فزیکی نقشی پلانول

د کروندی فزیکی طرح یا نقشه په اداري پریکړو لکه د کارونو تنظیم او وخت، د بزګرانو لاس رسیي بازار او خام موادو ته او د هغوی لاس رسي د فصل او مالداری لپاره کافی ا وبو ته، باندی اغیزه لري . د باغ سرحدونه د پټیو شمیر یی او دا چه کومی برخی یی د کومو کارونو لپاره ټاکل شوي دي (د مزرعی لپاره، د کور لپاره او دداسی کارونو لپاره لکه ورکشاپ، ذخیره، پروسس کول) او د اساسی زیربنایی تاسیساتو سره په کوم موقعیت کی قرار لري باید په دیاګرام کی شامل شي . د سرک سره نژدې والی بزګرانو سره مرسته کوي چه د موادو د انتقال مصارف تر کوره او یا تر بازاره او پراسس کولو تر ځایه راښکته شي . په هغه وخت کی چه باارزښته او مصرفیدونکی فصلونه تولید او بازار ته عرضه کیږي، نو وخت او مصارف یی ډیر مهم دي.

په شرقی زون کی ټول زراعتی فعالیتونه د اوبوني په عنعنوي سیستم باندی متکي دي . بزګران باید یو څه وخت ددی لپاره پیدا کړي تر څو د اوبوني شبکه پاکه کړي چه ټولو پټیو ته ورسیږي . که چیری کافی اوبو ته لاس رسی یوه ستونزه وي، نو د ګډه کرونده او د ځمکی قسمت یا ټا کل د بېلابیلو هدفونو لپاره باید هماغسی تنظیم شي.

د ځمکی څخه د استفادی پلانول

ځینی ځمکی د دانه بابو د فصلونو لپاره مناسبی وي، ځینی د سبزیجاتو او ځینی د ونو لپاره لکه میوه داری ونی . ځینی ځمکی د فصل د تولید لپاره مناسبی نه وی خو کیدای شی چه د څارویو د پوولو او د ک بانو د فارم لپاره مناسبي وي. د ځمکی د مناسبوالی پیژندل د بیلابیلو فعالیتونو لپاره بزګرانو سره مرسته کوي چه ځمکه د خپلو تولیدي هدفونو سره پرتله کړي . کیدی شی چه بازار کی ځینو تولیداو د خرڅلاو لپاره ښه فرصت موجود وي خو که ځمکه ورته مناسبه نه وي، نو نشو کولای چه د نوموړي فرصت او چانس څخه ګټه واخلو.

د تولیداتو پلانول

لکه څنګه چه ددی کتاب اصلی ټینګار د سبزیجاتو په تجارتي تولید باندی دی، نو پلانول هم باید د سبزیجاتو په برخه کی وشي . بزګران معمولاً په بیلابیلو تولیدي کارونو کی مصروف وي . د هر تولیدی تشبث لپاره لکه مالداری، ونی او داسی نورو لپاره باید پلانول په مشابه ډول تر سره شي تر څو بزګران وکولای شي چه په عمومی ډول تخصیص او ټاکل تر سره کړي.

کروندګر مشوری ته اړتیا لري چه کوم ډول فصلونه وکری او د بازار د کوم فرصتونو څخه ګټه واخلي، که څه هم بزګران باید تل آخرنی پریکړه خپله وکړي. پراختیایی کارکوونکی دوی سره مرسته کولای شي چه بیلابیلی لاری وڅیړي. د سبزیجاتو د تولید په پریکړو باندی د بازار په هکله معلومات او آشنایی مهم اغیزه لري . دا پدی معنی ده چه داسی سبزیجا ت وکرل شي چه بازار کی ورته تقاضا موجوده وي او کوم چه بزګرا ن کولای شي په موثره او ګټوره توګه وکری .

د منفردو سبزیو انتخاب

د سبزیو انتخاب باید د هغوی څخه د راتلونکو تر لاسه کیدونکو ګټو په اساس تر سره شي . د 2.1 جدول د ساده طریقی څخه استفاده بزګرانو سره مرسته کولای شي چه تعین کړي چه کوم سبزیجات ورته ډیر ګټور دي . د قیمت په هکله دقیق معلومات او د هغه وړتیا چه په واقع بینانه توګه د بیو په اړه وړاندوینه تر سره شي خو دا اهمیت لري تر څو ډاډمن شو چه راتلونکی ګټه باوری ده او پدی توګه یوه سمه پریکړه وکړو . د شرقی زون د معلوماتو سیستم په ورځنی تو ګه د موادو د بیو په هکله معلو مات تهیه کوي. هم د نورو (لکه سره، تخم، حشره وژونکی مواد او داسی نور) په هکله او هم د محصولاتو په هکله (لکه میوی، سبزیجات، زړي)، چه دا معلومات د بیلابیلو ذریعو په واسطه (رادیو، بریښنالیک، لیکلی تیلفونی پیغام) بزګرانو ته رسوي. تاسی د بزګرانو سره مرسته کولای شۍ چه دا معلومات وکاروي او د بیلابیلو فصلونو څخه لاس ته راتلونکی ګټی محاسبه کړي . په 2.1 جدول کی مثال د بادرنګو دی چه په شرقی زون کی کرل کیږي او یو کیلو په لسو افغانیو پلورل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عاید		(a) Market yield per jerib 3500 Kg (b) Price at 10 Af/Kg		
		ناخالصه ګټه = axb = ۳۵۰۰۰		
				Af
د تولیدولو مصارف	د خامو موادو مصارف	تخم	200 g at 6 Af/g	1200
		DAP	25 Kg at 27 Af/Kg	675
		یوریا	50 Kg at 15 Af/Kg	750
		حیواني سره	4 T at 500 Af/T	2000
		حشره وژونکی کیمیاوی مواد	500 cc at 0.3 Af/cc	150
		فنګس وژونکی	500 g at 0.3 Af/g	150
		ترکتور	2 hr at 400 Af/hr	800
		د حیوانی سری انتقال	2 trips at 500/trip	1000
			Subtotal inputs	**6725**
	د کار مصارف	د ځمکی،چرو او بستر تیارول	10 days at 150 Af/day	1500
		کرل او د بزغلیو انتقال د سری تطبیق	5 days at 150 Af/day	750
		د حشره وژونکو کیمیاوی موادو تطبیق	5 days at 150 Af/day	750
		اوبه ورکول	2 days at 150 Af/day	300
		د هرزه بوټو کنترول	15 days at 150 Af/day	2250
		حاصل ټولول	20 days at 150 Af/day	3000
			14 days at 150 Af/day	2100
			د کار او زحمت فرعی مجموعه	**10650**
	د بازاریابی مصارف	بسته بندی	۷۵ بوجی، یوه بوجی په ۵ افغانی	375
		انتقال	۷۵ بوجی، یوه بوجی په ۵۰ افغانی	3750
		مالیي	۷۵ بوجی، یوه بوجی په ۲ افغانی	150
			د بازاریابی فرعی مجموعه	**4275**
			c. د تولیداتو او بازاریابی مجموعه	**21650**

Gross Margin/net return per jerib [(a x b) – c] = 13350 Af

Break even price per Kg (c÷a) = 6.2 Af/Kg

د مصارفو په محاسبه کی باید په یاد ولرو چه ۸۰ فیصده مصارف په ۲۰ فیصده شیانو باندی راځي نو له همدی کبله دا مهمه ده چه د غټو مصارفو په هکله د قیق معلومات ولرو . د بزګرانو مصارف او ګټی توپیر کولای شي او پورته ښودل شوي حسابونه دوی سره مرسته کولی شي چه خپل اجراات د نورو سره پرتله کړي.

کله چه د تولید مصارف او ګټی حساب شوي، بیا کیدای شي چه په یو مختصر جدول کی ډیر فصلونه سره مقایسه شي. جدول ته وګورئ چه د C فصل د خرڅولو لوړ ارزښت لري لیکن نظر د A او B فصلونو ته یی ګټه کمه ده. بزګران باید ناخالصه ګټي او خالصه ګټو تر منځ په توپیر باندی پوه شي (خالصه ګټه چه کله مصارف تری وښکل شي).

برسیره پر دی چه د ټاکلو فصلونو ګټه معلومه شي، بزګران با ید د بازار به هکله معومات تر لاسه کړي لکه هغه معلومات چه د شرقی زون د بازار د معلوماتو د سیستم پواسطه ورکړل کیږي او همدارنګه د مارکیت په هکله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيرنه تر سره کړي تر څو معلومه کړي چه کوم فصلونه شايد د قيمت، کيفيت او ياموسم له نظره ډير کاميابه اوسي. دا معلومات بايد همدارنګه معلومه کړي چه هغه ډولونه چه ډير مصرفيږي او خلک نورته ترجيح ورکوي کوم دي او هم د عرضه کولول لپاره مناسب وخت معلوم کړ ئ. دا ټولی لاس ته راوړني بايد د بزګرانو لپاره په عملی وړانديزونو تبديلی شي چه لاندی ټکي پکی شامل وي:

- هغه ډولونه چه په بازار کی ترجيح ورکول کيږي
- د کښت تاريخونه (مثلاً د عرضی موده اوږدول لکه د پرله پسی فصلونو کښت، هغه وخت هدف ټاکل چه بيه لوړه وي او يا د ډيری عرضی د وخت څخه ډډه کول).
- نور تخنيکونه تر څو توليدات داسی وختونو ته برابر شي چه لوړه بيه ولري لکه د وختی او ناوخته ډلونو استعمال د پرله پسی فصلونو په سيستم کی د پوليتين تونلونو څخه استفاده
- هغه تخنيکونه چه کيفيت پری اصلاح شي لکه په مناسبه توګه سره ورکول، د فصلونو حفاظت، ښاخونه قطع کول، ښه او موثره اوبونه، او د هوا څخه يی ساتل

د ډيرو سبزيو انتخاب

بزګرانو ته دا توصيه کيږي چه د فصلونو د ډيرو ډولونو د انتخاب او په هغو ډولونو باندی تمرکز کول چه ورته ډيره ګټه کوي، ددوی تر منځ يو تعادل غوره کړ ئ. د ډيرو فصلونو توليد په بازار کی د يو فصل د ناکامی اغيزه کموي. د مثال په توګه که چيری بزګران يوازی کچالو کري او هغه هم د Potato Blight د حملی لاندی راشي نو هيڅ به په هغی موسم کی لاس ته ورنشي . خو که چيری دوه يا دری نور فصلونه وکر ئ او په کاميابی سره يی حاصلات راټول کړ ئ نو د کچالو د ناروغی پواسطه ډير کم متاثره کيږي . اکثره ډير ګټور فصلونه ډير خطرناکه وي نو بهتره داده چه داسی يو سيستم ولرو چه په هغی کی خطرناکه فصلونه د هغو فصلونو پواسطه جبران شی چه باوري وي. مثال يی کيدای شی داوی چه يو يا دوه د سبزيجاتو ګڼ فصلونه وکرل شی لکه پياز او کچالو د لوړ قيمت والا توليداتو سره لکه شنه يا سور مرچکيان او پانی لرونکی سبزيجات يا سلاد.

په شرقی زون کی د ميوو او زړو يا خستو ونو ته پرمختګ ورکول کيږي، تر هغه پوری چه ونې لويږيږي او مکمل توليدات ورکوي، کولای شو چه سبزيجات پکی وکرو . دا طريقه بزګرانو سره مرسته کوي چه په فوری ډول ګټه لاس ته راوړي په داسی حال کی چه دری يا څلور کاله ونو ته انتظار وکاږي.

د فصلونو تناوب

يوه سبزی يا د يوی کورنی پوری مربوط فصل بايد په يوه ټاکلی ځمکه کی هر موسم ونکرل شي (لکه د Solanaceous د کورنی نباتات). د فصلونو تر منځ په ښه توګه اداره شوی تناوب لکه د منی او دوبی د سبزيجاتو تر منځ کولای شي چه کرونکو ته ډيری ګټی ورپه برخه کړي ځکه چه مصارف يی کميږ ي او حاصلات لوړيږي. هر وخت يو ډول فصل کرل آسانه وي خو مضره بوټی کولای شي چه په چټکی سره ډير شي او فصلونو ته ضرر ورسوي. تناوب ددی ستونزی څخه مخنيوی کولای شي اوهم د قيمته کيمياوی دواوو د اخيستلو څخه چه د هرزه ګياه د مخنيوی لپاره استعماليږی مخه نيول کيږی.

د ناروغيو عاملين او مضره حشرات په ځمکی کی په نباتی بقاياوو او په هغو نباتاتو کی چه د پټيو کی وي، ژوند کولای شي. لکه څنګه چه ځينی مضره حشرات يو ډول فصل ته خصوصيت لري نو په فصلونو کی دوران ددوی د ډيرښته مخه نيسی او شمير يی کموي . دا خصوصاً د Cucurbits لپاره (هندوانه او بادرنګ)ب، د Salanaceous نباتاتو لپاره (روميان، بانجان، کچالو) او Brassicas (کرم او ګلپی) لپاره اهميت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور	پاڼی	ريشی	د نبات هغه برخه چه په حاصل کی اخيستل کيږي
رومی، پیاز، هوږه، cucurbits	ګلپی، کرم، براکولی، کاهو	ګازری، کچالو، ملی، شلغم	فصلونه
د کښت په وخت کی ډيره سره علاوه کړئ	ښه تجزيه شوي حيوانی سره، که ځمکه کمبود ولري	سره مه علاوه کوئ	سری ته ضرورت
ژوري ريشي نه لري		په ژوره توګه يی وکرئ	د ځمکی تيارول
په منظم ډول اوبه ورکول	ډيرو اوبو ته ضرورت لري	ښه تخليه مهمه ده	د اوبو اړتياوي

ځينی فصلونه نظر نورو ته ډير غذايی مواد اخلی. بيلا بيل فصلونه د ځمکی د بيلابيل برخو څخه غذايی مواد اخلی د مثال په توګه ريشی او غوټی د ځمکی د ژوری برخی څخه غذايی مواد اخلي نظر پاڼی لرونکو فصلونو ته . بزګران بايد تناوب زراعتی په پام کی ولري . په ځمکه باندی مختلف سبزيو په مختلفو وختونو کی يوه بله طريقه ده چه د خطرانتشار کميږی. په شرقی زون کی يو توصيه شوی دوران يا تناوب دادی چه اول ريشی والا فصل او بيا بل فصل او ورپسی پاڼی لرونکی فصل به عين ځمکه وکرل شي.

2.3 جدول دا مونږ ته راښيي چه کوم سبزی چه په دری واړو کتګوريو کی پيداکيږي د هغوی اداره کولو اړتياوی خلاصه کوي.

د پانګی اچونی پلانول

د سبزيجاتو په تجارتی توليد کی پانګه اچونه بايد د خطر په کمولو سره د بزګرانو عايد ښه کړي، عايد د قيمت په لوړولو سره ښه کړي، د حاصل په ډيرولو سره ګټه لوړه بوزی، د توليد مصارف کم کړي او يا اضافی ګټه توليد کړي.

پانګه اچونه

هغه پانګی اچونی چه حاصلات په ثابت ډول لوړوي او خطر کموي دادي:

- تجهيزات، کيمياوی مواد او يا تکنالوژی چه د مضره حشراتو او ناروغيو په مقابل کی ساتنه کوی لکه دواپاش او دواګانی
- د اوبو ورکولو سا ختمان او يا نور تکنالوژی اصلاح کول (لکه د Polyethylene تونلونه) چه د هوا د برعکس حالاتواغيزی کموی. دغه راز پانګه اچونه د سبزيجاتو په توليد کی په خاصه تو ګه اهميت لري. کله چه حاصلات د ناروغيو يا حشراتو له امله کمه وی نو په بيو يا قيمتو کی د پام وړ لوړوالی راځی، نو هغه کرونکی چه حاصلات يی ډير کم متاثره شوي وي ډيره ګټه کوي.

هغه پانګه اچونی چه د توليداتو بيه اصلاح کوي په لاندی ډول دي:

- تکنالوژی د بی موسمه توليداتو لپاره لکه د Polyethylene تونلونه او يا د بزغليو پرمختللی تکنالوژی
- هغه پانګه اچونی چه مستقيماً د بازاريابی د اصلاح لپاره ترسره شوی وي لکه په فارم کی ذخيره، د انتقال ترکونه او تيليفونونه چه اړيکی پری ډيری وسائل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هغه پانګه اچونه چه د تولیداتو کیفیت اصلاح کوي (لکه اوبه ورکول، د فصلونو حفاظت، د کښت لپاره د لوړ کیفیت لرونکی مواد او تصدیق شوي تخمونه، د کاګرانو روزنه)

هغه پانګه اچونه چه حاصلات لوړوي:

- د اوبو ورکولو تجهیزات
- کیمیاوی او حیوانی سری (صحیح اندازه، د تطبیق مناسب وخت، د بی لابیلوغذایی موادو صحیح مقدارونه)
- تصدیق شوي تخمونه او د لوړ کیفیت والا د کښت مواد

هغه پانګه اچونه چه د تولید مصارف کموي:

- د مضره بوټو پر ضد کیمیاوی مواد او میخانیکی وسایل چه مزدورانو ته ضرورت کموي

هغه پانګه اچونه چه اضافی ګټی پیدا کوي:

- د پروسس کولو ماشین آلات چه د تولیداتو ارزښت لوړوي
- انتقال یی ترڅو تولیدات نوو بازارونو ته یوسي

د موادو تهیه کول

د موادو تهیه کول په ګټه باندی مستقیمه اغیزه لري . که چیری صحیح مواد په صحیح وخت کی او په مناسبه بیه مهیا نه شي نو د سبزیجاتو تولید به ګټور نه وي . بذري تخم او د کښت مواد خاص اهمیت لري. صارفین د رنګ، خوند او ډول لپاره ترجیحات لری . د مثال په ډول په هندوستان کی صارفین کوچنی رومیان (Roma type) خوښوي خو په کابل کی خلک غټ او ګرد ډولونه خوښوي (د Beefsteak ډولونه یی). د تولیداتو رنګ هم مهم دی لکه توربخن بانجان نظر شنو ډولونو ته ډیر خوښیږي. د ښه کیفیت او د ناروغی څخه پاک د کښت د موادو په استعمال سره د کرونکو ګټه لوړیږي. د پراختیایی کارکوونکو وظیفه داده چه ډاډ تر لاسه کړي چه د بذری تخمونو عرضه کوونکی او قوریی چه کوم ډولونه ذخیره کړي او بل داچه بزګران پوهیږي چه ددوی د ضرورت وړ مواد د کومو خرڅوونکو سره شته.

په اوسنی حالت کی په شرقی زون کی DAP او یوریا یوائینی سری دی چه په بازار کی پیداکیږي. لکه څنګه چه خاوره د متوسط څخه تر قوي درجی پوری القلی ده، د کوچنیو یا مایکرو غذایی موادو کمښت (لکه اوسپنه، جست، منګانیز او داسی نور) د سبزیج اتوحاصلات محدودوي. لکه څنګه چه ډیر تخنیکی معلومات لاس ته راځی چه وپوهیږو چه دا ډول ځمکی څنګه اداره کړو، پراختیایی کارکوونکی باید د موادو عرضه کوونکی خبر وساتي ترڅو هغوی وکولای شي چه مناسبی سری ددی ستونزی د رفع کولو لپاره واردی کړي.

حشرات او ناروغی په شدیده توګه د یو سبزی کیفیت، قیمت او احتمالی ژوند کمولای شي. ځینی وختونه داستونزی د فصل د ساتنی مناسبو عملونو پواسطه حل کیدای شي . هندوستان د سپری پروګرام معرفی کړ ترڅو د کشمیر د مڼو د Scab ناروغی کنترول کړي. ددی پروګرام د معرفی کولو یوه مهمه مرحله دا وه چه ډاډ ترلاسه کړي چه د زراعتی کیمیاوی موادو پلورونکی توصیه شوی مواد لری.

مالیه او قرضه

بزګران اکثراً د کار سرمایه نه لري چه په تولید کی یی پانګه اچونه وکړي . په شرقی زون کی اوس هیڅ مالی اداری نشته چه برګرانو ته د سبزیجاتو د تولید لپاره قرضی ورکړي . د خپلو منابعو برسیره هغوی باید په غیر رسمی منابعو باندی لکه محلی قرض ورکوونکي، د فامیل غړي، ملګري، تجاران او عمده فروشانو باندی تکیه وکړي. غیر رسمی قرضی د نژدی فامیلی اړیکو په بنا تر سره کیږي او یا باهمی اعتماد موجود وی او د کاغذ پرانی څخه خلاص وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تجارتي کولو پــلان

د بازار یابی ستراتیژۍ یا کړنلارې

بزګران د بازاریابی ډیری لاری لري چې هره لاره ځانته ګټې او تاوانوه لري (2.4 جدول). پراختیایي کارکوونکی یا توسعه کار د بزګرانو سره مرسته کولای شي چه دغه لارې تحلیل او تجزیه کړي . د مثال په توګه دا چه په محلی بازار کی تولیدات وپلوري او یا په عمده فروشانو باندی یی د صادرولو لپاره اماده او وپلوری

24 جدول: د بازاریابی متبادلې ستراتیژۍ

	ګټې	تاوانونه
په ګاونډیو خرڅول	په تجارتی کرنه کی لمړی قدم ، کرونکي باید وتوانیږي چه داسې تولیدات عرضه کړي چه نوریې په کرلو کی ستونزه ولري او یایی نه شی کرلی لکه بی موسمه تولیدات یا ډیر مشکل تولیدات	په آسانی سره کیدی شی چه بازار ته عرضه ډیره شي
محلی بازار کی خرڅول	په تجارتی کولو کی دا بله مرحله ده. په دی مرحله کی تولیدات محلی بازار ته چه اکثراً یو کوچنی بازار وي، انتقالیږي او خرڅیږي	په آسانی سره کیدی شی چه بازار ته عرضه ډیره شي
په ملاقات کوونکو تاجرانو باندی خرڅول	هغه تاجران چه په کرونده کی تولیدات اخلي، د انتقال جنجال پکی شامل نه وي . ښه اخیستونکی کولای شی چه نظر ورکړي چه کوم تولیدات بازار کی غوښتل کیږي، چه دا کار بزګرانو ته ورتیا ورکوي چه په تولید باندی تمرکز وکړي.	مشکل وی چه د یو پیاوړي موقف څخه بیه وټاکل شي . په اخیستونکی باندی د معلوماتو لپاره تکیه کیږی.
د عمده فروش بازار له لارې خرڅول	بازار د تولیداتو ډیر مقدار جذبولای شي . د بازار بیی په نسبی توګه شفافی وي . که چیری کافی اندازه موجوده وي او بزګران منظم وي نو تولیدات د بیلابیلو بازارونو څخه راټولیدلای شي.	د بازاریابی او تجارت لوړ مهارت ته ضرورت دی . د بازار نمایندګان باید انتخاب شي، بیی چیک شي انتقالات تنظیم شي او تولیدات درجه بندی، بسته بندي او بازار ته وړاندي شي.
پروسس کوونکو باندی خرڅول	پروسس کوونکی ضرورت لري چه خام مواد تر لاسه کړي نو ځکه دا بازار ډیر باوری دې . ځینې پروسس کوونکی خام مواد او تخنیکی مرستي رسولای شي تر څو د حاصل اندازه او کیفیت اصلاح شي . قرارداري تولیدات یو امکان دی . په عمومی توګه د پروسس شوو غذاګانو لپاره تقاضا مخ بهډیریدو ده	قیمت کیدای شی چه ښکته وي . بزګران شاید د قرار داد خیال ونه ساتي او په محلی بازارونو کی یی په لوړه بیه خرڅ کړي . پروسس کوونکی شاید د ضرورت وړ مرستی او مواد تهیه نکړي . پروسس کوونکی شاید ومومی چه د پروسس شوو موادو لپاره تقاضا کمیږي نو هغوی د بزګرانو څخه تولیدات نه اخلي
د ښار شاوخوا تولید	هغه تولیدوونکی چه د ښار په شاوخوا کی قرار لري کولای شي چه غټو ښاری بازارونو ته لاره وموMي خاصتاً د مصرفی تولیداتو لپاره. تولیدات بازارته انتقالیږي او تقاضا ډیره وي . تاجران تولیدات د ځمکو څخه اخلي او حتی حاصلات هم ټولوي	غلا او امنیتی مشکلات کیدی شی یو جدی ستونزه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیو او د کیفیت تقاضاګانی د بازار د هری برخی لپاره فرق کوي . بزګران باید وپوهیږي چه څه شي ته ضرورت دی او د بیو په هکله ښه معلومات ولري تر څو ښه پریکړه وکړي.

د بازار په هکله معلومات

کرونکی په شرقی زون کی د بازار د معلوماتو سیستم ته لاس رسی لری. دا معلوماتی سیستم معومات راټولوي، تجزیه کوی یی او په پنځه بازارونو کی د ۵۸ تولیداتو په هکله د بیو معلومات خپروي . په کابل، اسداباد، جلالآباد، مهترلام او پیښور کی . په تولیداتو کی زراعتی مواد لکه سره، تخم، حشره وژ ونکی مواد او همدارنګه محصولات لکه میوی، سبزیجات او غوښه شامله وی . د کرنی او مالداری د وزارت (MAIL) پراختیایی کارکوونکی اود ختیځ زون د بدیل معشیت (ALP/E) تخنیکران د بیو په هکله معلومات په ورځنی توګه راټولوي، معلومات جدول (ډاټابیس)ته داخليږي چه د مختلفو وسیلو پواسطه خپریږي – د رادیو، بریښنالیک او تیلیفونی لیکلی پیغامونه د غوښتنې په اساس . TAMAS په افغانستان کی د موبایل د لیکلی پیغام یوه برخه ده چه تر اوسه بی ساری ده . دا سیستم د بیو په هکله معومات خپروي تر څو بزګران او تاجران ښه تصمیمونه ونیسي . TAMAS هر سهار نهه بجی نوی کیږي او ۲۴ ساعته فوری یا مستقیم د بازار معلومات ورکوي.

> د بادرنګ د بیو په هکله غوښتنه د کابل په بازار کی
>
> 1. د انګریزي لپاره ***e*** استعمالول
> 2. ***009*** د بادرنګ لپاره
> 3. ***5*** د کابل لپاره
> 4. ***w*** د عمده فروشی لپاره
>
> دا پیغام ***0797000700*** ته واستوئ
>
> د یو څو ثانیو په دننه کی به تاسی ته په کابل کی د بادرنګو عمده فروشی بیه راولیږل شي.

بزګران کولای شي یو لیکلی پیغام تاماس ته د تولید او بازار د کودونو سره واستوي او په یو څو ثانیو کی کولای شی جوابی پیغام تر لاسه کړي . پراختیایی کارکوونکی باید د تاماس د کودونو د معلومات ورقی (بروشر) له ځانه سره ولري چه بزګرانو ته یی ورکړي. هغوی کولای شی بزګرانو ته وښايي چه څنګه تری استفاده وکړي.

د بازار او کاروبار ترمنځ اړیکي پیدا کول

یو احتمالی اخیستونکی شاید د هغو سبزیجاتو څخه بی خبره اوسي چه په شرقی زون کی یی بزګران تولیدوي او یا د هغو تولیداتو څخه ناخبره وي چه د بازار د شتون په صورت کی یی نوموړي بزګران د تولید توان لري . د بزګرانو یوه ډله شاید په انفرادی توګه په صارفینو باندی تولیدات خرڅ کړي، حال داچه ددی څخه ناخبره وي چه یو عمده فروش یی په ښه بیه اخلي که چیری په کافی اندازه ورکړل شي برسیره پر دی، بزګران شاید دا مهارت ونلری چه په عمده فروشانو باندی یی په ښه بیه خرڅ کړي.

بزګران د میسج (پیغام) له لارې نرخونه معلوموي.

د پراختیایی کارکوونکو په توګه تاسی مسولیت لر ئ چه بزګرانو سره مرسته وکړئ چه د بازار او کاروبار اړیکی ټینګې کړي او په ډیره ښه بیه تولیدات خرڅ کړي . تاسی کولای شئ چه د نوو

تجارتونو په ټینګولو کی برخه ولر ئ او د مشکل او یا مخابراتو ستونزو په صورت کی ارتباطی حیثیت ولر ئ. تاسی کولای شئ چه د شرقی زون د بزګرانو لپاره فرصتونه ولټو ئ تر څو په منطقوي او حتی بین المللی کرهنیز نمایشونو کی برخه واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د FAO د کرنی او د بازاریابۍ د پراختیا رهنما کتاب دې، پنځمه د پراختیایی کارکوونکو لپاره یو ډېر ښه مآخد گڼه یی. د پراختیایی کارکوونکو د وندی په هکله ډېر توضیحات ورکوي او د بزګرانو سره د کارکولو طریقی او وسیلی وراندی کوي تر څو تولیدات یی ډېر ګټور شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. د نبات تغذیه د سبزیجاتو په تولید کی

1.3 سریزه

د غذایی موادو اخیستل، شاملول او د ودی لپاره د غذایی موادو استعمال عملیی ته نباتی نغذیه وایی . د سبزیجا تو تولید د تغذیی له وجه د د دری نقطو له نظره مثبت یا منفی متا ثره کوی

- کیفیت: په خاوره کی باید د ضروری عناصرو او منرالونو صحیح توازن و جود ولري تر څو نباتات تری استفاده وکړي
- مقدار: ددی موادو کافی اندازه باید خاوره کی موجود وي چه د نباتاتو اړتیاوی پوره کړي.
- وخت: د ودی او پرمختګ به صحیح وخت کی باید متنوع غذایی مواد موجود وی

توسعی کارکوونکی باید د نباتی تغذیی په اساساتو پوه شي تر څو هغوی وکولای شی چه بزګرانو ته مشوری ورکړي چه څنګه د ښه کیفیت لرونکی سبزیجات تولید کړي او بازار کی یی خرڅ کړي . پدی فصل کی د نباتاتو ضروری غذایی موادو په هکله معلومات وړاندی کیږی او ددی غذایی موادو په نقش باندی چه د نبات به وده کی یی لری معلومات ورکول کیږي. همدارنګه د خاوری د pH او د غذایی موادو د موجودی ترمنځ ارتباط څیړي . او دا چه څنګه د بزګرانو په ځمکه کی د غذایی موادو کمښت تشخیص شي.

2.3 د نبات اساسی غذایی مواد

د نبات د ودی لپاره ۱۶ عنصره مهم ګڼل شوي دي . مهم عنصر هغه دي چه کله په عدم موجودیت کی یی نبات ووژل شي. غیر منرالی عنصرونه لکه کاربن، هایدروجن او آکسیجن د هوا او اوبو څخه راځی . دا دری واړه د نبات پواسطه استعمالیږي او د لمر د وړانګو په موجودیت کی په شکر او نشایستی تبدیلیږي چه د نبات غذا تشکیلیوي. لکه څنګه چه دا عنصرونه د هوا او اوبو څخه راځي نو بزګران پکی څ ه خاص نشی کولای یعنی اندازی یی تر کنترول لاندی نشي راوستلای . پاتی ۱۳ عنصرونه منرالونه دي. کله چه په اوبو کی حل شی نو د نبات د ریشو د سیستم پواسطه جذبیږي او داسی ضروری ترکیبات جوړوي چه د نبات د حیاتی فعالیتونو لپاره ضروري وي. کله چه په خاوره کی موجود غذایی مواد، د نبات د ودی او انکشاف لپاره په کافی اندازه نه وي نو بزګران کولای شي چه د سری په شکل یی ورعلاوه کړي . ددی غذایی موادو دری عنصرونه چه نایتروجن، فاسفورس او پوتاشیم دی هغه لومړی مهم عناصر دی چه نباتات یی په ډیره پیمانه د بشپړی ودی لپاره ورته ضرورت لري. دا عنصرونه معمولاً په خاوره کی په کافی اندازه موجود وي او هم کیدای شي چه د ځینو پرمختللو سرو په ترکیب کی ورعلاوه شي.

پاتی نور ۷ عنصره چه کوچنیو غذایی موادو پنامه یادیږی د بورون، اوسپنی، مولبدینیم، کلورین، منګانیز، مس او جستو څخه عبارت دي. او به نهایت کم مقدار ورته ضرورت وي. اکثره خاوری په کافی اندازه دا عناصر لری خو د نباتاتو اړتیاوی دی عنصرونو ته مختلفی وي او موجودیت یی د خاوری د pH پوری اړه لري.

3.3 د غذایی موادو نقش د نبات په ودی او انکشاف کی

د نبات هر غذایی عنصر د نبات په وده او انکشاف کی رول لري . د یوی عمومی قاعدی په توګه ویلای شو چه نایتروجن د پانی لرونکو نباتاتو د ودی، فاسفورس د ریشی او میوو د تولید لپاره، پوتاشیم د سرو به مقابل کی د مقاومت د ډیرولو، د ناروغیو په مقابل کی د مقاومت ډیرولو او ښه خوند او کیفیت لپاره دی . د سبزجاتو د کرونکو لپاره ضروری ده چه پدی خبرو وپوهیږي او د فصل په باره کی لازمی پریکړې وکړي. 4.1 جدول بزګرانو ته بو نظر ورکوي چه هره غذایی ماده څومره مهمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

1.3 جدول: د مغذی عناصرو رول د نبات به وده او انکشاف کی

نبا ت غذایی عنصر	د نبات په وده او نکشاف کی یی رول
نایتروجن	د ساقی او پاڼی د ودی لپاره مهم دی، د نباتی پروتینو او انزایم د ترکیب لپاره هم ضروری دی . په ډیره پیمانه شاید د نبات پخیدل وځندوي ځکه چه یواځې نمویی وده ډیروي.
فاسفورس	د تخم د شنه کیدو او د ریشو د ودی لپاره ضروری وی. د ګل او د میوی د تشکیل لپاره هم ضروری دی . فلسفورس د زړو نسجونو څخه ځوانو نسجونو ته انتقالیږي او به میوو او تخمونو کی تراکم کوي.
پوتاشیم	دا عنصر د نبات پواسطه په ډیره اندازه نظر نورو عنصرونو ته بغیر د نایتروجن څخه ، جذبیږي . د اوبو توازن ساتی ، سختوالی د ساقی او د سړو په مقابل کی مقاومت ډیروي. د مېوو او سبزیجاتو په خوند او رنګ زیاتوالي راولی. د میوو د تیلو برخه اصلاح کوي او د پاڼی لرونکو سبزیجاتو لپاره مهم وي.
کلسیم	د حجروی دیوالونو د جوړښت یوه برخه تشکیلوي، په حجراتو کی د اوبو په جریان باندی اغیزه لری او د حجروی ودی او ویش لپاره ضروری وی. ځینی نبلتات د نایتروجن او نورو عنصرونو د اخیستلو لپاره باید کلسیم ولري.
مګنیزیم	د کلوروفیل یوه مهمه برخه تشکیلوي چه په شنو نباتاتو کی د فوتو سنتیز د عمل لپاره همدا موقعیت دي. د نباتی انزایمونو د فعالیت لپاره ضروری ده تر څو کار بوهایدریت، شکر او شحم تولید کړي . د میوی او زړي د تشکیل او د تخمونو د شنه کیدو لپاره ضروری وي.
سلفر	د پروتین، ویتامین او انزایم د جوړښت یوه برخه تشکیلوي. ډیر هغه انزایمونه چه د ساقی د غوټو په تشکیل او یا د نایتروجن په تثبیت کی رول لري، فعالوي. په شړشمو (mustard)، پیازو او اوږه کی د خاص بوی او خوند مسؤل دی.
بوران	د حجروی دیوال د تشکیل لپاره ضروری او تقریباً په نباتاتو کی ۱۶ وظیفی مختل کوي . پدی وظیفو کی ګل نیول، د ګردی تشکیل، میوه نیول، حجروي ویش، د اوبو ارتباطات او د هورمونو حرکت شامل دی.
مس	انزایمونه فعالوي او د نبات په وده کی دخالت لري. په ریشو کی تراکم کوي او د نایتروجن د میتابولیزم یوه برخه ده.
کلورین	د نبات د استقلاب سره مرسته کوی او د اسموس د عملیی osmosis لپاره ضروری دی (د اوبو او منحله موادو انتقا ل حجری ته). د نباتاتو سره مرسته کوي چه منرالونه واخلی او د فوتو سنتیز د عمل لپا ره ضروری دی.
اوسپنه	د کلوروفیل د تشکیل او ډیرو انزایمی فعالیتونو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

	ضروری دی. د ځوانو نباتاتو د دودی لپاره ضروری دی.
منګانیز	د فوتوسنتیز، تنفس او د نایتروجن د میتابولیزم یا استقلاب د عملیو لپاره او همدارنګه د پروتین د ترکیب لپاره ضروری دي
مولبدینیم	د پروتین د ترکیب او د ریشو په غوټو کی د نایتروجن د تثبیتوونکی بکتریا د فعالیت لپاره مهم دی . ددی څخه بغیر د پروتین ترکیب بندیږي او د نباتاتو وده دریږي.
جست	د کاربوهایدریت د استقلاب او د پروتین د ترکیب لپاره ضروری دی. د شکر مصرف تنظیموي او د انزایمونو د سیستم یوه برخه تشکیلوي.

4.3 د نبات د غذایی موادو موجودیت او د خاوری pH

pH یو مقیاس دی چه د تیزابیت د اندازه ګیری لپاره استعمالیږي . د ۷ څخه ښکته تیزابی، پورته القلی او ۷ خنثی ګڼل کیږي. د خاوری pH له همدی کبله د خاوری د قلوی توب یا تیزابیت ښکارندویه وي . اکثره نباتات د خاوری تیزابیت نشی تحمل کولای د خاوری د تیزابیت په مقابل کی.

اکثره سبزیجات په متوسط اسیدی او خفیفاً قلوی (pH 5.5 – 6.8) خاوره کی وده کوي خو په هغه خاوره کی چه خنثی حالت ته نژدی وي ډیره ښه وده کوي (pH 6.0-6.8) . په قوي پی اچ کی چه یا شدیداً قلوی او یا تیزابی وي ځینی غذایی مواد یا په قسمی او یا په بشپړ توګه به خاوره کی بند پاتی کیږي او د نباتاتو پواسطه نشی استعمالیدلای. ځینی نور یی په مقدار کی ډیر زیاتیږي او نباتاتو ته زهری خاصیت لري . د مثال په توګه په 5.5 pH کی او یا د هغی څخه ښکته د کلسیم، مګنیزیم او پوتاشیم موجودیت ډیر کم وي او ځینی نور لکه اوسپنه شاید به ډیر زیات مقدار موجوده شي. چه نبات ته زهري وي. تر ټولو مهم عنصرونه (N,K,P) په خنثی او خفیفاً قلوی خاوره کی ښه موجودیت لري . په یاد ولرئ چه که خاوره په متوسط ډول القلی شی (pH 8)، فاسفورس، بوران، مس، جست او اوسپنه نه مهیا کیږي.

2.3 جدول: دخاوری pH او د اساسی عناصرو موجودیت



(c) ketabton.com: The Digital Library



په شرقی زون کی خاوره متوسط یا قوي قلوي وی، په قلوی شرایطو کی د ځینو اساسی منرالونو موجودیت کميږي تر هغه حده پوری چه د غذایی موادو کمښت رامنځ ته کیږي . د اوسپنی، منګانیز، جستو مس او بوران د کمښت په وجه د نبات وده مح دودیږي. فاسفورس همدارنګه په قلوی خاوره کی لږ وي او د کلسیم اندازه زیاته وی چه شاید د حجری پواسطه د پوتاشیم او مګنیزیم اخیستل منع کړي چه اکثراً به قلوی خاورو کی یی کمبود لیدل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



4.3 شکل: د ځمکې pH او دغذايي موادو موجوديت

5.3 د غذايي عناصرو کمښت

د ودی د اندازی او د نبات پواسطه د غذايي موادو د اخيستلو تر منځ مستقيمه رابطه وجود لري . که چيری غذايي مواد به کافی اندازه په خاوره کی وجود ونه لري، نو نباتات تر فشار لاندی راځی او د حشراتو او ناروغيو په مقابل کی مقاومت د لاسه ورکوي. که چيری نباتات د خپل ژوند په يوه مهمه مرحله کی تر فشار لاندی راشي، نو پ ه حاصلاتو کی د پام وړ کموالی راځی.

د سبزيجاتو کرونکي او پراختيايی کارکوونکي دواړه ضرورت لري چه به ځمکه کی د غذايی موادو د کمښت نښی نښانی وپيژني . د روميانو په پاڼو باندی دا علامې د عکسونو په ترڅ کی وروسته ښودل شوي دي. کرونکی د سبزيجاتو دا عکسونه په پام سره په رنګه ښه کی کتلای شي تر څو د رنګ فرقونه يی تشخيص کړي . ددی معلوماتو نه په استفادی سره هغوی هڅه کولای شي چه په خپل فصلونو کی هم دغه علامی وګوري. دا دوی ته اجازه ورکوي تر څو تعين کړي چه آيا سبزيجات يی اساسی غذايی مواد به کافی اندازه لري.

6.3 د غذايي موادو د کمښت علامی – د رومی بانجانو مثال

لاندی عکسونه د ځينو غذايی موادو د کمښت علامی ښيي . په ځينو حالاتو کی دا علامی د شديد کمښت نمايندګي کوي خو دا عکسونه بزګرانو ته يو عمومی نظر ورکوي چه په خپل فصل کی بايد څه وګوري. او دا تجربی ته ضرورت لري چه يوه خاصه علامه د خاصی غذايی مادی کمښت ته منصوبه کړی شي . د تجربی په اساس د سبزيجاتو کرونکي او پراختيايی کارکوونکی به پدی وتوانيږي چه د کمښت د علامو لپاره فصل وګوري او ددی معلوماتو څخه استفاده وکړي چه لازمی سرې واخلي.

کله چه په نباتاتو کی د غذايی عنصرونو د کمښت علامی ګورو نو دا مهمه ده چه پوه شو چه ځينی غذايی مواد به نبات کی متحرک وي. هغوی د وړو پاڼو څخه ځوانو پاڼو ته حرکت کولای شي، کله چه د فشار په وخت کی ورته ضرورت پيښ شي. د نايتروجن او پوتاشيم د کمښت په صورت کی، د کم ښت علامی اول په زړو او پخو پاڼو کی ښکاره کيږي (ښکتنی پاڼی). کم متحرک عناصر لکه Ca, S, B, Fe چه د نبات په زړو برخو کی ذخيره کيږي، نشی کولای چه په آسانی سره د نبات نورو برخو ته د فشار په ځواب کی منتقل شي. که ددی عنصرونو کافی مقدار په خاوره کی نه وي چه نوې وده تقويه کړي نو بايد د بزګرانو پواسطه د سرې او يا کود په شکل علاوه شي.

نايتروجن: پاڼی کم رنګه شين څخه تر ژيړ رنګه پوری ځان ته نيسي . تر ټولو زړی پاڼی اول متاثره کيږي ليکن کله چه کمښت شديد شي نو ټول بوټی ژيړ اوړي. د ښاخونو تشکيل د نايتروجن د کمښت په صورت کی کميږي او وده يی هم بطی کيږي . زړی پاڼی د اوبو د معمولی فشار په صورت کی مړاوی کيږي.

فاسفورس: پاڼی سوربخنه ارغوانی، توربخن شين رنګ نيسی. زړی پاڼی مړی کيږي . Inter nodes لنډ وي او وده يی کمه وي. د ټول نبات وده بطي وي او پخيدل يی ځنډيږي. کاهو، روميان او د Brassica ډولونه يی (ګلپی، کرم) د ساقی، پيتيول او د پاڼی لاندی برخی يو خاص ارغوانی رنګ اختياروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوتاشیم: زړی پانی په څندو کی سوی او سختی لکه د څرمن په شکل کیږي . په کچالو او حبوبات کی لمړنی نښی یی دا وي چه پاڼی راقاتیږي، سپین رنګ اوکوچنی داغونه پکی پیدا کیږي.

کلسیم: ځوانی پاڼی ژیړی اوړي او بیا نصواري رنګ نیسي . څنډی یی نظر د پاڼی نورو برخو ته ډیر بطی نمو کوي چه باعث ددی کیږی چه پاڼه لاندی خوا ته قات شي. په نبات باندی نوی وده تور رنګ نیسي او له منځه ځي . زړی علامی د کلسیم د کمبود په رومیانو کی د غوټیو د ا نجامونو خوسا کیدل او کاهو کی د څوکو سوزیدل دي.

مګنیزیم: پاڼی نری وي، د رګونو تر منځ رنګ د لاسه ورکوي او پورته خواته د قاتیدو میلان پیدا کوي . علایم د نبات د کښتنی برخی څخه پیل کوی او پورته خواته په مخ ځي. په ځینو نباتاتو د براسیکا د کورنی کی لکه ګلپی ، کرم او داسی نورو کی تت نارنجی، ژیړ او ارغوانی رنګ پیدا کیږي.

سلفر: د ټول نبات پاڼی ژیړیږي، د ځوانو پاڼو په شمول. د پاڼو لاندی برخی او ډنډری ګلابی رنګ لري. په پرمختللی حالت کی، پاڼی میلان پیدا کوي چه نازکه ، را قات او ماتیدونکی شی.

بوران: څنګه چه بوران په اکثره نباتاتو کی په آسانی سره حرکت نشی کولای، په قلت کی یی د نبات وده کوونکی څوکی مري. نوری علامی یی د کلسیم د کمبود سره مشابهت لري . په هغو نباتاتو کی چه بوران ډیر تحرکیت لري، د کمبود علامی یی اکثراً د نبات په زړو انساجو کی لیدل کیږي لکه د نایتروجن او پوتاشیم په کمښت کی . ساقی تشی یا خالی او په میوه باندی تور ټاکی پیدا کیږي . پاڼی په غیر معمولی شکل ماتیدونکی وی او ځوانی پاڼی اکثراً مری حتی د کافی اوبو سره سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مس: په کمښت کی پاڼی تاویږي او پټیولونه لاندی خوا ته قاتیږي او که شدید وي د پاڼی څوکی مړی کیږي . ځوانی پاڼی پیکه شین رنګ نیسي او مړاوی کیږي.

کلورین: ډیره عامه نښه یی د ځوانو پاڼو رژیدل او مړاوی کیدل دي . ژیړیدل د پاڼی د رګونو تر منځ واقع کیږي. په ډیر پرمختللی حالت کی د پخو پاڼو په پورتنی برخه کی د Bronzing حالت رامنځ ته کیږي.



اوسپنه: ځوانی پاڼی د رګونو تر منځ ژیړیږي. بالاخره ټوله پاڼه داسی ښکاری چه ګوندی په بلیچ یا تیزابو باندی مینځل شوی وي . وروسته پکی تور داغونه پیدا کیږي. البته هغه ځای کی نسج مړ وي . د اوسپنی کمښت په Calcareous خاوره کی او غیر هوازی شرایطو کی ډیر عام دي.

منګانیز: په ځوانو پاڼو کی د رګونو تر منځ سپین والی پیدا کیږي او څنګه چه فشار زیاتیږي نو پاڼی یو خړبخن، فلزی حالت نیسی او د رګونو په اوږدوالی کی مړه ټکي پیدا کیږي. د پاڼو په پورته برخه کی یو ارغوانی رنګ پیدا کیږي.

مولبدینم: لکه څنګه چه مولبد ینیم د نایتروجن په انتقال کی یو ضروری عنصر دی، ددی عنصر د کمښت لمړنی علامی د نایتروجن کمښت سره یو یوشان وي، بدون د هغه سوربخن رنګ څخه چه د پاڼو لاندی پیدا کیږي. په اکثره نباتاتو کی پاڼی پورته خواته قاتیږي او داغونه پکی پیدا کیږي چه د رګونو تر منځ ژیړ نسج ت ری جوړیږي، البته په شدید حالت کی . په ډیر غلظت کی مولبدینم یو خاص زهری خاصیت لري . پاڼی نارنجی روښانه رنګ نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جست: د جست د کمبود په لمړنيو مرحلو کی ځوانی پاڼی ژيړيږي او د رګونو ترمنځ د پاڼی په پورتنی سطحه ژوروالی پيدا کيږي. څنګه چه کمبود پرمخ ځي، نو د رګونو ترمنځ نسج مړ کيږي خو رګونه شنه پاتی کيږي.

7.3 د غذايی مواد د کمبود د تشخيص لپاره کلي

د پورتنيو توضيحاتو او عکسونو سربيره، کرونکي يوه ساده وسيله چه د کلي پنامه يادېږي، استعمالولی شي . هم پری کمبود او هم زياتوالی معلوميږي چه په 4.1 شکل کی ښودل شوی ده. کرونکي او پراختيايی کارکوونکی يی د ځانه سره ځمکو ته وړلای شي . د شکل په يو اړخ په سور رنګ د علامو توضيح ده چه شايد دوی يی د پاڼو لاندينی برخه کی وګوري. دا د کمښت علامی او يا ډير زياتوالی چه نبا ت ته زهری تماميږی توضيح کوي . د چارت بل اړخ په آبی رنګ هغه علامی توضيح کوي چه د ځوانو پاڼو په پورتنی برخه کی پيداکيږي.

پام وکړئ چه تاسی د چارت په دواړو خواوو کی نايتروجن او سلفر ليدلی شیء. دا دواړه د پاڼی د عمومی ژيړيدو سره تړلی دي. که څه هم د نايتروجن لمړی کمبود به ځوانو پاڼو کی ليدل کيږي، په شديدو حالا تو کی ټول نبات د سپيره شين نه نيولی تر ژير رنګ پوری اختيارولی شي . سلفر د نبات د پخو او ځوانو برخو ترمنځ په اسانی سره حرکت نه کوي. نسبتاً غير متحرک دی. اولی علامی يی په ځوانو پاڼو کی ليدل کيږي ليکن په شديد حالت کی ټول نبات متاثره کيږي.

د کمبود علامی چه پورته ذکر شوی يواځی په پاڼو کی وي خو چه کله کمبود شديد حالت نيسي نو ټول نبات متاثره کيږی. د مثال په ډول که نباتاتو کی د فاسفورس کمبود رامنځ ته شي نو نمو او وده يی ورو کيږي او کوچني پاتی کيږی. د مسو شديد کمښت باعث ددی کيږي چه وده کوونکی څوکې مړې شي او نبات کوچنی پاتی شي.

د ځينو غذايی موادو کمښت د خاصو فزيولوجيکی تشوشاتو يا بی نظميو پواسطه په اسانی سره پيژندل کيږي . په ګلپيانو کی د بوران کمښت د خالی منځی ساقی او خړ رنګه مادی سبب ګرزي . د کلسيم کمښت په روميانو او هندوانو کی د غوټی د نهايت د خوسا کيدو سبب ګرزي . او په ګلپی او کرم کی د څوکو يا نهاياتو د سوځيدو سبب ګرځي. که څه هم دا توضيحات او هم چارت تاسی سره به ساحه کی مرسته کولای شي، د کمښت ځينی علامی ډيری سره ورته وي لکه د Fe, Mn, Zn. د نورو شواهدو استعمال (د خاوری pH، د خاوری بافت يا ترکيب، په ورسره نژدی ونو باندی علامی) تاسی سره مرسته کوي چه ښه تشخيص تر سره کړ ئ. دا تل ښه خبره ده چه خاوره ټست شي او پاڼی په لابراتوار کی چيک شي ترڅو ستاسی مشاهدات تصديق کړي . لکه څنګه چه بزګران د سبزيجاتو د ګټو او کيفيت څخه خبريږي، نو شايد دا ډول يو خدمت په راټلونکی کی د مصرف له نظره ښه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

4. په سرو پوهــیدل

1.4 سریزه :

لکه څنګه مو چه په څلورم فصل کی زده کړل، نباتات د خپلی ودی لپاره ضروری عنصرونو ته ضرورت لری . ضروری عنصرونه هر یو د نبات په بیلا بیلو فعالیتونو کی ونده لری . که چیری دا عنا صر د ځمکی د خاوری، هوا او یا اوبو په واسطه ورته مهیا نشی نو بزګران یی ضرور باید د سرو په شکل تطبیق کړي . د ځمکی د حاصلخیزئ او ښیرازتوب د سبزیجاتو د تولید یوه مهمه برخه تشکیلوی . نه یواځی د حاصلاتو اندازه بلکه کیفیت یی هم د کافی غذایی موادو په شتون پوری اړه لري.

په دی فصل کی، پراختیایی کارکونکي د سرو د بیلابیلو ډولونو سره آشنا کیږی چه بزګران یی کولای شی په خپلو فصلونو باندی یی تطبیق کړي . همدارنګه دوی نوی طریقی د سرو د تطبیق او په ساده ډول د کامپوست جوړونه زده کوي او دا هم زده کوي چه څنګه د ضرورت وړ سره محا سبه کړي او په مؤثر ډول د سبزیجاتو ځمکو ته د سرو د علاوه کولو طریقی د نظره تیری کړي.

2.4 د سرو دغذایی محتویاتو څرګندول

سری هغه مرکبات دی چه کله پټی ته علاوه شی نو د نبات وده تحریکوی. کیدای شی چه عضوی (یعنی د عضوی موادو څخه جوړه شوی وي) او یا غیر عضوي وي (چه د منرالونو او غیر عضوی کیمیاوی موادو څخه جوړه شوی وی). کیدای شی چه طبیعی مرکبات وی لکه peat او معدنی ذخایر او یا د مصنوعی طریقو پواسطه تولید شوی وي. دا دواړه ډوله سری د نبات د ودی او پرمختګ سره په شرقی زون کی مرسته کوي.

دا چه څنګه او په کومه طریقه د سرو غذایی محتویات څرګند شی (عضوی او غیر عضوی) خلکو ته پوره روښانه نه دی. د نایتروجن لپاره علمی سمبول N دی او په سره کی یی مقدار د N% په شکل ښودل کیږي. که څه هم د فاسفورس سمبول P دی خو په سره کی یی اندازه د P_2O_5% په شکل ښودل کیږي او د پوتاشیم لپاره K_2O ښودل کیږي.

هیڅ یوه سره خالصه عناصر لکه N,K,P نه لری. په خالص شکل دا عنصرونه نباتاتو ته بی فایدی وی او ځنی یی حتی ضررناکه وي که پوتاش او فاسفور . نباتات کولای شی چه ددی عناصرو څه په ترکیبی شکل کار واخلی د مثال په توګه نایتروجن باید د آکسیجن دری اتومه سره یوځای شی چه نایترایت Nitrite ورکړي او څلور اتومه هایدروجن سره یوځای شی چه د امونیم شکل ورکړي. په پتاشیم لرونکی سرو کی پوتاشیم خپله یواځی نه وی بلکه د کلورین سره یوځای د KCl په شکل وي. او هم کیدای شی چه آکسیجن او نایتروجن سره یوځای وي لکه پوتاشیم نایتریت KNO_2 .

د سرو غذایی محتویات او کلسیم او مګنیزیم په عنعنوی توګه د اکساید په شکل کی ښودل کیږي، که څه هم په اکثره حالاتو کی سره اکساید نه لري. له همدی کبله مګنیزیم د MgO او کلسیم د CaO په توګه اندازه کیږي.

د غذایی عناصرو د ښودلو سیستم مغشوش کوونکی دی . لکه څنګه چه دا اوسنی طریقه په نړیواله توګه پیژندل شوی ده او حتی په ځینو ځایونو کی یو قانون دی نو په دی کی بدلون راوستل یو نړیواله هڅی ته ضرورت لري . همدارنګه هغه سري چه اوس ۲۰-۲۰-۲۰ دي هغه به ۱۶-۸-۲۰ شي. چه دا کیدای شی ځنی خلک شکمن کړي چه وپوهیږي چه دا هماغه سره ده چه غوښتنه یی کوي.

څنګه چه مونږه پنځم فصل ته مخ پر وړاندی ځو، نو د منرالونومحتویات د ښودلو طریقه شاید یو څه مفهوم ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3.4 عضوي ســــرى:

عضوى تورى يا لغت په ساده توګه دا معنى ورکوي چه هغه مواد چه په سره کى استعمال شوى هغه د ژونديو موجوداتو د پاتى شونو يا بقاياوو څخه ترلاسه شوي دي. پنبه دانه، وينه، هډوکي او ښکرونه او ټولى حيوانى سرى د عضوى سرو مثالونه تشکيلوي.

عضوى مواد په اوږده موده کى غذايى مواد خوشى کوي . ددى احتمالى تاوان دادى چه شايد د تطبيق په اول کال خپل اصلى مواد په کافى اندازه خوشى نه کړي نو ځو د نبات د ښى وده او پرمختګ لپاره کفايت وکړي. لکه څنګه چه عضوى سرى د خاورى د ژونديو موجوداتو پورى اړه لري چه په منرالى شکل يى تجزيه کړي . دا سرى هغه وخت موثره وي چه خاوره مرطوبه او تودوخه يى ګرمه وي ترڅو د خاورى ژوندى موجودات فعاليت وکړي.

د فارم حيوانى ســـره

دا ډول سرى د بزګرانو پواسطه د پيريو راهسى د بزګرانو پواسطه په سبزيجاتو او دانه بابو باندى استعماليږى . په شرقى زون کى اوس هم د نباتى غذايى موادو يوه مهمه منبع تشکيلوي، که څه هم ترکيبى سرى په پراخه پيمانه پيداکيږى. نباتى او حيوانى سرى نه يواځى نباتات و ته غذايى مواد تهيه کوي بلکه د عضوي موادو يوه ښه منبع تشکيلوي او هم نور کوچنى عناصر بوټوته برابروى. د خاورى د عضوى موادو ډيرول باعث د لاندو ګټو کيږي:

- د خاورى جوړښت اصلاح کوي
- د شګلنو خاورو د اوبو د ساتلو ظرفيت زياتوي
- په درنو خاورکى د اوبو تخليه يا زهکشى بهتره کوي
- د بطى خوشى کيدونکو غذايى موادو يوه منبع تهيه کوي
- په قلوى ځمکو کى pH راښکته کوي، که چيرى په ډيره پيمانه او په منظمه توګه استعمال شي
- د اوبو او باد پواسطه د توږنى يا تخريب عمل کموي
- د ځمکنى ګټورو چينجيانو او نورو ژونديو موجوداتو وده تحريکوي

غذايى مواد او شتون يى

په شرقى زون کى اکثره بزګران حيوانى سرى استعمالوي . ددوى د غذايى موادو اندازه د حيوان د ډول، د bedding د موادو، ذخيره او پروسس په اساس توپير کوي . 5.1 جدول د حيوانى سرو د غذايى موادو اندازه په حيوانى سرو کى ورکوي. هغه سره چه د نورو موادو سره يوځاى شوى وي، د غذايى موادو اندازه يى متوازنه وي او ډير ګټور ژوندى موجودات پکى اوسيږي . بايد دا سره مستقيماً نباتاتو ته ورنکړل شي بلکه د نباتى بقاياوو سره يوځاى شي ترڅو د غذايى موادو ترکيب يى په تعادل کى شي او د نبات د سوځيدلو څخه مخنيوى وشي.

لکه څنګه چه مخکى ذکر شو، غذايى مواد چه په حيوانى سرو کى پيدا کيږى دفعتاً د نبات د استفادى لپاره نه موجوديږي بلکه دى پورى اړه لري چه څومره ژر عضوى ماده تجزيه کيږي او منرالى شکل يى خاورى ته خوشى کيږي. عموماً د ۷۰ نه تر ۸۰ فيصدو فاسفورس او ۸۰ نه تر ۹۰ فيصده پوتاشيم د تطبيق څخه وروسته په لومړي موسم کى د حيوانى سرى څخه خوشى کيږي.

1.4 جدول: د حيوانى او نباتى سرى د غذايى موادو تقريبى اندازى (د تازه حالت د وزن په اساس)

د سرى ډول	% Dry matter	Ammonium N (Kg/T)	Total N[a] (Kg/T)	P_2O_5 (Kg/T)	K_2O (Kg/T)
دغوښى غوايى (چه نور فضله جات ونلرى)	52	3.5	10.5	7.0	11.5
دغوښى غوايى (چه نور فضله جات ولرى)	51	4.0	10.5	9.0	13.0
د لبنياتو ښاروي (چه نور فضله جات ونلرى)	18	2.0	4.5	2.0	5.0

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لبنیاتو ڎاروي (چه نور فضله جات ولری)	21	2.5	4.5	2.0	5.0
پسونه (چه نور فضله جات ونلری)	28	2.5	9.0	5.5	13.0
پسونه (چه نور فضله جات ولری)	28	2.5	7.5	4.5	12.5
مرغان(چه نور فضله جات ونلری)	45	13.0	16.5	24.1	17.0
مرغان(چه نور فضله جات ولری)	75	18.0	28.1	22.6	17.0
د مرغانوسره چه د نباتی بقایاوو سره گډه وي	45	0.5	8.5	19.5	11.5
د لبنیاتو د ڎارویو سره چه د نباتی بقایاوو سره گډه وي	45	<0.5	6.0	6.0	13.0

[a] Total N = Ammonium-N plus Organic N

Source: Rosen and Bierman, 2005. Nutrient Management for Fruit & Vegetable Crop Production. University of Minnesota Extension Service.

د نایتروجن شتون د فاسفورس او پوتاشیم ځخه یوڅه پیچلی وي ځکه چه په حیوانی سره کی په دوه شکله باندی پیدا کیږي. یو یی عضوی شکل او بل یی د امونیم شکل دی . په حیوانی سره کی نایتروجن اکثراً او په نباتی سرو کی تقریباً همیشه په عضوی شکل پیدا کیږي. یواځی هغه وخت د نبات د استفادی لپاره خوشی کیږي چه عضوی شکل یی تجزیه او منرالی شي. 5.2 جدول کی د منرالیزیشن فکتورونه ورکړل شوی چه دا معلوموي چه د منرالیزیشن ځخه وروسته څومره نایتروجن موجودیږي.

د امونیم شکل یا غیر عضوی شکل یی په فوری ډول نباتاتو ته موجودیږي . که د تطبیق ځخه ۱۲ ساعته وروسته حیوانی سره دخاوری سره گډه نه شي نو شاید د نایتروجن یو څه امونیمی شکل د غاز په شکل والوزي . که چیری تازه حیوانی سره په ځمکه باندی د لسو ورځو ځخه اضافه پریښودل شي، نو د نایتروجن د امونیمی شکل یواځی ۲۰ فیصده به نباتاتو ته موجود شي. که چیری په مستقیم ډول ځمکی ته علاو ه شی او د خاوری سره گډه شي نو د ۴۵ نه ۷۵ فیصدو پوری د عمومی نایتروجن (امونیم او عضوی شکلونه یی) به نبات ته د تطبیق ځخه وروسته موسم کی به موجود شي. د هغی حیوانی سری سره چه نباتی بقایاوی گډی شوی وی نو ضرور نه دی چه په چټک ډول د خاوری سره یوځای شي ځکه چه نایتوجن یی په ثابت حالت کی او آزاد امونیم ډیر لږ وي.

د حیوانی سری د تطبیق پاتی شونکي اغیزی د سبزیجاتو په پټی باندی مهمی دي. د تطبیق په دوهم او دریم کال کی نباتات د کراره خوشی کیدونکو عضوی موادو ځخه گټه اخلي. په عمومی توگه هغه نایتروجن چه په دوهم کال کی خوشی کیږي د لمړی کال ۵۰ فیصده به وي او په دریم کال به ۲۵ فیصده وي. که چیری حیوانی سره په هر موسم کی د ځو کلونو لپاره علاوه شي نو په خاوره کی ډیر عضوی مواد جمع کیږي . دا حقیقت باید هغه وخت په نظر کی ونیول شي کله چه د سرو د اداره کولو تصمیمونه نیول کیږي . د وخت په تیریدو سره، بزگران شاید پدی وتوانیږي چه د نایتروجن او فاسفورس مقدار کم کړي چه ځمکی ته د غیر عضوي موادو په شکل علاوه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2.4 جدول: د نايتروجن لپاره د منرالايزيشن فکتورونه

د نايتروجن لپاره د منراليزيشن فکتور **(% available/100)**	وچ وابنه يا نباتی فضله جات
0.35	غوبی چه نور نباتی مواد ورسره نه وي
0.25	غوبی چه نور نباتی مواد ورسره وي
0.35	د لبنياتو ښاروي چه نور نباتی مواد ورسره نه وي
0.25	د لبنياتو ښاروي چه نور نباتی مواد ورسره وي
0.25	د پسونو جامد فضله جات
0.50	د مرغانو، نور مواد نه وي
0.45	د مرغانو، نور مواد وي
0.14	Composted dairy د لبنياتو ښارو روسته شوی
0.30	Composted poultry د چرګانو روسته شوی
0.20	Horse, bedding، آسا ن

<u>د حيواني يا نباتي سرې د مقدار محاسبه کول چه بايد فصل ته علاوه شي</u>

تر ټول ساده طريقه د محاسبې يی د بيلانس طريقه ده . فصلونه د ځمکې څخه غذايی مواد اخلی کله چه د تخم څخه وده کوی تر هغې پوری چه پخيدو ته رسيږي . دا چه څومره غذايی مواد د ځمکې څخه اخيستل کيږي خاصتاً N,P,K د حاصلاتو د مقدار په اساس محاسبه کيږي . د مثال په توګه د يو ټن روميانو د توليد لپاره دوه نيم کيلو نايتروجن ته ضرورت دی. د خاصو سبزيجاتو لپاره د غذايی موادو اړتياوی عموماً پيژندل شوی دي (5.3 جدول ته نظر وکړ ئ). د بيلانس طريقه دا فرضوي چه کرونکی بايد ځمکې ته لږ تر لږه هغومره علاوه کړي څومره چه نبات ورته ضرورت لري. داچه په څه اندازه د موسم په جريان کی څومره مقدار ته ضرورت ليدل کيږي دی پوری اړه لري چه د مخکی نه په ځمکه کی څومره موجود وو. او هم د نبات د ودی په چټکوالی، او د نبات د ورتيا پوری اړه لري چه دا غذايی مواد واخيستل شي او استعمال يی کړي . يو بزګر کولای شی چه د غذايي موادو د اړتياوو عمومی معلومات استعمال کړي او د راتلونکی فصل احتمالی مقدار په اساس دا تخمين کړي چه څومره سری ته اړتيا ليدل کيږي .

د محاسبې چوکات
فصل: کرم چه په يو جريب کی ۴.۴ ټنه توليديږي
<u>لمړی قدم:</u>
N: 4.4 T/jerib x 3.5 Kg/T=*15.4 kg/jerib*
P_2O_5: 4.4 T/jerib x 1.3 Kg/T=*5.7 Kg/jerib*
K_2O: 4.4 T/jerib x 4.3 Kg/T=*18.9 Kg/jerib*
<u>دوهم قدم:</u>
حيوانی سره **N: *10.5 Kg/T***
حيوانی سره **P_2O_5 : *9.0 Kg/T***
حيوانی سره **K_2O : *13.0 Kg/T***

لاندينی مرحلی مونږ ته ښيی چه داکار څنګه ترسره کړو.

لمړی قدم: د يو خاص فصل لپاره د غذايی موادو اړتيا وټاکی او د راتلونکی فصل ل پاره احتمالی ضرورت تخمين کړئ، د مثال په توګه په يو جريب کی ۴،۴ ټنه کرم، او بيا دا رقم د هری غذايی مادی سره چه د کرم د يو ټن د توليد لپاره ورته ضرورت وي ضرب کړئ (۵، ۳ شکل).

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه مرحله: د حيواني يا نباتي سرى د غذايي موادو اندازه تعينول: که چيرى سمپلونه نشت شى نو حقيقى اندازى ورکوي خو کولاى شى د لاندى جدول په اساس د تقريبى اندازو څخه کار واخلئ. د مثال په توګه د غوايانو په سره کى چه د نباتى ترکيب ولري په يو ټن کى چه په تازه حالت کى وي، نهه کيلو ګرامه فاسفورس موجود وي.

3.4 جدول: د N, P, K مقدار چه د يو ټن سبزيجاتو د توليد لپاره ورته ضرورت ليدل کيږي

سبزي	Requirement per T Yield (Kg/T)			
	N	P_2O_5	K_2O	Total
رومى	2.5	1.0	3.6	7.1
شين مرچکى	2.4	0.9	3.5	6.8
ګازره	4.0	1.5	5.0	10.5
ملى	3.0	3.1	6.0	12.1
لبلبو	2.4	1.4	6.0	9.8
پياز	3.4	0.9	2.8	7.1
شنه نخود	18.9	5.6	15.2	39.7
لوبيا	12.9	2.8	11.9	27.6
بادرنګ	1.7	1.4	4.0	7.1
کرم	3.5	1.3	4.3	9.1
ګلپى	4.0	1.6	5.0	10.6
کاهو	4.0	1.8	5.0	10.8
پالک	3.5	1.6	5.2	10.3
تور بانجان	5.0	2.5	2.5	10.0
ايرلينډى کچالو	6.8	3.2	11.8	21.8
ليروګان	10.0	7.5	5.0	22.5
هندوانه	1.2	1.7	2.5	5.4

Source: Unknown

دريمه مرحله يا قدم: د غذايى موادو موجوده اندازه وټاکى: په ياد ولرئ چه ټول غذايى مواد د تطبيق څخه وروسته په اول موسم کى موجوديږى.

- د فاسفورس ۸۰ فيصده موجوديت او د پوتاشيم ۹۰ فيصده موجوديت
- د نايتروجن لپاره لاندى فورمول استعمال کړئ (د منراليزيشن فکتور په *5.2* او د نايتروجن عضوى او امونيم شکلونه په *5.1* جدول کى وګورئ.

موجود نايتروجن = (عضوى نايتروجن *x* منراليزيشن فکتور) + د نايتروجن امونيم شکل

پام وکړئ چه که حيوانى سره تازه وي او په ۱۲ ساعتو کى د خاورى سره ګډه نه شي او د نايتروجن د امونيم شکل حتماً راښکته کيږي: د ٪۲۰ په اندازه چه د دوه ورځو څخه کم وي، د ۸۰ فيصدو پورى چه د اووه ورځو څخه زيات وي. د نايتروجن عضوى شکل په عين حالت کى پاتى کيږي.

څلورم قدم: حساب کړئ چه د حيوانى سرى څومره مقدار ته ضرورت دى تر څو د ضرورت وړ اندازه نايټروجن، فاسفورس او پوتاشيم مهيا کړي . په اولنى قدم کى د غذايى موادو اړتيا په يو ټن کى د موجودو غذايى مادو د کيلوګرامونو سره تقسيم کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځمه مرحله : د حیوانی سری اندازه د څلورمی مرحلی څخه معلومه کړ ئ. اکثراً د نایتروجن او فاسفورس مقدارونه استعمالیږي ترڅو د سری د تطبیق اندازه و ټاکل شي (عضوی او غیر عضوي). ځکه چه د فصلونو په تولید کی ډیر مهم عناصر دي. دلته په شرقی زون کی د پوتاشیم یواځنی زیرمه منرالونه او حیوانی سره ده. دواړه نایتروجن او فاسفورس د غیر عضوی سرو په څیر علاوه کیږي (DAP, Urea). هغه عوامل چه باید د تصمیم نیولو په وخت کی په نظر کی ونیول شي، چه د تطبیق اندازه د کوم غذایی په اساس وټاکل شي په لاندی ډول دي : د خاوری ظرفیت د مختلفو غذایی عنصرونو په بندولو کی . د یوی غذایی مادی ډیر کم مقدار چه باید تطبیق شي، د نورو منابعو څخه د یو غذایی عنصر لاس ته راتلل او موجودیت.

شپږم قدم : د موجودو غذایی عنصرونو مقدار معلوم کړ ئ چه په هغه مقدار تطبیقیږي چه په پنځمه مرحله کی انتخاب شو . حساب کړ ئ چه د هر غذایی عنصر څومره باید تطبیق شي – انتخاب شوی مقدار په پنځمه مرحله د موجودی تخمین شوې اندازی سره چه په دریمه مرحله کی حساب کړ، ضرب کړ ئ. پام وکړ ئ چه د غذایی عنصرونو ۱۰۰ فیصده اړتیاوی پوره کیږي.

اووم قدم: معلوم کړئ چه آیا اضافی غذایی مواد د نورو منابعو څخه ورعلاوه کیږي تر څو د فصل اړتیاوی پوره شي . هغه مقدار چه د فصل له خوا ورته ضرورت دی (لمړی قدم) د هغه مقدار نه چه به حیوانی یا نباتی سره کی موجود دی (شپږم قدم) منفی کړئ. یو مثبت عدد هغه مقدار ښیی چه باید د نورو منابعو څخه تهیه شي تر څون د فصل ضرورت پوره کړي . دا اووه قدمونه شاید پیچلی په نظر راشي کله چه یی د لمړي ځل لپاره لولیء. بیا پری تیر شیء او بیا هڅه وکړ ئ چه خپله یی د یو بل فصل لپاره ترسره کړئ.

د محاسبی بکس

دریمه مرحله:

P_2O_5: 9 Kg x 0.8= ***7.2 Kg/T manure***
K_2O: 13 Kg x 0.9 = ***11.7 Kg/T manure***
Available N:
Total N = 10.5 Kg/T manure
- Ammonium N = 4 Kg/T manure

Organic N = 6.5 Kg/T manure

Available N= (6.5 x 0.25) + 4 = ***5.6 Kg/T manure*** (this assumes immediate incorporation)

څلورمه مرحله *4: (Step 1 ÷ Step3 to give T manure/jerib)*
N: 15.4 Kg/jerib ÷ 5.6 Kg/T=*2.75 T/jerib*
P_2O_5: 5.7 Kg/jerib ÷ 7.2 Kg/T = ***792 Kg/jerib***
K_2O: 18.9 Kg/jerib ÷ 11.7 Kg/T = ***1.62 T/jerib***

مرحله *5 :*
Base rate on N and see if other nutrient requirements are met. Apply: ***2.75 T manure per jerib.***

مرحله *6:*
N: ***15.4 Kg/jerib***
P_2O_5: 2.75 T/jerib x 7.2 Kg/T = ***19.8 Kg/jerib***
K_2O: 2.75 T/jerib x 11.7 Kg/T= ***32.2 Kg/jerib***

مرحله *7 : (Step 1-Step 6)*

غذایی عنصر	مرحله 1	مرحله 6	توپیر
N	**15.4**	**15.4**	**0**
P_2O_5	**5.7**	**19.8**	**- 14.1**
K_2O	**18.9**	**32.2**	**- 13.3**

مرفی عدد ښیي چه د فاسفیت او پوتاش زیاتوالی موجود دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حیوانی سرې تطبیق
دا مهمه ده چه پوه شو چه څنګه حیوانی سره استعمال کړو، مخکی لدینه چه حیوانی سره تطبیق شي باید د نباتی بقایاوو سره ګډه شي، په هغو طریقو سره چه په 5.3.2 برخه کی توضیح شوې دي. د نباتی سری د ډیری په منځ کی لوړ حرارت د هرزه نباتاتو تخم، د حشراتو بچي او نور مضر ژوندی موجودات وژني. هغه حیوانی سره چه د کمپوست یا نباتی ترکیبي سرې سره نه وی ګډه شوي، شاید د هرزه بوټو تخمونه او یا مضره ژوندی موجودات ولري لکه E. Coli چه انسانانو ته هم ضرر رسوي. د هرزه بوټو تخم که چیری د حرارت د لوړې درجی پواسطه ونه وژل شي شاید شنه شي او وده وکړي او د نبات سره د غذایی موادو او اوبو په اخیستلو کی رقابت وکړي. که د پټیو څخه دا هرزه یا مضره بوټی په چټکی سره لرې نشي نو حاصلات کمیږي . خلک شاید ددی سبزیجاتو په خوړلو سره مریض شي چه د حیوانی سرې په تماس کی راغلی وي. که چیری حیوانی سره د نباتی موادو سره نه ګډوئ او خالصه یی پټیو ته علاوه کو ئ نو د سبزیجاتو د کښت څخه یی دری میاشتی د مخه د خاوری سره ګډه کړئ.

د پاڼی لرونکو او ریشی والا سبزیجاتو لپاره چه د خاوری سره په مستقیم تماس کی راځي، لږ تر لږه د سری د آخرنی تطبیق څخه وروسته څلور میاشتی صبر وکړئ او بیا حاصل ټول کړئ.

کمپوست یا ترکیبی سره
کمپوست هغه عضوی مواد دی چه په تدریجی توګه ښه تجزیه شوې وي او نوره د تجزیی وړنه وی . چه عمدتاً منرالونه او توره خاوره پکی وي . د کمپوست لپاره مختلف مواد استعمالیدی شي. د مثال په توګه حیوانی سره او ادرار، شنی او وچی نباتي بقایاوی او واښه، د آشپزخانی فضله جات (سبزیجات، میوی، هګوکی، بدون له غوښی څخه) او ایره ددی لپاره چه د تجزیی عمل موثر اوسي نو اوبو ته ضرورت لري . د اوبو څخه پرته کمپوست جوړول ډیر وخت نیسي او کیفیت یی ه م ښه نه وي. مختلف بکتریاګانی د خاوری ژوندی موجودات لکه چینجي عضوی مواد تجزیه کیږي. په همدی دلیل، هر طریقه چه استعمالیږی د هوا جریان او رطوبت باید موجود وي تر څو نوموړي ژوندي موجودات ژوند وکړي شي. د کمپوست یا د ترکیبی سرې د ډیری په داخل کی د هوا جریان د داخلی حرارت د تنظیمولو سره مرسته کوی او د ترکیبي سرې کیفیت اصلاح کوي . د هوا څخه پرته، هغه ژوندی موجودات چه ناروغی پیدا کوي وده کوي او د عضوی موادو د تجزیی عمل داسی مواد خوشي کوي چه نباتاتو ته زهري خاصیت لري. ددی څخه برسیره د غذایی موادو مقدار لکه نایتروجن، سلفر، او فاسفورس کمیږي.

د کمپوست یا ترکیبی سری د جوړولو د پروسې بریالیتوب په لاندی عواملو پوری اړه لري:

- د ژوندیو موجوداتو لپاره په کافی اندازه هوا
- رطوبت چه د تجزیی عمل تسریع کړي
- ژوند ی موجودات او د ځمکی چینجیان
- د شنو موادو (چه په آسانی سره تجزیه کیږي) او د نصواري موادو (چه په کمه اندازی سره تجزیه کیږي) یو مناسب مخلوط.
- د ډیری یا ټوپی په داخل کی ۶۰-۵۵ درجو سانتی ګراد پوری د حرارت درجه.

که د آکسیجن په موجودیت کی نو ښه کمپوست یا ترکیبی سره لاس ته راځي چه د مرخیړیو په شان بوی کوي او که نه نو بیا بد بوی کوي. ښوخ او ښه جوړ شوې کمپوست ټینګ نصواری رنګ لري . په ښه کمپوست کی د هوا لاری، کوچنی کوچنی ذرات د لیدو وړ وي.

کله چه تیار شو نو کمپوست په مختلفو طریقو سره تطبیق کیدی شي:

- د ځمکی په سطحه علاوه کیږي
- د عضوی ملچ په حیث چه د اوچتو بسترونو سطحه پوښوي
- د مخلوط د یوې برخی په حیث (د شګی او د ځمکی د پورتنی طبقی په شمول) چه د بزغلیو د تولید لپاره په ګلخانو او قوریو کی استعمالیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه چه مخکی وویل شو دا مهمه ده چه مخکی د تطبیق څخه حیوانی سره کمپوست شی کیدی شي چه حیوانی سره په یوائې توګه په لاندی طریقو سره او یا په مخلوط ډول سره په ترکیبی شکل تیاره شي:

د لرګی د چوکات کمپوست



ددی چوکات په دننه کی کمپوست جوړیدی شي چه د لرګی او یا بانګس څخه جوړ شو ئ وي. حجم یی ۱.۵ متر په ۱.۵ متر په ۱.۵ متره کی وي . یو اړخ یی خلاص وي . دا طریقه به خاصه توګه هغه ځای کی استعمالیږي چیرته چه اوبه محدودی وي . لکه څنګه چه ډیری اوبه نه استعمالیږي، نو د کمپوست کیفیت ښکته وي.

د چوکات په داخل کی د موادو ډولونه په متبادل ډول په طبقو کی اینودل کیږي : نباتی بقایاوی، حیوانی سره او بیا خاوره. لکه څنګه چه په 5.1 شکل کی ښودل شوی، د نباتی بقایاوو طبقه تر ټولو ضخیمه وي. ددی طریقی نه په استفادی سره، د تجزیی پروسه ۵ نه تر ۶ میاشتو پوری نیسي. هر دوه میاشتی بعد باید ډیری واړول شي او لږ څه اوبه هره اونی ورعلاوه شی .

د سوری یا خندق کمپوست



د ډیری ځمکی لپاره دا طریقه د کمپوست د ډیر مقدار د تولید لپاره د ډیرو ښو طر یقو څخه یوه ده . دری یا څلور غټ سوري یا کندی (۷م په ۸م په ۲م کی) د سبزیجاتو د یو غټ فصل لپاره په کافی اندازه کمپوست تولیدوي. نباتی بقایاوی، وچی پاڼی او واښه او حیوانی مواد په ترتیب سره په طبقو کی اینودل کیږي او هره نباتی طبقه باید د ۵۰ نه تر ۶۰ سانتی پوری ژوروالی ولري.

کله چه ډیر خندقونه وي، هر یو یی په جلا توګه اداره کیدای شي . او کله چه لږ تر لږه دری خندقونه موجود وي، کیدای شی چه په دورانی شکل اداره شي . په دورانی سیستم کی چه کله لمړی خندق ډک شو مواد دوهم سوری یا خندق ته اړول کیږي او محتویاتو ته یی رطوبت ورکول کیږي . او بیا لمړی کنده یا سوری دوباره ډکیږي. کله چه لمړی کنده دوباره ډکه شوه، نو د دوهمی کندی څخه مواد دریمی ته اړول کیږي او د لمړي څخه دوهمی ته اړول کیږي . لمړی کنده بیا ډکیږي. هغه وخت چه لمړۍ کنده د دریم ځل لپاره ډکه شي، د کمپوست پروسه آخرني کندی کی بشپړیږي او عضوی مواد یی ځمکی ته انتقالیدی شي.



Figure 3: د کمپوست چینایی طریقه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چینایی کمپوست د ډیرۍ طریقه

دا یوه ښه طریقه ده البته د کوچنی پیمانی فارم لپاره . کمپوست په یو لنډی مودی کی تیار وي – تقریباً ۳ نه تر ۴ اونیو پوری. د تولید شوو موادو اندازه ښکته وي نو یوائی په کوچنیو ساحو باندی تطبیق کیدی شي. ډیرۍ یو بی ساری مخروطی شکل لري. چه یو متر ارتفاع او یو نیم متر شعاع لري . هغه ساحه چیرته چه ډیرۍ جوړیږي باید پاکه شي او د یوی سری پواسطه په نښه شي . یوه دایروی ساحه چه یو نیم متر سعاع ولری باید محدوده شي . په مرکز کی یو متر اوږد لرگی باځ و ټومبل شي په ځمکه کی. لمړی طبقه د نباتی بقایاوو څخه (چه د ۲۰ نه تر ۲۵ سانتی ژوره وي) جوړیږي او بیا پری ۵ نه تر لسو سانتی پوری حیوانی مواد شیندل کیږي . دا دواړه طبقی باید مخلوط شی او اوبه ورعلاوه شي. دا پروسه باید تر هغه تکرار شي تر څهو چه ډیرۍ د یو نه تر دوه مترو لوړوالی ته ریسږي. ډیرۍ ته باید د مخروط شکل ورکړل شي. دا سیستم ډیری اوبه غواړي چه په منظمه توگه باید ورکړل شي. که ډیر د خاوری پواسطه و پوښل شي نو خارجی برخه یی ښه کمپوست کیږي . په نورماله توگه ډیرۍ باید په اونی که یو ځلی واړول شي او طبقی یی یو د بل ځای ونیسی تر څو په نوبت سره هره طبقه په مرکز کی راشي.

د کمپوست شدیده ډیرۍ



Figure 5.4: Intensive compost pile method

دا طریقه د کمپوست د ډیر مقدار د تولید لپاره توصیه کیږي. لمړی مرحله یی داده چه یوه ساحه انتخاب او پاکه شي چه د ساحی لویوالی د ډیرۍ په اندازه وي. بیاد باید یوه مستطیلی ساحه په نښه شي چه اووه په اتو مترو کی وي او د ۲۰ تر ۲۵ سانتی پوری باید وکیندل شي . د یو اوږد اړخ په امتداد دری اوږه لرگي باید په ځمکه کی د ټومبل شي . د سرحد چاپیره، دوه قطاره خښتی باید کیښودل شي تر څو ډیرۍ احاطه کړي . نباتی او حیوانی بقایاوی باید په متبادل ډول په طبقو ک ی کښیښودل شي لکه څنگه په نورو طریقو کی کیږي. هره نباتی طبقه باید څه نا څه ۰.۵ متره ژوره وي. او د حیوانی طبقی ژوروالی کیدای شی چه د ۲۰ نه تر ۲۵ سانتی پوری وي. د دوه طبقو تر منځ اوبه باید وپاشل شي. کله چه د ۳.۵ نه تر څلورو مترو لوړوالی ته رسیږي، نو ټوله ډیرۍ باید د ۵ سانتی خاوری پواسطه وپوښل شي. د ډیرۍ د پورتنۍ برخه ابعاد باید څه نا څه ۴ په ۷ مترو کی وي ترڅو ډیرۍ د مخروط په شکل ښکاره شي. کله چه ډیرۍ د خاوری پواسطه وپوښل شوه، نو دری ټومبل شوي پایی یا ستنی باید ایسته شي او دری د تهویی کانالونه پاتی شی تر څو د ډیرۍ په داخل کی د تودوخی درجه تنظیم کړي. ددی غټی ډیرۍ خطر دادی چه د حرارت درجه کیدای شی چه ډیره لوړه لاړه شي او باعث ددی شي چه کمپوست وسوځي.

په دی طریقه کی د ډیرۍ اړولو ته ضرورت نشته. کمپوست باید د ۶ نه تر ۸ اونیو پوری تیار او آماده وي. په دی سیستم سره د کمپوست ډیر مقدار تولیدیدای شي خو د نباتی بقایاوو ډیر مقدار ته هم ضرورت لري. د ځینو بزگرانو لپاره دا مشکله ده چه داسی یوه ساحه پیدا شي چه یو غټ کمپوست پکی جوړ شي. هر څومره چه د پټیو سره نژدی وی هماغومره ښه وي ځکه چه انتقال یی آسانه وي.

4.4 غیرعضوی مصنوعی سری

په صنعتی توگه د هغو عناصرو څخه جوړیږي چه د نباتی ودی او پرمختک لپاره ضروری وي . یوریا او DAP دوه عامی موجودی غیر عضوی سری دی په شرقی زون کی . به عمومی توگه غیر عضوی سری په چټکی سره نظر عضوی سرو ته د نباتاتو پواسطه جذبیږي ځکه په اوبو کی منحل وي او د خا وری ژوندی موجوداتو ته ضرورت نشته چه تجزیه یی کړي . د خاوری جوړښت په هغه اندازه چه عضوی سری یی اصلاح کوی، نشی کولای. دا سری کولای شی چه د خاوری کیمیاوی خواصو کی بدلون راولي لکه د خاوری pH خو دا خپله کیدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

شی چه د ځینو غذایی عنصرونو موجودیت او شتون متاثره کړي او په ځینو ژوندیو موجوداتو لکه چینجیو باندی هم بد تاثیرات وکړي. دا ډول سری په بازار کی په ډیره اندازه پیدا کیږي او نسبتاً ارزانه وي.

د سری تجزیه

سری د هغی تجزیی پواسطه پیژندل کیږي چه د بوجی د پاسه ورکړل شوی وي . دا ټولی تجزیی دری شمیری لري: چه د نایتروجن، فاسفیټ او پوتاش فیصدی د وزن په حساب په ترتیب سره ښیي . که په ځینو بوجیو باندی د N,P,K څخه د عنصرونو د ښودلو لپاره استفاده شوی وي، نو باید په یاد ولرو چه فاسفورس د فاسفیټ په بڼه او پوتاشیم د K_2O په شکل اندازه کیږي . د مثال په توګه که چیری مونږ ۵۰ کیلو سره ولرو چه ۱۰-۱۰-۱۰ پری لیکل شوي وي نو دا په دی معنی ده چه ۵ کیلو نایتروجن، ۵ کیلو فاسفیټ او ۵ کیلو پوتاش لري. او د بوجۍ پاتی برخه فقط د ډکوونکو موادو څخه ډکه شوی وي تر څو په پټی کی یی استعمال آسانه کړي . دا آسانه دی چه د هغی سری لوی مقدار په پټی کی په مساویانه توګه وپاشل شي چه تجزیوی اندازی یی کمی وي نظر هغه ته چه ډیری وي. ځینی سری د غیر فعالو مادو پواسطه پوښل شوی وي تر څو په ځمکه کی یی آزادیدل بطي کړي، تر څو فصل ته د اوږدی مودی لپاره غذایی مواد تهیه کړي.

مکملی سری او نامکملی سری

سری ته هغه وخت مکمله ویل کیږي چه فاسفورس، نایتروجن او پوتاشیم ولري (۱۰-۱۰-۱۰، ۱۶-۱۲-۱۱، ۲۰-۱۰-۱۰ او داسی نور). غیر مکمله سره هغه ده چه د اساسی عناصرو یو یا دوه ولري . مثالونه یی ټریپل سوپر فاسفیټ (۰-۴۵-۰)، پوتاشیم نایتریت (۴۴-۰-۱۳)، یوریا (۰-۰-۴۶) او DAP(۰-۴۶-۱۸). دا نامکملی سری هغه وخت استعمالیږی چه د خاور تست دا وښیي چه خاوره د یوه یا دوه عنصرونو څخه غنی ده . د مثال په توګه که د خاوری تستونه د فاسفورس او پوتاشیم لپاره لوړ مقدارونه وښیی نو یواځی د نایتروجن سره لکه (۰-۰-۴۶) یوریا او یا امونیم نایتریت (۰-۰-۳۴) شاید توصیه شي.

تر ټولو عام ه سره چه په شرقی زون کی د بزګرانو پواسطه استعمالیږي د DAP سره ده چه نایتروجن او فاسفورس لري او یوریا چه یواځی نایتروجن لري . سبزیجات پوتاشیم ته ضرورت لري چه د خاوری څخه یی استخراجولای شي. خو که دا پوتاشیم ناکافی وي نو په بازار کی داسی سره نشته چه پوتاشیم ولری او حیوانی سره یی یواځینی منبع ده . پراختیایی کارکوونکی او کرونکی باید مربوطه تجاران وهڅوي چه نوری پوتاش لرونکی سری لکه پوتاشیم نایتریت (۴۴-۰-۱۳) او یا پوتاشیم کلوراید (۶۰-۰-۰) د ضرورت په اساس لکه د هندوانو د ښه کیفیت لپاره واردی کړي . ځینی سری ګډیدلای شی تر څو دری واړه عنصره یکی موجود شي . مثالونه یی ۱۵-۱۵-۱۵ او ۱۶-۲۲-۱۱ دي. بزګران ضرورت لري چه مخلوطی سری د قیمت له نظره تجزیه کړي . د مثال په توګه پوتاشیم نایتریت د پوتاشیم د ذخیری یوه غنی او ارزانه منبع ده نظر مخلوطی سری ته لکه ۱۵-۱۵-۱۵.

5.4جدول د عامو سرو لست ورکوي او ترکیب یی هم ښیی . اکثره سری چه دلته لست شوی، تیزابی کوونکی دي.یعنی د خاوری پی ایچ ښکته کوي نو په خفیفاً او متوسطاً قلوی خاورو کی یی استعمال مناسب وي چه داسی خاوری دلته شرقی زون کی پیدا کیږي.

د سری شکل

سری په ډیرو شکلونو او جسامتونه کی راځي. DAP او یوریا په شرقی ولایت کی د جامدو دانو په شکل راځي. د تولید د پروسی په جریان کی تولیدوونکی د سری خام مواد داسی پروسس کوي تر څو نهایی محصول یی غټی، مساویانه دانی ولري. دانی اسانه وي چه په مساویانه توګه په خاوره کی واچول شي. کله نا کله دا دانی داسی پوښل شوی وي چه د رطوبت د جذب مخه ونیسي ځکه چه ځینی سری د رطوبت جذبوونکی وي.

بل شکل یی چه په زراعت کی استعمالیږي مایع شکل دی. کیدای شی چه مکملی او یا نامکملی وي. دا ټولی داسی جوړی شوی وي چه د اوبو سره مخلوطیږي، ځینی یی غلیظی وی او ځینی نوری یی د پوډر په شکل وي . دا محلولونه اکثراً د پیل کوونکی په شکل کار د بزغلیو د تولید او کښت لپاره کوي . ددی محلولونو غذایی مواد د ریشو او نباتی چټکی ودی و تثبیت لپاره په چټکی سره آماده وي . کیدای شی چه مایع سره د نباتاتو پاڼو ته علاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي. خصوصاً د کوچنیو غذایی موادو (micronutrients) د تطبیق لپاره. چه د مستقیماً د پانی له لاری جذبیږي او نبات ته سمدلاسه ورسیږي.

سره	$\%N-\%P_2O_5-\%K_2O$	شکل
امونیم نایتریت[a]	34-0-0	دانه دار
یوریا[b]	46-0-0	دانه دار
مونو امونیم فاسفیت (MAP)	12-51-0 11-52-0 10-50-0	جامدی دانی
(DAP)[c]	18-46-0	جامد، دانه دار
ترپیل سوپر فاسفیټ[d]	0-45-0	جامد، دانه دار
پوتاشیم کلوراید - پوتاش	0-0-60 0-0-62	کرستلی، رطوبت جذبوونکی
پوتاشیم نایتریت	13-0-44	جامد، دانه دار
امونیم سلفیت	21-0-0-24 20-0-0-24 19-2-0-22	کرستلی دانه دار دانه دار
عنصری سلفر [e]	0-0-0-90	پودر

a د فرار پواسطه کم ضایع کیږي نظر یوریا ته کله چه وشیندل شی او خاوری سره ګډ نه شي
b د فرار ضایعات ډیر وی کله چه یوریا په قلوی، وچو ځمکو باندی واچول شی او د خاوری سره ګډه نه شي
c د فاسفورس موجودیت نباتاتو د مونو امونیم فاسفیت سره مشابه وي، کله چه د تخم سره کښیښودل شي د MAP په نسبت ډیر زهری وي
d د فاسفورس موجودیت نظر فاسفورس سری ته چه امونیم ولری کم دی
e باید په سلفیت اکسیدایز شي مخکی لدینه چه نبات یی استعمال کړي. د فصل د استعمال څخه یی یو کال د مخه تطبیق کړی.

د سری د تطبیق اندازی

د غیر عضوی سری د مقدار د تع ین لپاره چه د فصل لپاره ضرور وي، د بلانس طریقه استعمالیدی شي . په یاد ولرئ په دی طریقه کی دا فرض شوی چه کرونکي په دی پوهیږی چه د غذایی عنصرونو N,P,K څومره مقدار ته ضرورت دی چه یو ټن تولید ورکړي . ددی لپاره چه تخمین یو څه دقیق وي، بزګران باید نور فکتورونه هم په نظر کی ولري: د نبات د ودی اندازه او چټکوالی، په محلول کی د غذایی عنصرونو موجودیت، د نبات ظرفیت د مختلفو غذایی موادو په جذبولو کی، د اوبونی د اوبو کیفیت او مخکینی طریقی او عملونه په خاصه توګه د حیوانی او ترکیبی سرو مقدار چه په هر فصل کی پټیو ته علاوه کیدلی. دا د غیر عضوی سرو محاسبه ډیره پیچلی کوي.

عین اووه مرحلی یا قدمونه د یو لړ څه تغیر سره استعمالیږي تر څو د سرو مقدار تخمین شي . د سبزیجاتو د فصلونو د غذایی موادو اندازه باید د 5.3 جدول څخه واخیستل شي. 5.4 جدول ته د عامو سرو د غذایی عنصرونو د اندازو لپاره مراجعه وکړئ.

د سری د تطبیق د مقدار د محاسبه کلولو مراحل لاندی ذکر شوي دی. او یو مثال یی په چوکاټونو کی ورکړل شوی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمړۍ مرحله: د سريجاتو د فصل د غذايي موادو اړتيا معلومه کړ ئ: د راتلونکی فصل لپاره د حاصلاتو احتمالی اندازه تخمين کړ ئ، د مثال په توګه ۹.۲ ټنه روميان په يو جريب کی او بيا دا رقم د هر غذايي عنصر د هغه مقدار سره ضرب کړئ چه د يو ټن د توليد لپاره په کار وی . 5.3 جدول

د محاسبی چوکات

فصل: د روميانو توليد، ۹.۲ ټنه په يو جريب کی

اوله مرحله:

N: 9.2 T/jerib x 2.5 Kg/T = *23 Kg/jerib*
P_2O_5: 9.2 T/jerib x 1 Kg/T = *9.2 Kg/jerib*
K_2O: 9.2 T/jerib x 3.6 Kg/T = *33.1 Kg/jerib*

دوهمه مرحله:

DAP : 18-46-0 ;	**Urea : 46-0-0**
(50 Kg bag)	**(50 Kg bag)**
N: 9 Kg	**N: 23 Kg**
P_2O_5: 23 Kg	**P_2O_5: 0**
K_2O: 0	**K_2O: 0**

دريمه مرحله:

All calculated in Step 2 is available

DAP : 18-46-0	**Urea : 46-0-0**
N: 9 Kg	**N: 23 Kg**
P_2O_5: 23 Kg	**P_2O_5: 0**
K_2O: 0	**K_2O: 0**

دوهمه مرحله : د سری د غذايي موادو محتوی معلومه کړ ئ: د سری ډول چه تطبيقوئ يي معلومه کړ ئ (په شرقی زون کی يواځی DAP او يوريا شتون لري)، د غذايي عنصر فيصدی د بوجی د پاسه ليکل شوی وي لکه $\%N, \%P_2O_2$ او K_2O. او يا 5.4 جدول ته رجوع وکړ ئ. د DAP لپاره د غذايي موادو محتوي P_2O_2 18%N, 46% او K_2O 0 وي. نو په ۵۰ کيلويی بوجی کی ۹ کيلو نايتروجن، ۲۳ کيلو فاسفورس د فاسفيټ په شکل او هيڅ پوتاشيم وي.

دريمه مرحله : د سری موجود غذايي عنصرونو اندازه معلومه کړئ: په ياد ولرئ چه په صنعتی سره کی سل فيصده غذايي مواد بايد د نبات لپاره موجود وي، مګر دا چه د خاوری څخه ومينځل شي او يا د فاسفورس په شان بند شي.

Calculation Box

څلورمه مرحله: دوهمه مرحله تقسيم د دريمی مرحلی

DAP
N: 23 Kg/jerib/ 9 Kg/bag=*2.5 bags/jerib*
P2O5 : 9.2 Kg/jerib/23 Kg/bag = *0.4 bags/jerib*
K2O: 0

Urea
N: 23 Kg/jerib/ 23 Kg/bag=*1 bag/jerib*
P2O5 : 0
K2O: 0

پنځمه مرحله:

لکه څنګه چه *DAP* يواځی فاسفورس تهيه کوي، نو د سری د تطبيق اندازه بايد د *DAP* څخه د علاوه کيدونکی فاسفورس په اندازی پوری اړه ولري. په جريب باندی ۰.۴ بوجی

څلورمه مرحله: حساب کړ ئ چه د نايتروجن، فاسفيټ او پوتا ش د ضرورت وړ اندازی د تهيی لپاره څومره سره لګيږي.

- د غذايي موادو اړتيا (د اولی مرحلی څخه) د موجوده غذايي موادو په کيلوګرامونو باندی چه ۵۰ کيلويی بوجی کی موجود وي، وويشی.

پنځمه مرحله: د څلورمه مرحلی څخه د سری اندازه چه بايد تطبيق شی واخلی: تصميم ونيسی چه آيا د تطبيق اندازه د نايتروجن، فاسفيټ او پوتاش په اساس ترسره کړ ئ. اکثراً د نايتروجن اندازه استعماليږي ځکه چه دا د لوړو حاصلاتو د تر لاسه کولو لپاره تر ټولو ډير مهم عنصر دی. فکتورونه چه په تصميم نيولو کی يی بايد په پام کی ونيسۍ دادي : د خاوری ظرفيت د مختلفو غذايي عنصرونو په بندولو کی، ددی احتمال چه کيدای شی يو عنصر ډير زيات مقدار تطبيق شي، د يو غذايي عنصر اهميت او د نورو منابعو څخه يی په لاس راتلل. په شرقی زون کی د فاسفورس يواځينی منبع چه ډيره استعماليږي DAP ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دی مثال کی پوتاشیم باید د خاوری یا د حیوانی سرې څخه تهیه شي. لکه څنګه چه نوری سری په بازار کی پیدا کیږي، نو محاسبی باید دا دری واړه عنصره په نظر کی ونیسي.

شپږمه مرحله: د هغه غذایی موادو یا عنصرونو موجود مقدار معلوم کړ ئ چه په پنځمه مرحله کی د انتخاب شوي سری پواسطه تهیه کیږي . ددی لپاره چه محاسبه کړ ئ چه څومره غذایی مواد تهیه کیږي، نو د پنځمی مرحلی اندازه د دریمی مرحلی د اندازی سره ضرب کړئ.

اوومه مرحله : معلوم کړ ئ چه آیا د نورو منابعو څخه اضافی غذایی مواد باید تهیه شي تر څو د فصل ضرورتونه پوره کړي: هغه مقدار غذایی مواد چه د فصل پواسطه ورته ضرورت وی (لمړی مرحله) د غذایی موادو د هغه مقدار څخه تفریق کړ ئ چه د سری پواسطه مهیا کیږي (شپږمه مرحله). مثبت عدد هغه مقدار غذایی مواد ښیي چه د نورو منابعو څخه باید تهیه شي تر څو د فصل ضرورت رفع شي. منفی عدد دا ښیي چه د انتخاب شوی سری پواسطه د ضرورت نه اضافی غذایی مواد مهیا کیږي.

د محاسبې چوکات

<u>Step6</u>: Step 5 x Step 3

د **DAP** ۰.۴ بوجی لاندی مقدار تهیه کوي:

N: 0.4 bag x 9 Kg/bag = *3.6 Kg/jerib*
P2O5 : 0.4 bag x 23 Kg/bag = *9.2 Kg/jerib*
K2O: 0

<u>Step 7 :</u> (Step 1-Step 6)

Nutrient	**Step 1**	**Step 6**	**Difference**
N	**23**	**3.6**	**+ 19.4**
P_2O_5	**9.2**	**9.2**	**0**
K_2O	**33**	**0**	**+ 33.1**

مثبت عدد هغه مقدار غذایی مواد ښیي چه د نورو منابعو څخه باید تهیه شي تر څو د فصل ضرورت رفع شي. منفی عدد دا ښیي چه د انتخاب شوی سری پواسطه د ضرورت نه اضافی غذایی مواد مهیا کیږي.

پام وکړئ چه د رومیانو په مثال کی د نایتروجن او پوتاش اضافی مقدار باید د نورو منابعو څخه تهیه شي. فی الحال، د پوتاش یواځینی زیرمه حیوانی سره ده. محاسبه باید تر سره شی چه ولیدل شي چه څومره حیوانی سره باید علاوه شي تر څو د فصل د پوتاش ضرورت مرفوع شي . یو څه اندازه نایتروجن هم پدی کی علاوه کیږي. د نایتروجن پاتی برخه چه د DAP او حیوانی سری پواسطه نه وی تهیه شوی، د یوریا پواسطه تهیه کیږي . لکه څنګه چه ټول فاسفورس چه ورته ضرورت وي د DAP پواسطه تهیه کیږي او هغه فاسفورس چه د حیوانی سری څخه لاس ته راځي د فصل د اړتیا څخه ډیر وي . د مشرقی په متوسطه او قوی القلی ځمکو کی چیرته چه فصلونو ته لږ پوتاشیم رسیږی، دا باید یوه ستونزه نه وي.



5.4 د سری د تطبیق طریقی او وختونه

د تطبیق طریقی

د تطبیق مختلفی طریقی شته چه د سری په شکل، د فصل په ضرورتونو او د تطبیق په وخت پوری اړه لري . په مشرقی کی تر ټولو عامه طریقه د سری شیندل (Broadcast) طریقه ده . په دی طریقه کی د سری توصیه شوی مقدار په ټاکلی ساحه باندی پاشل کیږي او په بیلچی، رمبی او یا تراکتور سره د خاوری سره ګډیږي. معمولاً دا طریقه د کښت څخه د مخه، د ځمکی د چمتو کیدو په جریان کی سرته رسی اما په اوچتو بسترونو یا جویچو باندی د بستر د جوړیدلو څخه وروسته تر سره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2 شکل: د امونیم نایتریت پاشل د ځــمکی په سطحه

ددی طریقی ګټی دادي چه لږ وخت پکی مصرفیږي او کم کارګر غواړي . یو نقص یی دادې چه په یوه پراخه ساحه باندی شیندل کیږی او غذایی مواد د ریشو د ساحی څخه بهر پریوځی.

Banding : سره د کښت په وخت کی استعمالیږی خو پام باید وشي چه د تخم سره په مستقیم تماس کی را نشي . ځینی سرې خصوصاً نایتریت لرونکی سری د تخم د سوزیدو باعث ګرزي، د شنه کیدو څخه یی مخه نیسي او یا د ځوانو تیغو ریشي سوځي . پدی طریقه کی سره په کوچنیو چرو کی داسی کیښودل کیږي چه د نبات د تخمونو یا بوټی څخه ۴-۲ سانتي متره ژوروالی ولري او د تخم د قطار څخه ۸ سانتی فاصله ولري . کله چه سره د ځمکی د سطحی څخه لاندی تطبیق شي باید د یو څه لږی خاوری پواسطه وپوښل شي . دا طریقه د فاسفورس د تطبیق لپاره توصیه شوی طریقه ده چه په متوسطه او قوی قلوی ځمکو باندی علاوه کیږي. کله چه د فاسفورس سره په خاوره وشیندل شي او د خاوری سره ګډه شي ، د فاسفورس اکثره برخه د خاوری پواسطه قیدیږي او فوراً نباتاتو ته نه مهیا کیږي. د بینډنګ په طریقه کی د فاسفورس د غلظت په زیاتولو سره د ریشو ساحی ته نژدی کیږي د نبات استفادی ته مهیا کیږي. وچه سره د نبات دقطارو په امتداد وروسته لدینه چه نبات را څرګند او فعاله وده وکړي په جانبی شکل تطبیق کیږی . او یا هم به موضعی توګه د نبات په قاعده کی تطبیقیږي . جانبی تطبیق د اضافی نایتروجن د تطبیق لپاره د ودی د موسم په جریان کی استعمالیږي. دا باید د قطار به اړخ او یا په اوچتو بسترونو باندی تطبیق شي چه د نباتی قطار څخه ۲۰ سانتی فاصله ولري. نایتریت سرې باید وچی ځمکی ته علاوه نه شي او باید په احتیاط سره د خاوری سره یوځای شي . موضعی تطبیق هم مشابه دی خو پام باید وشي چه هغه سره چه د نبات سره نژدی علاوه کیږي د ریشو د سوځیدلو باعث ونګرځي.

Figure 1: امونیم نایتریت د بینډنګ په طریقه
Source: Koenig and Rupp, 1999

د ځینو عناصرو لکه د اوسپنی د تطبیق لپاره توصیه شوي طریقه خصوصاً په قلوی ځمکو کی د پاڼو له لاری ده . هغه سرې چه د پاڼو له لاری تطبیقیږي، هغه رقیق محلولونه دي او مستقیماً د پاڼو پواسطه ج ذبیږي او په سمدستی توګه د نبات استفادی ته مهیا کیږي. د تطبیق څخه ځو دقیقی وروسته جذب پکی کیږي. اکثراً غذایی مواد د محلول په یوه الی دوه ورځو کی په مصرف رسیږي . د سرو تطبیق پدی طریقه ځمکی ته **K,P,N** رسولی شي خو د نوموړو عناصرو د ساحوي تطبیق تعویض نه شی کیدی . په پاڼو باندی د غذایی مواد د سپری نباتاتو ته سمدلاسه غذایی موا د تهیه کولای شو خو پام باید وشي چه په لوړ غلظت سره دمایع سرې تطبیق د پاڼو د سوزیدلو سبب ګرځي.

پیل کوونکی محلول(Starter) سری په اوبو کی منحلی وي، معمولاً فاسفورس یی لوړ وي د بزغلی د کرلو په وخت کی د ریشو شاوخوا تطبیقیږي تر څو د ریشو وده او د نبات تثبیتیدلو ته چټکتیا وروبخښي.

د بسرلی په لمړیو برخه کی وده اکثراً د یخی ځمکی په وجه محدوده شوې وي، حتی که هوا ګرمه هم وي . دداسو شرایطو لاندی د ځمکی ژوندی موجودات فعالیت نه کوي او عضوی مواد به داسی شکلونو نشی تبدیلولی چه ریشی یی جذب کړي. پیل کوونکی محلول چه یا د ریشو د لاری تطبیق شي او یا په پاڼو تطبیق شي د کرل شوو بزغلیو سره مرسته کوي چه په یخه ځمکه کي تثبیت شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سرى د تطبيق وخت

د خاورى ډول او د نبات د ودى مرحله مونږ ته د سرى د تطبيق تكرار ټاكـي. اوبه د شګلنو خاورو څخه په چټكى سره تيريږي او غذايى مواد ترى لرى كوي خصوصاً د ريشو د ساحو څخه لاندى نايتروجن . هغه فصلونه چه په شګلنو خاورو كى كرل كيږي نظر هغو ته چه په درندوخاورو كى كرل كيږي، ډير مكرره سره وركول غواړي.

د ودى د موسم په دوران كى غذايى مو ادو ته د فصل اړتياوى د سرو د تطبيق په وخت باندى تاثير كوي . په عمومى توګه ريشوى فصلونه نظر پاڼى لرونكو فصلونو ته كم نايتروجن ته ضرورت لري . د فصل د ودى او انكشاف په وخت كى په متقا طع ډول نايتروجن تطبيق شي تر څو په كافى اندازه نايتروجن د نبات د ودى او انكشاف لپاره مهيا شي. د ځينو فصلونو لپاره لكه د تورو بانجانو فصل چه ډير اوږد موسم لري، سره نه يواځى د ضرورت وړ مقدار له مخى بلكه د نبات د انكشاف په ټاكلى برخه كى د فيصدى له نظره، توصيه كيږي (5.5 جدول). هغه سره چه د قاعدوى موضعى تطبيق څخه وروسته تطبيقيږى (د تورو بانجانو په صورت كى) په جانبى ډول علاوه كيږي.

د ميوى د ټولولو په جريان كى چه كومه سره تطبيقيږي، په څلورو ځلو كى تطبيقيږي چه دوه هفتى وقفه د هر دوه ځلو تر منځ موجود وي.

5.4 جدول: د ودى د موسم په جريان كى د كيمياوى سرو توزيع په فيصدى

غذايى عنصر	قاعدوى	درى اونى	شپږ اونى	د حاصل د ټولولو په وخت كى	مجموعه
N	30	15	15	40	100
P	50	0	50	0	100
K	30	15	15	40	100

ځوان بوټى نظر زړو بوټو ته نازكه او د حشراتو د حملى په مقابل كى مقاومت كم لري . كرونكي ضرورت لري چه د حشراتو پواسطه رامنځ ته شوى تخريب د سرى د تطبيق څخه وروسته و څاري او د حشراتو د ژوند د دوران په رڼا كي د سرى د تطبيق وختونو ته تغير وركړئ.

د مخصوصو فصلونو لپاره د سرى د تطبيق توصيه شوى اندازى او طريقى د هر فصل په مربوطه فصل كى ليدلاى شى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5. د نباتاتو حفاظت او ساتنه

Pest هغو ژوندیو موجوداتو ته ویل کیږي چه د نباتاتو لپاره مضر وي. هغوی کولای شي چه ساقی، پاڼی، ریښی، ګلان او میوی تخریب کړي. ځینی یی د نباتاتو سره د غذایی موادو او اوبو په جذب کی رقابت کوي. کله نا کله دا ژوندی موجودات سبزیجاتو ته دومره تاوان رسوي چه حاصلات یی ډیر ښکته او یا یی کیفیت ډیر ټیټوی چه په بازار کی نشی خرڅیدلای. چه په نتیجه کی د کروڼکي لپاره زیان رامنځ ته کوي.

د نباتاتو لپاره په مضره ژوندیو موجوداتو کی هرزه بوټی، حشرات، نیماتودونه او سپړی دي. هغه یی چه د ناروغی سبب ګرځي بکتریا، فنګس او فایتوپلاسما دي. پراختیایی کارکوونکی باید وپوهیږي چه د سبزیجاتو د تولید لپاره په شرقی زون کی کوم ژوندی موجودات مضر دي او د بزګرانو لپاره د حل کومی لاری موجودی دی او که چیری د کیمیاوی دوا ګانو څخه کار اخیستل کیږی نو کوم حفاظتی تدابیر باید ونیول شي.

1.5 هرزه بوټي

هرزه بوټی هغه نباتات دی چه په هغو ځایو کی شنه کیږي چه هلته پکار نه وي. کله نا کله دا بوټی د کوچنیو نباتاتو لپاره د سیوری د تهیه کولو او د رطوبت د ساتلو په اساس د اوړی په میاشتو کی ګټور وي. لاکن په عمومی توګه هرزه بوټی د نباتاتو سره د اوبو او غذایی موادو په قسمت کی رقابت کوي. دوی کیدای شی چه نورو مضره موجوداو او د ناروغیو عاملو مکروبونو ته ځای او ساتنه ورکړي. د هرزه بوټو تخمونه کیدای شی چه په ځمکه کی د اوږدی مودی لپاره پاتی شي او کله چه شرایط ورته مساعد شی شنه کیږي. ددی بوټو کنترولول د تولید مصارف لوړوي خصوصاً هغه وخت چه مزدورانو ته پکی ضرورت وي او یا قیمتی کیمیاوی دواګانی استعمال شي.

په شرقی زون کی عام مضره بوټي
<u>منی او ژمی</u>
Chenopodium sp
Poa grass
Rumex acutus
Convolvulus arvensis
Fox tail
Wild Mustard
Medicago
Bird foot
Bindweed
<u>پسرلی او اوړی</u>
Cyperus roundus
Solanum nigram
Datura indica
Euphorbia sp.

ددی هرزه ګیاه د کنترول لپاره په کوچنی پیمانه د سبزیجاتو تجارتی تولید کی تر ټول اقتصادی او موثری لاری دادي چه ښه کرهنیزه عملیات په کار واچول شی:

- پاک تخم استعمال کړ ئ، کله چه تخم ټولو ئ او یا یی پاکو ئ نو ښه یی پاک کړ ئ تر څو د اضافی نباتاتو تخمونه تری لری شي، تصدیق شوي تخمونه واخلی چه تاسی ته دا ډاډ درکړی چه نور اضافی تخم پکی ګډ نه دي.
- مخکی لدینه چه ځمکی ته یی علاوه کړ ئ نو ځمکی ته ښه سره ورکړ ئ، تازه سره د اضافی تخمونو یوه منبع ده او که د تجزیی په وخت کی له منځه ولاړ نه شی نو شنه کیږي او د سبزیجاتو سره په اوبو او غذایی موادو کی رقابت کوي.
- ځمکه قلبه کړ ئ تر څو د اضافی نباتاتو بقایاوی لاندی شی او د راتلونکی کښت څخه د مخه تجزیه او له منځه ولاړ شي
- د فصل د راشنه کیدو څخه وروسته، په وختی ډول یی خیشاوه وکړ ئ او بیا یی په تکراری ډول ترسره کوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

فی الحال په شرقی زون کی خیشاوه د لاس په ذریعه ترسره کیږي، خصوصاً د کرونکي د کورنۍ د غړو پواسطه . که چیری مزدور ته اړتیا شي نو د خیشاوی قیمت ډیر لوړیږي . کله چه بزګران د بازار لپاره په پراخو ساحو کی کښت کوي، دا شاید ډیر ارزانه وی چه د لاس پر ځای د کیمیاوی موادو څخه استفاده وشي.

د کیمیاوی دواګانو څخه چه اضافی نباتات وژنی د هرزه بوټو په کنترول کی کار اخیستلای شو. ځینی یی د فصل د شنه کیدو څخه د مخه تطبیقیږي او ځینی یی هم هغه وخت تطبیقیږي چه هم فصل او هرزه بوټی شنه شوی وي . ځینی کیمیاوی دواګانی انتخابی وی چه خاص هرزه بوټی وژني او ځینی یی هم ټول نباتات، هم اصلی نباتات او هم هرزه بوټی، وژني.دا مهمه ده چه د ځمکی لپاره صحیح کیمیاوی مواد انتخاب شي او د فابریکی د هدایاتو سره سم استعمال شي. که چیری که غلط کیمیاوی مواد انتخاب شي نو کیدای شی چه اساسی فصل ته هم تاوان ورسوي او پایی د منځه یوسي.

2.5 حشرات

د حشراتو ډیر ډولونه دی چه په سبزیجاتو باندی حمله کوي . ځینی یی تدریجی او پرمختلونکی تخریب واقع کوي او ځینی یی یو فصل په یو څو ورځو کی دننه دننه دمنځه وړی . ځینی حشرات ناروغۍ هم انتقالوي، خصوصاً ویروسونه. له نیکه مرغه ځینی حشرات ګټور وي لکه د شاتو مچی چه د ګلانو ګرده انتقالوي او د ښی میوی د نیولو څخه اطمینان تر لاسه کوي او Beetles یا ګونګټی چه د مضره حشراتو هګۍ خوري.



حشرات د خپل ژوند په دوران کی د مختلفو مراحلو څخه تیریږي . ځینی یی په قسمی توګه ت غیر شکل کوي او ځینی یی په مکمله توګه تغیر شکل کوي . ځینی حشرات لکه thrips د کوچنیو بالغو حشراتو په شان دنیا ته راځی . Leaf hopper, aphids, damselflies د هګیو څخه د nymph په شکل پیدا کیږي او بیا په تدریجی ډول د بالغ خصوصیاتو پیدا کوي (7.1 شکل). ځینی حشرات لکه پتنګان، مچان، او بیټلز د څلورو مرحلو څخه تیریږي: هګی، لاروا، پیوپا او بالغ شکل (7.2 شکل). لاروا یی (white grubs, loopers, leaf miners, cutworms, stem borers) نظر بالغو ته ډیر ضرر رسوي . حشرات د خپل ژوند په ځینو مرحلو کی ډیر حساس وی یعنی ژر له منځه تلی شی نظر نورو مرحلو ته . نو دا آسانه او ډیر موثره لار ده چه په همغو مرحلو کی چه حشرات ډیر حساس وي، د کنترول تدابیر تطبیق کړو.

حشرات د زبیښلو یا ژولو پواسطه تغذیه کوي . هغه حشرات چه د پاڼو، سا قو ، میوو او ګلانو په ژوولو تغذیه کیږي مثالونه یی:stem borers

Leaf miners and loopers دي چه په غوښن نسجونو کی تونلونه وکاږي او د پاڼو یا د نبات به نورو برخو باندی تغذیه کیږي. زخمی شوی نباتات کمزوری وی او د بکتریاوو حملو ته حساس وي. ځینی حشرات او چینجی د ځمکی لاندی جوړښتونو باندی تغذیه کیږي لکه ریښی او د ساقو د ځمکی لاندی برخی. ځوانی تیغی ددی په مقابل کی خاصتاً د ژوونکو موجوداتو د حملی په مقابل کی حساسی وي. هم په قوریو کی او هم د بزغلیو د کښت څخه وروسته.



شکل 2.5: د یو بیټل د ژوند دوران، څلور مرحلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه حشرات چه د زبیښلو په واسطه تغذیه کوي په خوله کی سوری کوونکی برخی لری. Aphids, thrips او leaf hopper د زبیښلو پواسطه تغذیه کیږي. هغه پاڼی چه قاتیږی یا تاویږي ددی ډول حملی ښکارندویه دي. کله چه زبیښونکی حشرات تغذیه کوي، کیدی شی چه نبات ته زهری مواد او یا مکروبونه پیچکاری کړي. غیر نورمالی ودی چه د gall په نامه هم یادیږي، هم د ه غه تخریب نښی دی چه د زبیښوونکو حشراتو پواسطه واقع کیږي. د زبیښونکو حشراتو نفوس لکه aphids هغه وخت ډیریږی چه نباتات فعاله وده ولري، فقط د سری د تطبیق څخه وروسته.

3.5 نور ژوندي موجودات

3.5 شکل:ما یټس

کله چه بزګران یا پراختیایی کارکوونکی د حشراتو د تخریب په هکله غږیږي، نو د سپږیو څخه هم یادونه کیږي. په حقیقت دوی حشرات نه دی خو کوچنی حیوانات دي چه د یوی بلی کورنی پوری اړه لري. د زبیښلو په واسطه تغذیه کوي او په چټکی سره ډیریږي. د سبزیجاتو فصلونو ته ډیر تاوان رسولای شي او ناروغی انتقالوي (7.3 شکل).

نیماتودونه چه کوچنی ګرد چینجیان وي هم د سبزیجاتو فصلونه تخریبولای شي. تر ټولو څخه عام نیماتود د د ریشی د غوټی نیماتود دی چه په خاوره کی پیدا کیږي.دا د هغی خاوری پواسطه انتقالیږي چه په بوټانو او ماشین آلاتو باندی پاتی کیږي او هم د اوبو په واسطه انتقالیږي. دا چینجی د ریشی په سطحه باندی غیر منظمی غوټی پیدا کوي چه نبات ته د غذایی موادو په انتقال کی مزاحمت کوي. کنترول یی خاصتاً ډیر مشکل وي کله چه د استراحت یا ډارمنسی په مرحله کی وي.

4.5 ناروغی او بی نظمی

د سبزیجاتو د ناروغیو اکثره ډولونه د ژوندیو موجوداتو لکه بکتریا، فنجی او حتی ویروسونو پواسطه رامنځ ته کیږي. ځینی ناروغی چه د بی نظمیو په نامه هم یادیږي، د حشراتو د تخریب، د چاپیریال ککړوالی، مالګی، او یا د ځینو غذایی موادو د ډیر زیاتو یا ډیر کمو مقدارونو پواسطه رامنځ ته کیږي. په دی رهنما کتاب کی مونږ به د ناروغیو او بی نظمیو یا تشوشاتو تر منځ توپیر وکړو، خصوصاً د ځینو خاصو سبزیجاتو په مربوطه فصلونو کی. په دی فصل کی یواځی ناروغیو باندی بحث کیږي.

ټول فنګسونه د ناروغیو باعث کیږي. ډیر یی ګټور وي. فنګسونه په ځمکه کی د عضوی موادو په پارچه کولو کی یو غټ رول لري (لکه حیوانی او ترکیبی سره).

Figure 7.6: Potato Y Virus Symptoms on Leaf
Source: Fact Sheet 02/2003, Western Australia Department of Agriculture

په شرقی زون کی د سبزیجاتو ډیری ناروغی دی چه د فنګسونو پواسطه رامنځ ته کیږي: Damping Off چه د بزغلیو د تولید یو مشکل کیدای شي، Powdery mildew چه د Cucurbit د خاندان ډیر نباتات لکه د یخ موسم(Cool) فصلونه او کاهو (7.4 شکل) متاثره کوي، او د Fusarium Wilt چه په رومیانو، هندوانو او لوبیا باندی حمله کوي (7.5 شکل).

بکتریا هغه عام میکروبی موجودات دی چه په خنثی او خفیفاً القلی

Figure 7.5: Fusarium wilt of tomato
Source: ohioline.osu.edu/hyg-fact/3000/3122.html

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاورو کی ښه وده کوي . هغوی نباتاتو ته د ټپونو د لاری ننوزي لکه د هغو تخریباتو له لاری چه د ژوونکو حشراتو پواسطه رامنځ ته شوي وي او یا د ساقو او پاڼو په خارجی سطحه باندی د طبیعی سوریو پواسطه نبات ته ننوزي. تر ټول عامی بکتریایی ناروغی چه په شرقی زون کی سبزیجات تر حملی لاندی راولي دادی : د Cucurbit د کورنی په سبزو لکه په بادرنګ Bacterial Wilt، په لوبیا Common Blight ناروغی.

ویروسونه هم لکه د ژوندیو موجوداتو په شان دي خو د حیواناتو یا نباتاتو په جمله کی نه راځي . هغوی د اخته شوي نبات څخه یو صحتمند نبات ته د Aphids, leaf hopper سپړیو پواسطه نقلیږي . ځینی ویرسونه په میخانیکی توګه انتقالیږي لکه د انسانانو یا حیواناتو د تماس پواسط ه د یو اخته شوی نبات سره . ځینی ویرسونه چه په شرقی زون کی په سبزیجاتو باندی پیدا کیږي هغه دادی : د هندوانو Mosaic Virus، د کچالو Virus Y (7.6 شکل).

بل د ناروغی پیدا کوونکی ژوندی موجودات پرازیتونه دی چه جسامت یی متوسط یعنی د ویرسونو د جسامت او بکتریاوو د جسامت ترمنځ قرار لري. د Phytoplasma په نامه یادیږي. ځنی ناروغی چه ددی پواسطه پیدا کیږي دادي: Yellowing, Stunting, Wilting and Distortion. په ګازرو، کاهو او رومیانو کی د Aster Yellows ناروغی پیژندل شوی.

5.5 د مضره ژوندیو موجوداتو د کنترول لپاره کړنلاری یا ستراتیژی

د سبزیجاتو کرونکی کولای شی چه د مضره ژوندیو موجوداتو پواسطه د راپیدا حملو څخه د ښو کرهنیزه عملونو او عادتونو په عملی کولو سره، کمی کړي او یا یی هم په ځینو حالاتو کی مخنیوی وکړي.

- د ښو ډولونو انتخاب
- د تصدیق شوو تخمونو استعمال
- د فصلونو تر منځ دزراعتی تناوب قایمول
- د کښت لپاره ښه ځایونه انتخابول
- د ځمکی ښه تیارول او په مناسب وخت کی کرل
- نباتاتو ته مناسبه غذا ورکول
- د اوبو ښه مدیریت څخه استفاده کول
- د ځمکو څخه نباتی بقایاوی ایسته کول او د پولو پاک ساتل (ښه نظافت)
- ځمکو ته د ګټورو حشراتو جلبول

ددی جریانونو څخه یی اکثراً په تفصیل سره په مخکینیو فصلونو کی پری بحث شوی دی. ځنی خاص ټکي یی چه د نباتاتو د ساتنی په اړوند بیا دلته کتل کیږي.

> **د مضره حشراتو اداره کول په توحیدی توګه (IPM)**
>
> تعریف: د مختلفو تخنیکونو د یوځای کولو پواسطه د مضره ژوندیو موجوداتو د اداره کولو لپاره یوه ستراتیژی ده چه د هغوی څخه د رامنځ ته کیدونکی ضررونو مخه نیسي بدون لدینه چه چاپیریال ته تاوان ورسیږي.
>
> تخنیکونه:
>
> څارنه: پدی پوهیدل چه کوم مضر حشرات موجود دي او د هغوی د نفوس په تغیراتو باندی پوهیدل
>
> کلتوری یا رواجی عملونه: د ځمکی تیارول په صحیح توګه، د نباتاتو د کرلو صحیح وخت، د مقاومو ډولونو استعمال، او داسی نور
>
> بیولوژیکی کنترول: د مضره موجوداتو طبیعی دښمنان تشویقول چه ځمکو ته راشي لکه د فرامون د مواد د استعما ل پواسطه، او داسی نور
>
> کیمیاوی مواد: د تصدیق شوو کمیاوی دواګانو استعمال په خوندی طریقه

هر کال د نوو سبزیجاتو ډولونه بازار ته راووځی. ددی څخه ډیر یی د هایبرید یا دوه رګه په ډول دی چه د مضره ناروغیو او حشراتو په مقابل کی یی مقاومت لوړ شوی وي. ځنی نور یی د اقلیمی حالاتو په مقابل کی ښه توافق کولای شي. که چیری یوخاص ډول یی ستاسی د منطقی د شرایطو سره توافق ونشی کړی، نو ښه وده نه کوی او د حشراتو او مضره موجوداتو د حملی لاندی راځي. د بزګرانو سره مرسته وکړئ چه هغه ډولونه انتخاب کړي چه د محلي ناروغیو او مضره حشراتو په مقابل کی مقاومت ولري. هغوی باید تصدیق شوي تخمونه او مواد واخلي چه د ناروغتیو څخه پاک وي. اکثره تخمونه چه د اړونده خرڅوونکو سره وي، د مخکی نه د فنګس وژونکو پواسطه

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید تداوي شی. بزغلی او ځوان بوټي باید صحتمند او قوي وي ترڅو هغوی وکولای شي چه د مضره ژوندیو موجوداتو په مقابل کی مقاومت وکړي.

د فصلونو تر منځ تناوب مراعت کول په ځمکه کی د مضره حشراتو او ناروغیو پیدا کوونکو موجوداتو د تجمع څخه مخنیوی کوي. بزګران باید په عینی ځمکه کی د عین کورنی نباتات د Solanaceae خاندان (توربانجان، رومیان، کچالو) د دوه پر له پسی فصلونو لپاره ونکري. مضره حشرات او ناروغی مهمولاً هغه نباتات چه نژدی ارتباط ولري، تر حملی لاندی راولي. د فصلونو بدلول د مضره ژوندیو موجوداتو د ژوند دوران قطع کوي او نفوس یی ښکته ساتي. د فصلونو د فصلونو د دوران بله ګټه داده چه د ځمکی د غذایی موادو څخه په سمه او موثره توګه استفاده صورت نیسي. فصلونه غذایی موادو ته مختلفی اړتیاوی لري او ریشی یی په مختلفو عمقونو سره قرار لري او که چیري په فصلونو کی بدلون راشي نو دا کار نه پریږدي چه د عین ژوروالی څخه په هر موسم کی غذایی مواد واخیستل شي.

ځینی ناروغۍ او حشرات په ځمکه کی د یو اوږد وخت لپاره پاتی کیږي. کرونکي باید د ځمکه په هغه برخه کی فصل ونکري په کوم کی چه دوی په مخکینی فصل کی د حشرو ستونزی لیدلی وي. که ستونزی باقی پاتی کیږي، نو ځمکه باید هیڅ ددوه کلو لپاره ونکرل شي او یا باید د فصلونو د پلان شوی دوران یوه برخه اوسي.

لکه څنګه چه په مخکینیو فصلونو کی ولیدل شو، که څه هم نباتی غذایی مواد شاید په ځمکه کی موجود وي خو شاید د نباتاتو استفادی ته مهیا نه وي. کیدای شی چه دلیل یی د خاورې pH خو دلیل یی دا هم کیدای شی چه په ځمکه کی په کافی اندازه اوبه نه وي ترڅو غذایی مواد د ریشو ترڅنګه د جذب لپاره ورورسوي. که خاوره ډیری زیاتی اوبه ولري، ریشی پدی نه توانیږي چه غذایی مواد جذب کړي. دا دواړه حالتونه په نباتاتو باندی د فشار سبب ګرځی او کمزوری کوي یی. په اوچتو بسترونو باندی د سبزیجاتو کرل د اوبو ښه تخلیه تامینوی او د خاصو فنګسونو پواسطه د حملو د کمیدو سبب ګرځی لکه هغه فنګسونه چه د Damping Off سبب ګرځي (شکل 7.7).

Figure 7.7: د کاهو تولید په اوچتو بسترونو باندی
Source: ALP/E, Afghanistan

د اوبو ورکولو په وخت کی په فشار سره د اوبوپاش کول باعث ددی کیږي چه سپورونه او د ناروغیو د عاملو موجوداتو نوری برخی پاڼو ته انتقال کړي. د ځینو نباتاتو لپاره لکه رومیان دا کومک کوي چه د لرګیو پواسطه یی د ځمکی څخه اوچت کړو ترڅو د د ځمکی سره په مستقیم تماس کی رانشي (7.8 شکل).

Figure 7.8: رومیان د لرګیو په تکیه
Source: Roots of Peace, Afghanistan

په وختی ډول کښت کول فصل ته اجازه ورکوي چه مخکی تر دی چه مضره حشرات او ناروغیی پیدا شی، د پخیدو مرحلی ته ورسیږي.څنګه چه په شرقی زون کی مضره حشرات کم دي د سوړ ژمی په خاطر، کله چه موسم بدلون مومی نو حشرات ډیر فعالیږي او مرض تولیدوونکی ژوندی موجودات په وده او تناسل باندی پیل کوي . پدی وخت کی په نباتاتو باندی ډیر فشار موجود وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینی حشرات بزګرانو ته ګټور وي ځکه چه د سبزیجاتو د ګلانو څخه ګرده انتقالوي. ځینی سبزیجات لکه بادرنګ او هندوانی تر هغی میوه نه نیسی که چیری د شاتو د مچیو پواسطه ګرده ور ونرسیږي . ځینی نور ګټور حشرات په مضره حشراتو ښکار کوي، د مثال په توګه بیټلز aphids او د حشراتو هګۍ خوري. ځینی عام ګټور حشرات چه د بزګرانو سره ملګرتیا کوي دادي : lacewings, mantids, green garden spiders, dragonflies, parasitic *Trichogramma* wasps, and green lacewings (شکل 7.9). بزګران باید د ګټورو او مضره حشراتو تر منځ په فرق وپوهیږي. کله چه مونږ دا ټاکو چه کوم ډول کنټرول ته ضرورت لرو، بزګران باید پام وکړي چه د کیمیاوی موادو څخه استفاده هم مضره او هم ګټور حشرات او موجودات وژني.



Figure 7.9: Green lacewing: predaceous larva
Source: Statewide IPM Program,© 2000 Regents, University of California,

د حشراتو څخه پرته نور طبیعی وژونکي هم شته لکه فنګسونه، بکتریا او ویرسونه. په تجارتی ډول هم دا فنګسونه، ویرسونه او بکتریا خرڅیږي چه د نباتاتو په پاڼو علاوه کیږي تر څو خاص حشرات او مضره موجودات ښکار کړي. ددیو څخه یی ډیر عام ډول *Bacillus thuringiensis* دی چه د کترپیلر د حشراتو ځانګړی ډولونه تر حملی لاندی راولي.

اکثره مضره موجودات خصوصاً حشرات کنټرولیدی شی که وختی کشف شي . ددی د کولو لپاره، کرونکي باید په منظمه توګه وګوري چه په ځمکو کی یی څه روان دي . دا د نظارت یا څارلو پنامه یادیږی. د موسم په جریان کی باید یو یا دوه ځلی په هفته کی تر سره شي، سهار وختي او یا د شپی د یو څراغ پواسطه . په پټیو کی د قدم وهلو په هکله مشوری په 1.5 جدول کی ورکړل شوی دي.

1.5 جدول: د ساحوی څارنی ترتیب

	کله چه د آفاتو یا نورو ستونزو لپاره څارنه تر سره کوئ چه باید په یو برابر ډول په پټی کی تر سره شي او یا د حشراتو یا ستونزو د خپریدلو ترتیب نامعلوم وي، نو په ټول پټی کی نمونی په مساویانه توګه واخلی.
	کله چه تاسی توقع کوئ چه ستنونزی یا آفا ت لمړی د پټی په اړخونو او یا بهر خوا ته څیرو باندی څرګندیږي، نو د نمونو موقعیت د پټی د اړخونو په امتداد په مساویانه توګه وویشی.
	کله چه تاسی توقع کوئ چه ستنونزی ټآفا ت لمړی د پټی په خاصو ځایونو کی شته، نو په هماغه ځایونو د نمونو موقعیتونه وټاکۍ چه احتما ل یی ډیر وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چه ځارنه ترسره کوئ، نو کمزوری او کوچنی نباتاتو په لټه کی شی، تخریب شوی پاڼی، ساقی، ګلان او میوی وګورئ . لکه څنګه چه حشرات د نبات په مختلفو برخو باندی تغذیه کوي او هګی اچوي نو بزګران باید د نبات څوکی ته وګوري، د پاڼو لاندینی برخي، د نبات قاعده، او یا د نبات په قاعده کی خاوره یا نباتی ټوټې وګوري . د هرزه بوټو لپاره ځارل بزګران د هرزه بوټو د فشار د انتقال څخه باخبر ساتي او دا آسانه کوي چه د هرزه بوټو ستونزی په ځانګړو موقعیتونو کی له منځه یوسي . د هرزه بوټو لپاره د کښت څخه ۷ نه تر ۲۰ ورځو وروسته ځارنه تر سره کړئ او بیا کله نا کله تر خلور یا شپږ اونیو لپاره ځارنه کوئ.

کله چه مضره موجودات وپیژندل شو، نو د کنترول مناسب تدابیر او انتخاب یوځای کیدی شي . په ځینو حالاتو کی حشرات د لاس په ذریعه لری کول عملی لاره وي لکه د bean beetle, cabbage worm, and cucumber beetle خصوصاً هغه وخت چه نفوس یی لا کم وي . ددی حشراتو اکثره ډولونه یی د پاڼو په لاندینیو برخو باندی موجودی وي. کرونکی په آسانی سره کولای شی چه د هګیو غونچي او نوی تولید شوی بچي د لاس په ذریعه تباه کړي یعنی د غټې ګوتی او د شهادت د ګوتی تر منځ و سولوي . دا طریقه د کوچنیو aphids په مقابل کی ډیره موثره ده. ځینی بیټلونه یا ګونګوټې فوراً راغورځیږی کله چه لاس وروړل شي او نبات په لاس سره په تیزئ سره ټکان ورکول باعث ددی کیږي چه دا موجودات راوغورځیږي او یو پراخه لوښی کی راټول شي. که څه هم د لاس پواسطه ټولول د ټولو حشراتو لپاره عملی نه وي، خو که په ثابته توګه تر سره شي نو موثریت یی په حیرانوونکی توګه لوړ دی.

ناروغ نباتات چه د ځارنی په جریان کی پیژندل شوی وي باید راوښکل شي او تباه شي. د ترکیبی یا نباتی سرو په جوړلو کی ځینی موجودات مړه کیږي، لیکن بهتره داده چه ناروغ بوټی وسوځل شي خصوصاً هغه چه ویروسونه لري تر څو اطمینان تر لاسه شي چه ناروغی همسایه بوټو ته سرایت نشی کولای. د تخم د کرلو څخه د مخه هرزه بوټی د لاس پواسطه راوښکل کیدی شی او کمپوست کیدی شی.

6.5 د مضره موجودات وژونکی (پستیساید)

پستساید هغه کیمیاوی مواد دی چه حشرات، د ناروغۍ پیدا کوونکی عا ملین چه د فصلونو حاصلات کموي کنترولوي. هغه کیمیاوی مواد چه د حشراتو په ضد استعمالیږی د insecticide یا حشره کش په نامه یادیږي. د هرزه بوټو د کنترول لپاره ګیاه وژونکی یا herbicide، د نیماتود د کټرول لپاره نیماتیساید او د فنګس د کنترول لپاتره فنجیساید په نومونو یادیږي . دا باید یوائځی هغه وخت استعمال شي چه د مضره موجوداتو د حملی له امله اقتصادی تاوانونه وجود ولري . په شرقی زون کی، کله چه موسم ګرم او وچ وي په سبزیجاتو باندی د مضره موجوداتو ډیر فشار نه وي او د اصلاح شوو کرهنیزه کړنو پواسطه اداره کیدی شی . لیکن کله چه کیمیاوی موادو ته اړتیا پیدا شي، پراختیایی کارکوونکی باید په کافی اندازه معلومات ولري چه بزګرانو ته ښی مشوری ورکړي.

حشره وژونکي کیمیاوی مواد

هغه مواد چه د حشرو د کنترول لپاره استعمالیږی د حشره وژونکو په نامه یادیږي. دد کیمیاوی موادو د طبقه بندی کولو یوه لاره داده چه د کیمیاوی ترکیب په اساس تر سره شي یعنی د موثره یا فعالی کیمیاوی مادی په اساس چه په کی موجوده ده. په 2.5 جدول کی د حشره وژونکو کیمیاوی موادو عام ډولونه ورکړل شوي دی او ورسره د هغوی د استعمال په هکله معلومات او ځینی نور مشاهدات هم ورکړل شوی دي. غیرعضوی حشره وژونکی مواد د زهریت او د هغه مودی په وجه چه په چاپیریال کی پاتی کیږي، نور نه استعمالیږي . اکثره یی عضوی وی یا د نباتاتو څخه جوړ شوی وي او یا هم په مصنوعی شکل . د نباتی تولیداتو څخه چه جوړ شوی وی د هغوی مثالونه pyrethrum دی چه د chrysanthemum څخه جوړ شوی او نیکوتین دی چه د تمباکو څخه جوړ شوی دی، او neem دی چ د *Azadirachta indica* څخه جوړ شوی دی. هغه حشره وژونکی کیمیاوی مواد چه ډیر پراخه استعمال لری، مصنوعی ترکیبی دی چه ډیر حشرات وژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تولیدات یا ډولونه یی	مشاهدات	فعاله ماده
DDT, Lindane, Chlordane, Methoxychlor, Heptachlor, and Aldin	پراخه استعمال لري خو د تطبیق څخه وروسته د دیر وخت لپاره پاتي کیږي، په انساجو کی جمع کیږي، ډیر یی منع شوی دی	Organochlorines
Parathion, Malathion, Diazinon, Dameton, Chlorpyrifos	په چاپیریال کی نه جمع کیږي او په ۳۰ ورځو کی تجزیه کیږي، پاراتیون Parathion د انسانانو لپاره ډیر زهری دي، ملاتین تری نه کم زهري دی	Organophosphates
Carbaryl (trade name Sevin), Carbofuran, Aldicarb, and Propoxur	د ارګانو فاسفیت او ارګانوکلورین څخه بی خطره دی، په اووه ورځو کی تجزیه کیږي، د زبیښونکو او ژوونکو حشراتو په مقابل کی موثر دي.	Carbamates
Cypermetrine	د pyrithrin سره چه د chrysanthemum څخه تر لاسه کیږي معادل دي، د دیر حشراتو په مقابل کی موثریت لري، انسانانو ته کم زهري دي	Pyrethroids

2.5 جدول: د مصنوعی عضوی حشره وژونکو موادو ډولونه

موثره ماده	مشاهدات	تولیدات
Organochlorines	پراخه استعمال لري او د تطبیق څخه وروسته د ډیری مودی لپاره فعال پاتی کیږي، د نباتاتو او حیواناتو په انساجو تاثیر کوي، اکثره یی بند دي.	DDT, Lindane, Chlordane, Methoxychlor, Heptachlor, and Aldin
Organophosphates	په چاپیریال کی نه ډیریږي، په ۳۰ ورځو کی تجزیه کیږي، پاراتیون د انسانانو لپاره ډیر زهري وي، ملاتیون نظر پاراتیون ته کم زهری وي	Parathion, Malathion, Diazinon, Dameton, Chlorpyrifos
Carbamates	د organophosphate په نسبت بی خطره وي، په ۷ ورځو کی تجزیه کیږي، د ژوونکو او زبیښونکو حشراتو په مقابل کی موثره وي.	Carbaryl (trade name Sevin), Carbofuran, Aldicarb, and Propoxur
Pyrethroids	مصنوعی ماده ده چه د pyrethrin سره چه د chrysanthemum څخه جوړیږی معادله ده، د حشراتو د ډیرو ډلونو په مقابل کی موثره ده، انسانانو لږه زهري ده.	Cypermetrine

(c) ketabton.com: The Digital Library

حشره کش هم د خپلو اثراتو په اساس چه حشرات وژنی صنفبندی شوی دی . هغه کیمیاوی مادی چه د تماس پواسطه وژل کوی د تماسی یا کانتکت حشره وژونکو موادو په نامه یادیږي . هغه چه د نبات پواسطه جذبیږی او هغه حشرات چه تری تغذیه کوی وژل کیږي، د سیستماتیک حشره وژونکو په نامه یادیږي . اکثره حشره وژونکی مادی چه په شرقی زون کی استعمالیږي، لکه ملاتیون، د تماس په اثر زهریت لري. دا ډول مواد هغه حشرات چه ورسره په تماس کی راځی اکثره وژني . اکثره یی غیر انتخابی دي . هغه حشرات چه د پانو په لاندی برخو کی پټیږي مشکل وی چه راساً ددی مادی پواسطه ووژل شي . بزګران باید ډیر پام وکړي چه ټول متاثره ځایونو ته د ملاتیونه ماده ورسوي.

د حشره وژونکو فعاله ماده د غیرفعالی مادو سره یوځای کیږي . ځینی یی د استعمال لپاره آماده وی او ځینی نور یی دی ته ضرورت لری چه د استعمال څخه د مخه د اوبو سره یوځای شي . د وچو ترکیباتو عام ډول یی د ګرد شکل، حلیدونکی پودر، دانی، ګولیو او یا طعمو په شکل وي. همدارنګه په مایع شکل راځی لکه ایروسول، غلیظ او رقیق محلولونه چه فشاری په قطیو کی وی.

فرامون طبیعی کیمیاوی مواد دی چه حشرات یی استعمالوی تر څو د خپل مخالف جنس حشری ځان ته جلب کړي. همدارنګه د حشراتو د کنترول لپاره هم استعمالیږي . دا مادی د حشراتو د تناسل دوران مختل کوی او نران نشی کولای چه مونثی حشری پیدا کړي. هګی چه تولیدیږی هم اکثراً خنثی وی یعنی تولد نه کوي. فرامونونه په دامونو کی ایښودل کیږي تر څو حشرات ورته راشی او بیا د حشره کش موادو پواسطه له منځه ولاړ شي. دا کار دوه ګټی لری یو دا چ ه د حشره وژونکی مادی استعمال کموی او بل دا چه هغه سطحه چه باید پری استعمال شی هم کمیږي. ددی سیستم نه استفاده کول د چاپیریال لپاره کم مضریت لري.

فنګس وژونکی(فنجیساید)
دا هغه کیمیاوی مواد دی چه فنګسونه کنترولوي هغه چه په سبزیجاتو کی د ناروغیو سبب ګرځی . ځیږی یی داسی وی چه د نبات په هره برخه چه تطبیق شی هماغه برخه د فنګس څخه ساتي. نو په همدی خاطر دا ماده باید په ټول نبات باندی په مساویانه شکل استعمال شی ترڅو ډیر ښه حفاظت ورکړي. یو مثال یی Captan دی چه د سپری یا ګرد په شکل په سبزیجاتو باندی او د تخم د تداوی لپاره هم استعمالیږي. دوهم ډول یی چه عام استعمال لری هغه دی چه د نبات پواسطه جذبیږی او د نبات په نسجونو کی خپریږی او د انتان یا مکروب لکه فنګس سره مبارزه کوي. Benzimedazole یو سیستمیک فنګس وژونکی دی چه د Botrytis په مقابل کی موثر دی.

فنګس وژونک همدارنګه د ه غوی د کیمیاوی جوړښت په اساس طبقه بندی کیږي، چه عضوی دی یا غیر عضوي. 3.5 جدول د عضوی او غیرعضوی فنګس وژونکو مشخصات وړاندی کوي.

3.5 جدول: عضوی او غیر عضوی فنګس وژونکی چه په عام ډول استعمالیږي.

ډول	مشاهدات	تولیدات
عضوی فنګس وژونکی	په تاثیر کی ډیر انتخابی وي، د نبات د نسج لپاره کم تخریبی وي، په آسانی سره تجزیه کیږي.	Dithiocarbamates such as thiram, maneb, zineb, and mancozeb; substituted aromatics; thiazoles; benomyl; triazines; and dicarboximides
غیر عضوی فنګس وژونکی (اساسی عناصر یی سلفر، مس، سیماب دی)، په اسانی سره نه تجزیه کیږي او د عضوی موادو څخه ډیر زهری دی.	سلفر: پودر یا حلیدو وړ پودر وي، په لوړه درجه د حرارت کی د تماس پواسطه وژل کوي مس: د Downy Mildew په مقابل کی موثر دی او همدارنګه حشرات نه پریږدي، په اوبو کی منحل نه دی	سلفر چه د downy mildew په مقابل کی موثر دی Bordeau mixture: Copper sulphate and hydrated lime

(c) ketabton.com: The Digital Library

7.5 آفـا ت کش یا پستسایدو څخه په خوندی طریقه کار اخیستل

آفات وژونکی کیمیاوی مواد که چیری په مناسبه او صحیح طریقه استعمال نه شي نو ضررناکه وي . په آسیا کی ډیر داسی مثالونه شته چه بزګرانو تری روغتیایی ستونزی پیدا کړي، چه یایی ډیر زیات استعمال کړی او یا یی په غلطه توګه استعمال کړي.

د سبزیجاتو کرونکی په شرقی زون کی د کیمیاوی حشره کشو موادو څخه هغه وخت باید استفاده وکړي چه د کنترول لپاره یی بله لاره نه وي . که حشره وژونکی کیمیاوی مواد ضروری وي، نو څو قدمونه دی چه یو کرونکی یی باید واخلی ترڅو خپل ځان او خپل د ځمکی کارکوونکي هم د ناروغه کیدو څخه وژغوري.

- هغه حشره وژونکی کیمیاوی ماده انتخاب کړ ئ چه ډیره کمه زهري وی او د خاصو حشراتو او مضره موجوداتو په مقابل موثریت ولري
- د فابریکی لارښوونی تعقیب کړئ تر څو په خوندی توګه استعمال شي
- ژغورونکی لباس واغوندئ او د استعمال څخه فوراً وروسته ځان ومینځئ
- په ډیر پام سره کیمیاوی مواد تطبیق کړ ئ یعنی د مساعد شرایطو لاندی چه باد او باران نه وي، په سم وخت کی (د مضره ژوندیو موجوداتو د ژوند په حساسو مرحلو کی، د حاصلا تو د ټولولو څخه لږ مخکی باید تطبیق نه شی ترڅو په حاصلاتو باندی یی اثرات پاتی نه شی او مصرفوونکو ته ضرر ونه رسوي).
- پدی پوهیدل چه د حادثی په وخت کی باید څه وشی
- د استعمال څخه فوراً وروسته باید ټول سامان الات پاک شي
- کیمیاوی مواد په یو مصؤن او خوندی ځای کی د فابریکی د لارښوونو په اساس کښیږدئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

6. د حاصلا تو ټولول او د ټولولو څخه وروسته یی اداره کول



Figure 8.2: د فشار پواسطه د رومیانو زخمی کیدل
Source: http://www.fao.org/docrep/008/y4893e/y4893e04.htm#TopOfPage

په شرقی زون کی سبزیجات تازه راټولیږي یا د مستقیم مصرف لپاره او یا د پروسس کولو لپاره. د بزګرانو ګټه په دی پوری اړه لري چه د ښه **کیفیت** والی تازه تولیدات مشتریانو ته ورسوي، هم د افغانستان دننه او هم تری بهر، د **ضرورت په اساس**. اکثره سبزیجات ډیر موقتی وي او د حاصل د ټولولو څخه وروسته تمایل لري چه ژر خراب شي. داسی اټکل کیږي چه د تولیداتو خرابیدل یا خسی کیدل د بزګر ګټه د ۵۰-۲۵ فیصدو پوری راښکته وي.

د یو پراختیایی کار کوونکی په حیث ستاسی نقش دادی چه کرونکی د حاصلاتو د عمده علتونو څخه خبر کړئ، او هغوی د حاصلاتو د ټولولو او اداره کولو په خاصو تخنیکونو کی وروز ئ چه باعث ددی کیږي چه د حاصلاتو د ټولولو څخه وروسته ضایعات را ښکته شي.

1.6 د حاصلاتو د ټولولو څخه وروسته ضایعات کمول

تازه تولیدات د ۷۵ نه تر ۸۵ فیصده پوری اوبه لري چه د اوبو اندازه یی د سبزی د ډول او د نبات د استعمالیدونکی برخی پوری اړه لري . د حاصل د ټولولو څخه وروسته فزیولوژیکی عملونه (تنفس او تبخیر کیدل) د یو وخته پوری ادامه مومي ځکه چه نباتی انساج لا ژوندی وي. د تنفس په جریان کی د نبات غذایی ذخیری کمیږي او بیا عوض کیږي نه چه باعث ددی کیږي چه عمریی ژر تیر شی، وزن بایلي، خوند بایلي خصوصاً خوږوالی او د مصرفوونکو لپاره غذایی ارزښت یی کم شي. هغه اوبه چه د تبخیر د لاری خارجیږی هم بیا نه پوره کیږي . که چیری تولیدات خپلی ۵ نه تر ۱۰ فیصدو پوری اوبه له لاسه ورکړي نو مړاوی کیږي او خرڅیږی نه. څومره چه د حرارت درجه لوړه وي په هماغه اندازه د اوبو ضایع کیدل ډیر وي . د رطوبت د لاسه ورکول او مړاوی کیدل نبات د ناروغیو په مقابل کی ډیر حساس او کمزوری کوي او د هغو ی د ساتنی موده کموي.

په غیر مناسبه او غیر صحیح توګه د سبزیجاتو اداره کول هغوی ته فزیکی صدمه متوجه کوي . زخمی کیدل، ماتیدل او د پوستکی چاودیدل باعث ددی کیږی چه په نسج کی یی بدلون راشی او باعث ددی شی چه خوند د لاسه ورکړی او په چټکی سره په عمر پوخ یا بی فایدی شي (8.1 شکل). هغه ژوندی موجودات چه ناروغی پیدا کوی کولای شي چه سبزیجاتو ته داخل او باعث ددی شی چه نسج خراب او یا داچه ژر وچ شي.

2.6 د حاصلاتو تیارول

تجارتی کرونکی باید د حاصل د ټولولو لپاره ښه طرحه وکړي . کار او مزدوري، سامان الات او انتقال یی باید ښه د مخه ترتیب شي. کرهنیزه کارکوونکی باید وروزل شي تر څو سبزیجات د پوخوالی په صحیح مرحله کی راټول کړي. هغوی باید زده کړي چه سبزیجات څنګه راټول کړي، څنګه یی راوشکوي، غوڅ یی کړي او راویکاږی بدون لدینه چه زخمی شی. فزیکی ژوبلی هله کمیدی شی چه کارګران وروزل شي چه د مناسبو لوښو څخه استفاده وکړي، او د غلطی کرنی څخه ډډه وکړی لکه) ارتول یی او یایی غورځول) او چه په سمه توګه یی بسته بندی کړي. ځینی تولیدات هملته په پټیو کی راټولیږي او بسته کیږي او راساً بازار ته انتقالیږي . کارګران باید په ترتیب سره د سبزیجاتو اینښودل زده کړي. د حاصلاتو د ټولولو سامان او وسایل باید پاک شي، تیره شي مخکی لدینه چه د حاصلاتو ټولول پیل کیږي او د استعمال څخه وروسته سمدلاسه پاک او کښیښودل شي.

3.6 کله باید حاصل ټول شي

د سبزیجاتو د ساتنی مدت او د اوږدی مودی استعمال یی د حاصل د ټولولو په وخت کی د هغوی د پخیدلو د مرحلی پوری اړه لري . غله جات هله راټولیږي چه فزیولوژیکی پخیدو ته ورسیږي (یعنی کله چه یی وده ودریږي)، سبزیجات معمولاً لږ څه وختی را ټولیږي، چه د پخیدو دی مرحلی ته تجارتی پخیدل وایی . دا هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرحله ده چه یو خاص سبزی د مصرفوونکو یا بازار لپاره د پخیدلو مطلوبه مرحلی ته رسیدلی وي. دا پدی د نبات د استعمالیدونکی برخی په اساس فرق کوي: یعنی د نبات پانی،گلان، ساقی، میوی یا ریشی (8.2 شکل).

د سبزیجاتو کرونکی د خپلی تجربی په اساس د ځینو طریقو څخه کار اخلی ترڅو معلوم کړي چه نبات د پخیدلو په مرحله کی دی او که نه. که چیری د ښی ببی لپاره رنګ ضروری وی نو حاصلات تر هغه ځنډوي ترڅو چه مطلوب رنګ تر لاسه شي. په ځینو میوه جاتو کی د نرم والی درجه مهمه ده (بزګران د خپلی غتی ګوتی پواسطه په میوو باندی فشار واردوي او نرم والی یی معلوموي). په قشر لرونکی فصلونو کی د قشر ماتیدل د پخیدلو درجه ښیی.

د پخیدلو ضریبونه هغه اندازه ګیری ده چه بزګران یی استعمالولای شی ترڅو د بازار لپاره د حاصل د ټولولو تر ټول ښه وخت معلوم کړي. دا ضریبونه معیاری شوی دی ترڅو تولیدات چه بازار ته عرضه کیږي د صارفینو لپاره مناسب وي.

د حاصل ټولول او بازار ته عرضه کول

د ریشو او تیوبرونو لکه د ګازرو، اوړی، پیازو او کچالو ذخیره کول هله اصلاح کیږي چه د مکمله پخیدلو په مرحله کی راټول شي.

ځینی ریشی لکه ګازری په اوړده موده راټولیدلای شی او په ځمکه کی پاتی کیدی شي.

هندوانی او خټکي باید په صحیح مرحله کی راټولي شي، که ډیر وختی وی نو په کافی اندازه خوږوالی نه لري او ډیر ناوخته وي بیا هم د شکر مقدار یی کمیږي او نرمیږي.

رومیان هله راټولیږی چه پاخه نه وي تر څو لری بازارونو ته انتقال شي.

اندازه ګیری د فصل په اساس فرق کوي . په اندازه ګیری کی لاندی خصوصیات په پام کی نیول کیږي:

- د ګل څخه تر حاصل پوری د ورځو شمیر
- ظاهری بڼه او د میوی د سطحی خصوصیات
- د سر یا ګل جسامت، شکل او کلکوالی
- جوړښت او کلکوالی
- خارجی او داخلی رنګ
- د کیمیاوی ترکیب تغیرات (د جامدو موادو منح له اجزاوی، د نشایستی ویش، دشکر او تیزابو نسبت)

د پراختیایی کارکوونکی په حیث تاسی باید ددی ضریبونو سره آشنا اوسی او بزګرانو سره مرسته وکړئ چه په استعمال یی پوه شي او د خپلی تجربی برسیره یی استعمال کړي ترڅو اعظمی ګټه تر لاسه کړي . د هر فصل لپاره د پخیدلو ضری ب په راتلونکو اړونده فصلونو کی توضیح کیږي.



Figure 8.2: نباتی مختلفی برخه چه تری د سبزیجاتو په حیث استفاده کیږي
Source: Unknown

د پخیدلو د درجی نه پرته، د حاصل د ټولولو وخت د هوا د حالاتو پوری هم اړه لري . تازه تولیدات باید

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورځې په سره برخه کې راټول شي (سهار وختي) کله چه فصل او د حرارت درجه ډیره یخه وي او کله چه نبات د رطوبت لوړ مقدار ولري. ټول شوی نباتات باید په پټیو کې پرېښودل شي چه لمر ته وچ شي . د لمدو سبزیجاتو راټولول ددې خطر لري چه د ذخیرې په وخت کې په ناروغیو اخته شي.

4.6 د حاصل د ټولول تخنیکونه

د لاس پواسطه د حاصلاتو راټولول د نبات هغې برخې پورې اړه لري چه راټولیږي . د پاڼې لرونکو فصلونو لپاره لکه کرم او کاهو، کیدی شی چه ساقه د لاس په ذریعه راوشکول شي او یا د یو تیره چاقو پواسطه د ریشو سره نژدې قطع شي. د ریشې او غوټې والا فصلونه لکه کچالو عموماً د بېلچې یا رمبې پواسطه راټولیږي . کینډل باید د نبات څخه ۱۵ سانتي لرې پیل شي تر څو کرونکې وکولای شی چه په صحیح توګه نبات راوکاږي. د پیاز او اوږې غوټي باید راوېستل شي او پاڼې یې د غوټې څخه درې سانتي لرې قطع شي . مخکلې لدینه چه کش شي، باید د بېلچې په ذریعه نرمه شي . پخې میوې چه په طبیعې ډول د شاخ سره د قطع کولو لپاره یوه نقطه ولري لکه رومیان، اول باید اوچت شي او بیا تاو او کش شي . خامې میوې نازکه وې او د چاقو پواسطه باید غوڅ شي لکه لیرو.

که چیرې په اوږو باندې او یا په ملا باندې بوجۍ یا خلتې وتړل شي نو دواړه لاسونه د ټولول لپاره وزګاریږي . لوښي باید په پام سره خالي شي ترڅو د میوو د ژوبلیدو څخه مخ نیوی وشي. دا لوښې باید د امکان تر حده ډیر صفا شي. د هغو بکسونو د استفادې څخه چه تیرې څوکې ولرې باید ډډه وشي او یا داچه د کاغذ او یا داسې کوم شي پواسطه وپوښل شي. د امکان په صورت کې تولیدات کیدی شی چه د ځمکو څخه مستقیماً هغو لوښو ته انتقال شي په کوم چه ذخیره یا انتقالیږي.

5.6 په ځمکه یا پټیو کې د فصل د مدت اصلاح

هغه تولیدات چه ډیر زیات شریدونکي وي باید د پټیو څخه یو سیورې ته ژر تر ژره انتقال شي . د کارتنونو د پاسه لمده ټوټه هواره کړې شي تر څو د لمر د حرارت څخه ساتنه وشي. ځینې پاڼې لرونکې سبزیجات کیدی شي چه پرې اوبه په ټاکلو وقفو کې وپاشل شي تر څو د پاڼو رطوبت وساتل شي. په ساحه کې باید د مناسبو وسایلو څخه کار واخیستل شي او د سیورې لاندې وی تر څو یخ وساتل شی او د هوا جریان ته زمینه مساعده شي.

د غوټو لپاره د وچولو څخه استفاده کیږي چه مفید ژوند یې اوږد شي. فصلونه لکه پیاز او اوږه په ساحه کې وچیدلای شی، او په یوه طبقه کې په ځمکه هواریږي د څه نا څه شپږ

د فصل د تخریب د کمولو او د مفیده ژوند اوږدولو لپاره تخنیکونه

د اوبو ضیاع ددې تخنیکونو پواسطه کمه کړئ: هله یې حاصلات راټول کړئ چه ښې اوبه ورکول شوي وي، په ډیر رطوبت کې یې وساتئ او د هوا جریان ورته کم کړئ، تولیدات یخ وساتئ

مه یې تخریبوئ: کشوی یې مه، غورځوی یې مه، په پام سره یې بسته بندي کړئ، د بسته بندۍ لپاره د ښو وسایلو څخه کار واخلئ، په خرابو سړکونو باندې په پام سره موټروانی کوئ

ناروغۍ کمې کړي ددې پواسطه: خرابې او ناروغه میوې ایسته کړي، د هوا کافي جریان پریږدي ترڅوتبخیر کیدل کم شي او رطوبت د جمع کیدو څخه مخه ونیول شي، په ځمکو کې بکسونه پاک وساتئ او مه پریږدئ چه تولیدات مو ځمکې سره ولګیږي.

تولیدات یخ وساتئ. تخنیکونه یې: سهار وختي حاصل ټول کړئ، د لمر څخه یې وساتئ، هر څومره ژر چه کیدی شی د پټیو څخه یې انتقال کړي، د سیورې لاندې یې ذخیره کړئ، که یخچال نه وی نو تولیدات په تیاره، یخ او مرطوب ځای کې وساتئ، او که یخچال وی نو په **cool**یخه خانه کې باید تر خرڅلاو پورې وساتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځو لپاره. دا ددی لپاره کیږي چه بهرنی قشرونه یی سخت شي او د غوټی د غاړی څخه رطوبت لر ې شي، تر څو د ذخیری او بازار ژوند یی اوږد شي.

اکثره ریشه یی فصلونه ګرم او مرطوبی هوا ته داسی عکس العمل ښیی چه پوستکی یی سخت او ډبل کیږي . دا د اوبو د کموالی او انتان یا مکروب په مقابل کی ژغورنه ورکوي . ژوبلی روغیږي. دا د curing په نامه یادیږی او د ځینو تولیداتو لکه د کچالو او ګازرو د ذخیری وړ ژوند کی د پام وړ اصلاح راولي.

6.6 مینځل

هغه سبزیجات چه د هغوی د ځمکی دپاسه برخی راټولیږی باید مخکی د بسته بند ۍ څخه او بازار د عرضی څخه ومینځل شي. داسی هم کیدای شی چه د ودی په دوران کی په ځمکو کی پاک وساتل شي . د ملچ یا د نباتی پوښونو استعمال یوه ډیره ښه طریقه ده چه د باران او یا اوبوني پ ه وخت کی د نبات هغو برخو ته د اوبو د پاشیدلو څخه مخنیوی کوی کومی چه راټولیږی د حاصل په حیث . که کیمیاوی دواګانی استعمالیږی نو د تطبیق وخت یی باید داسی وټاکل شي چه فعاله ماده یی تجزیه شی او د حاصل د ټولولو په وخت کی په سبزیجاتو باندی یی هیڅ اثرات پاتی نه شي. د تطبیق او د حاصل د ټولول تر منځ مناسبه وقفه د اړونده کیمیاوی موادو باندی لیکل شوی وي . که تولیدات ذخیره کیږی باید په کلورین داره اوبو (ppm۲۰۰)، یا د هغه تجارتی فنجیسایدو پواسطه چه لاسرسی ورته اوس د ۳۰ ثانیو لپاره ومینځل شي، او بیا د اوبو پری تیری او وچ شی تر څو فنګس کنترول شي.

د ریشی او د غوټی نباتات چه د فوری خرڅلاو لپاره راټولیږي لکه کچالو او ګازری، عموماً په احتیاط سره مینځل کیږي ترڅو پوری نښتی خاوره تری لری شي . د پیازو غوټي مینځل کیږي نه، ځکه چه خارجی قشرونه یی خرابیږي.

7.6 منظمول او درجه بندی

دا ددی لپاره ترسره کیږي چه تازه تولیدات د کیفیت په اساس درجه بندی او طبقو باندی منظم شي. هر فصل ځانته د کیفیت معیارونه لري چه د ترتیبولو او درجه بندی کولو لپاره استعمالیږي . عکسونه، روزنه د کارګرانو سره مرسته کوی چه درجه بندی ترسره کړي . تخریب شوی، خام او یا ناروغه تولیدات باید ایسته شي . ماتی شوی، چاودیدلی او یا داغ شوی میوی باید لری شي خو همیشه ایسته نه اچول کیږي . په هغه کتګوری میوو کی اینودل کیږي چه کیفیت یی ښکته وي او کیدی شی چه په ارزانه بیه وپلورل شي.

لوړ کیفیته درجه یا طبقه باید هغه سبزیجات وي چه:

- داغونه یا زخمونه ونلري
- یو برابر جسامت او پخوالی ولري
- ښه یو برابر رنګ او پاک پوستکی ولري

ټیټ کیفیته درجه یا طبقه کیدی شی مختلف جسامتونه، د پخیدلو مختلفی درجی، په پوستکو کی ممکن یوڅه درزونه وي او یا یی رنګ کمزوری وي.

درجه بندی کله نا کله په ځمکو کی د ونو تر سیوری لاندی تر سره کیږي. چه دا غیر موثر او د پاکوالی له نظره درست کار نه دی. د درجه بندی لپاره خاص ځایونه چه کارګران د میزونو سره ولاړ وي باعث ددی کیږي چه درجه بندی ژر تر سره شي. که میزونه د پالیتین د پوښونو پواسطه وپوښول شي، نو پاکول یی آسانه وي او کیدی شۍ چه پوښونه یی په ارزانه توګه پاک شي. روښنایی باید ښه وي.

8.6 په پاکټونو کی اچول

په پاکټونو کی اچول مهم دي ځکه چه تولیدات زړه راښکونکی کوي، انتقال او پلورل یی آسانه کوی او میخانیکی ضربو څخه یی د انتقال په جریان کی ساتي. هغه مهمی میخانیکی تخریبونه چه د سبزیجاتو بازار راښکته کوي په لاندی ډول دي:

- پری کیدنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د فشار په اثر ژوبلی – کله چه بکسونه یا کریتونه کلک نه وی او که سر په سر شي غورځی
- د ټکان ضربه چه کله بکسونه یا کریتونه په بی احتیاطۍ سره وغورځول شي
- هغه ژوبلی چه د میوو د سولیدل کیدو په وجه یو دبل سره پیدا کیږي.

د پاکټ کولو یا بسته بندۍ مواد کیدای شی چه د لرګی، سفنج، پلاستیک او یا د کارتن کاغذ څخه جوړ شوی وي. او باید سپک وژنه او دوباره د استعمال وړ وی . ښه داده چه داسی مواد پکی استعمال نه شی چه کلکوالی یی کم وي چه د غورځیدو په وخت کی یی سبزیجات زخمیی او متضرر شي . 8.1 جدول د بسته بندی د مواد ګټی او تاوانونه ښیی.

1.6 جدول: د بسته بندۍ لپاره د عامو استعمالیدونکو موادو پرتله یا مقایسه

مواد	ګټی	تاوانونه	اساسی استعمال
هغه طبیعی مواد چه په محلی توګه پیدا کیږي (کارتنونه، د بانسونو بکسونه او داسی نور)	• **ښکته بیه** • په اسانۍ سره لاس ته راتلای شي • په محلی توګه خلکو ته د کار پیدا کول	• **کمزوری او دیزاین کی خراب وي** • څنډی یی تیری وی چه تولیدات زخمی کولای شي • د انتقال په وخت کی ډیر ځای نیسي چه مصارف لوړوي	• **په کرونده کی استعمالیږي**
د لرګی باکسونه او پتړوسونه	• **قوی، کلک او یخچال کی ایښودل کیدی شي** • بیا بیا استعمالیدی شي • په محلی توګه استعمالیدی شي	• **د ضرورت په وخت کی به د لاس ته راتلو وړ نه وي** • قیمته به وي • په مناسبه توګه به دیزاین شوی نه وی او یا به جوړه شوی نه وي. د کوته کولو او د هوا د جریان ستونزي • پاکول یی سخت وي	• **د کروندی څخه عمده فروش ته**
د فایبر تختی او د کلک کاغذ تختی	• **ډیر سپک** • په اسانی سره تجارتی نښه او داسی نور پری لیکل کیدی شی	• **قیمته وی** • بیا نشی استعمالیدی • که څه هم په محلی توګه جوړیږي خو بیا هم خام مواد یی باید وارد شي.	• **عمده خرڅوونکی او تجاران یی په ښاری بازارونو کی خرڅوي** • د پرچون لپاره استعمالیږي
پلاستیکی لوښي	• **اسانه کو ته کول** • بیا بیا استعمال • اسانه پاکول	• **قیمته وي** • وارد شوی وي • د استعمال څخه وروسته باید واپس شي	• **د کروندی څخه عمده فروش ته انتقال**
بوجی یا جالی ګانی	• ارزانه • موجود • د کچالو او پیازو لپاره ډیر ښه	• **د تخریب څخه نه ساتل کیږي**	• **د کروندی څخه عمده فروش ته انتقال**

